Made with Xodo PDF Reader and Editor



دریم چاپ

ناول

# د وینو تږی

لیکوال: محی الدین نواب
ژباړن: عبدالهادي دریځ

Made with Xodo PDF Reader and Editor

# بسم الله الرحمن الرحيم

رحماني کتابتون

د ځوانانو د ذهنونو روزنتون .!

📌 يادونه : په ټليګرام کې رحماني کتابتون

په سرچ سره هم پيدا کولای شئ ملګرو .!

**Rahmani library**

**رحماني کتابتون**

Made with Xodo PDF Reader and Editor

# د وینو تږی

(د چنګېز خان د ژوند داستان)

(ناول)

لیکوال: محی الدین نواب

ژباړن: عبدالهادي دریخ

Scanned with CamScanner

بسم الله الرحمن الرحیم

مازیگر کتاب پلورځی


**کتاب پېژندنه:**

| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | : | د وینو تږی (ناول) |
| لیکوال | : | محی الدین نواب |
| ژباړن | : | عبدالهادي دریخ |
| ډیزاین | : | ثناءالله خواب |
| خپرندوی | : | مازیگر کتاب پلورځی |
| لومړی چاپ | : | ۱۳۸۸ل |
| دریم چاپ | : | ۱۴۰۴ل/۲۰۲۶م |
| د خپرونو لړ | : | (۹۸) |
| د چاپ شمېر | : | ۱۰۰۰ توکه |



د کتاب حقوق خوندي دي



کابل: مازیگر کتاب پلورځی/مینه یار مارکېټ/کوټه سنګي ٠٧٨٣٣٣٣٥٦٦

جلال اباد: مازیگر کتاب پلورځی/ اسحاقزی مارکېټ ٠٧٨٥٩٩٧٧٧٦

Made with Xodo PDF Reader and Editor

## ډالی

ګران پلار ته! چې د ژوند په ډېرو سختو شېبو کې یې هم زما روزنه له پامه نه ده غورځولې او تل یې زده کړې ته هڅولی یم.

**(دریغ)**

Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



# د ژباړن خبرې

تاريخ د تېرو وختونو پېښې بيانوي او اساسي موخه يې دا ده چې موږ ته ترې عبرت راخلو. تاريخ چې د داستان په بڼه وليکل شي؛ نو هم افسانوي خوند پيدا کړي او هم به کې د عبرت درس محفوظ پاتې شي. د تاريخ په پاڼو کې د بې شمېره شخصيتونو نومونه ثبت دي چې له جملې يې يو هم چنګيز خان دی.

چنګيز هغه نوموتی شخصيت دی چې د وحشت او بربريت تاريخ به يې تل تر تله د انسانانو په سينو کې پروت وي. د دغه شخص د ژوند په اړه مې خاص معلومات نه درلودل او نه مې په پښتو کې د ده په هکله کوم غوره تاريخي کتاب ليدلی و، همدا وه چې د دې ناول ژباړې ته مې ملا وتړله او دغه کار مې د مينې لپاره په ډېره مينه پيل کړ.

د مينې (مجلې) په څو پرله پسې ګڼو کې خپرېدو او د مينوالو د تندې ماتېدو تلوسه زياته وه؛ نو ما ته هم د داستان ژباړې مزه راکړه. ما ويل له يوې خوا به په پښتو کې د تاريخي ناولونو د لوستونکو ذوق خړوب شي او له بلې خوا به زما د ادبي ژوند دويمه تجربه شي.

ما هڅه کړې چې تاسې په لوستو کې د کوم نامطلوب مفهوم سره مخامخ نه شئ او هر څه درته په ساده ژبه وړاندې کړم؛ خو د انسان کار له نيمګړتياو خالي نه وي، هيله ده په راتلونکي کې زما لاسنيوی وکړئ او خپلو تېروتنو ته مې خبر کړئ.

**په درنښت**

**عبدالهادي دريځ**



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## یادښت

هغه د انسانیت لپاره د عذاب په څېر رانازل شو، د زېږېدنې پر مهال د تموچین موټی بند او له وینو ډک و، هغه په راتلونکې کې په خپل وحشت، بربریت او خونړیتوب د ډېرو انسانانو خولې بندې کړې او ډېر هېوادونه یې لاندې کړل. هغه به چې هر ځای ته ورغی د انسانانو د کوپړیو ځلې به یې د یادګار په توګه پرېښودل، د هغه په سینه کې زړه نه بلکې تېږه وه چې دې به یې تل د . نویو سیمو او هېوادونو فتح کولو او د هغه ځای د خلکو له تېغه تېرولو ته هڅاوه.

هغه د ځمکو لاندې کولو په مرض اخته و، د بېکال له جهیل څخه نیولې تر مرکزي اسیا او عربستان پورې د خپل بري د جنډې رپوونکی تموچین فقط په یو ځای کې له ماتې سره مخ شو، ده دغه ماتې د خپل زوی له لاسه چې شاید د ده خپله وینه هم نه وه د یو ښځې په خاطر وخوړه.

دا کیسه د تاریخ له خونړیو حقایقو، زړو پېښو او واقعاتو څخه هنرمند لیکوال محی الدین نواب د خپلو لوستونکو لپاره ځانګړې او په زړه پورې ډالۍ ده.

**د سسپنس ډایجسټ اداره**

**فبروري ۲۰۰۷**



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor

زما ګرانه وروره او ګرانې خورې ! 💐

منم چې ته د کتاب مینوال / مینواله یې .!

ایا په خپل چاپیریال کې مو ملګري ، کورنۍ ، ګاونډیان هم مطالعه کوي ؟
که مو ځواب هو وي خو ډېر ښه خپل مسؤلیت مو په په سمه توګه ادا کړی
او سل ځله دې در باندې آفرین وې ، خو که دغه کیسه برعکس وې او ستا
ملګري ، کورنۍ ، ګاونډیان او داسې نور ، په مطالعه نوې روږدې نو زما په
نظر ته خود خوا او مجرم یې .!

ځکه چې تا د کتاب لوستلو خوند څکلی ، نو تا باید نور خلک هم د کتاب
له دې نا آشنا خوند سره بلد کړې وای ، نو راشه اوس هم نده نا وخته راشه
اوس یو ځای کتاب لوستلو ته خلک وهڅوو .!
تر څو آینده نسل مو تعلیم یافته او د نړۍ سیال وې .!

د سرلوړې اباد او سوکاله افغانستان په هیله .!

په درنښت | د رحماني کتابتون اداره 📚

د رحماني کتابتون سره د یو ځای کیدو لپاره له انټرنیټ
سره وصل شئ ،او بیا په دغه لاندې [ Join ] بټنه
باندې کلیک وکړئ .!

JOIN

# د دښتې لېوه

دا د نړۍ یوه واورینه سیمه وه، ونې، بوټې، کاڼي، غرونه او نور هر څه به واورین ټغر پوښلي شوي وو، داسې معلومېده لکه ځمکې چې د کفن ټوټه اغوستې وي، وحشي قبیلې به په همدې موسم کې جنوبي سیمو ته راتلې په دغو سیمو کې د ځکلو پاکې اوبه او څناورو لپاره ښه پرېمانه ځړ خایونه وو، په یادو سیمو کې به دغه وحشي خلکو ته د ګېډو ډکولو لپاره هوسۍ، غرڅې او نور غټ او واړه ژوي پیدا کېدل، د خوراک لپاره یې د جنوبي او ختیځو سیمو کرل شوو ځمکو باندې هم بریدونه کول، همدارنګه په متمدنو سیمو کې به یې چورچپاو کاوه، د خلکو اهلي ژوي به یې له تېغه تېرول او له غوښو څخه به یې خپلې ګاډۍ ډکولې او بېرته خپلو سیمو ته ستنېدل.

دغو واورینو سیمو کې پراته وحشي قبایل مغل وو، د دغه قبایلو څنې هره قبیله به حتماً د کوم زړور، جنګیالي سردار تابع وه، په همدغه قبایلو کې د یوې قبیلې سردار یسو کایي نومیده چې ډېر زړور، خونړی او وحشي و، له وهمه یې د نورو ټولو قبیلو سرداران وېرېدل او پر ځړ ځایونو یې هېڅ د برید جرات نه شو کولای.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



یسو کایي به لرې، لرې سیمو ته د ښکار او د دښمن مقابلې ته په اس سپور تللو. د دښمن سره له جګړې وروسته به یې د بریې په صورت کې د دښمن اسونو ته د ازغو خوراک او ښکلو ښځو ته د ګلونو ګېډۍ دالی کولې.

د جنګ په ډګر کې به چې تر څو جګړه روانه وه، دی به له اسه نه راکوزېده، که څوب به پرې غلبه وکړه؛ نو په ناسته به یې د زین له پاسه سترګې پټې کړې، دغه جنګیالي خپل نیم ژوند د اس پر زین تېر کړی دی.

د یوې بلې قبیلې سردار تورغاتایي نومېده چې په زړورتیا او مېړانه کې له یسو کایي کم نه و؛ خو د سرتېرو او تابعدارانو شمېر یې کم وه.څکه یې هیڅکله د یسوکایي په وړاندې د جنګېدو جرئت نه وکړی.

یوه ورځ یسو کایي د خپل استازي له لارې تورغاتایي ته دا پیغام ورولېږه: (تورغاتایي! ته پوهېږې چې موږ زیات ژوي لرو او له تا سره د ښځو بازار ښه ډک او ګرم دی، اوربدلې مې دي چې ستا خور اولن ډېره ښکلې او زما لپاره پیغله شوې ده. زه غواړم چې خور دې زما د وړو مور شي).

تور غاتایي د دغه پیغام په ځواب کې ورته ووېل: (زه هم غواړم چې موږ سره دوستي وکړو. کینه او عداوت له منځه یوسو ته پوهېږې چې زما خور یوه خلانده مرغلره ده. که ته غواړې هغه خپله کړې؛ نو د اونان د سبند خم خای موږ ته راکړه دا ډول به زه ستا ضرورت پوره کړم او ته زما).

د دې په ځواب کې یسو کایي پیغام دا و چې: (موږ پردو ته دوه څیزه نه ورکوو، یو ښځه او بل ځمکه زه ستا د خور په بدل کې یوازې مېږې او وزې درکولی شم او بس).



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



تورغاتايي هم بل خواب ورکړ: (موږ د ښه ځرخايونو په لټه کې په سخته يخنۍ کې تر لرې، لرې مزلونه وهو. موږ ستا ځارويو ته نه بلکې ځرځايونو ته ضرورت لرو، که زموږ ضرورت دې پوره کړ؛ نو خپله خور به مې درکړم که نه نو د کوم بل سردار د کور به شي).

يسو کايي په وروستی خواب کې ورته ووېل: (ستا ماغزه سر ته ختلي، هغه شی چې زما زړه پرې ورغلی ته يې د بل غېږ ته غورځولو خبره کوې ولې خپل مرگ غواړې؟ هغه زما امانت دی، سم يې وساته، يوه ورځ به يې په خپله راوستو لپاره درشم).

د استازي له تگ څخه وروسته تور غاتايي ووېل (اوهوهو! دلته به راشي، زما خور به يوسي او زه به يې ژوندی پرېږدم).

تور غاتايي دا هر څه د زړه له کومې ويل، ځکه چې ځان يې له يسو کايي ټيټ يا کمزوری نه باله؛ خو تشويش يې دا و چې هسې نه هغه وحشي پرې ناڅاپه حمله وکړي او خور يې ترې يوسي.

همدغه فکر يې خوب تښتولی و او احتياطي تدابير يې هم زيات کړي وو.

د دغه ټولو وحشي قبيلو خلک ډېر بې باکه او سخت زړي وو د نړۍ هېڅ طاقت نه و توانېدلی، چې دوی لاندې کړي دغه خلک له هېڅ نه وېرېدل مگر له ليدلي او ناليدلي اسماني طاقتونو يې وېره درلوده.

که برېښنا به وځلېده؛ نو په ځنگلو او غارونو به ورننوتل، که باد به ولگېده؛ نو په سجدو به پرېوتل. دا به يې د اسمان غوسه گڼله. دغه مغلو عقيده درلوده چې اسمان يې خدای دی.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



دغه خلک به چې پر دښمن بر شول؛ نو د بندیانو او سپینو اسونو سرونه به یې قلم کړل دا کار یې قرباني وه. دغه قرباني یې د اسمان د غوسې د سړېدو او د هغه د رضایت سبب ګڼله. له قرباني څخه وروسته به که چېرې وریځې ورکې شوې او اسمان به وځلېده؛ نو داسې یې ګڼله چې قرباني یې د خدای په نزد قبوله شوه او اسمان پرې خپل رحم وکړ.

تور غاتایي او ځیني نور سرداران په دې عقیده وو چې یسو کایي یوه بلا ده او اسمان ځمکې ته رالېږلې ده. د داسې بلاګانو د ورکولو او د اسمان له غضبه د خان خلاصولو لپاره په دغه قبیلو کې مداریان او جادوګران وو چې شامان به یې ورته وایه. دغه شامانانو د ناروغیو علاج هم کاوه. د دوی په عقیده ناروغی خبیثې ارواوې وې. دغه خبیثې ارواوې به چې بدن ته دننه شوې؛ نو شامانانو به د جادو، منترونو او دعاګانو په زور بېرته ایستلې.

نن تور غاتایي د یسو کایي د ورکولو لپاره یو شامان راغوښتی و هغه لګیا و، جنتر منتر یې کاوه او دعاګانې یې ویلې د مټ سیالي خو حتمي وه؛ خو په داسې وخت جادو هم ضروري و. تورغاتایي تر لرې، لرې خپل سرتېري لېږل تر څو معلومه کړي چې هغه سر زوري به له کوم لورې برید کوي؟

سرتېرو یې تور غاتایي ته تسلیانې ورکولې چې د نظر تر حده د دغې بلا هیڅ نښې هم نشته؛ خو د هغه زړه تسلي نه کوله؟

تورغاتایي خپلو سرتېرو ته ویل (مېده، مېده واوره وربېږي. هر لور ته ګردش دی، تر لرې لیدل سخت دي. هغه وحشي سردار به ناڅاپه حمله کوي).



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



یو سرتېري وویل:(ما لویدیخ لور ته د تېلي په خوکه یو په اس سپور سړی ولیدلو چې د اس پر ملا ناست و. یو لاس کې یې توره وه او په بل لاس باندې یې باز ناست و؛ خو د واورې په گردش کې نه پېژندل کېده).

تورغاتایي وویل:(د دې دښتې د لېوه همدغه نښه ده، د انسانانو او حیواناتو د ښکار پر وخت یو باز د هغه پر لاس ناست وي، دا ځکه چې که دښمن د غره په څوکه وي؛ نو د غشي گوزار نه ور رسېږي؛ خو د هغه باز تر اسمانه الوزي، دښمن ته هیڅ پناه نه پیدا کېږي).

دښمنانو یسو کایي د دغه دښتې لېوه گڼلو. ربښتیا هم د هغه پنځه گوني حسونه د ځناورو په څېر تېز وو، د شپې په تیاره کې یې هم نظر تر لرې لرې کار کاوه، سر به یې چې پر ځمکه کېښود له غوږ نیولو وروسته به یې پوهېده چې د شپې په تیارو کې او د ونو تر شا کس کوم ځناور دی یا وحشي انسان؟ همدارنگه پوهېده چې دغه را روان شخص یو دی او که ډېر؟ چا به د یسو کایي د ښو ترپ هم نه و اورېدلی؛ خو هغه به یې د زړه دروازې هم اورېدلې وې.

**آریان پښتو کتابتون**

د اولون پېغلتوب د ورور لپاره لوی عذاب گرځېدلی و، هغه پوهېده چې که له خوانی ځخه ډکه خزانه کوم خای ته انتقال نه کړي؛ نو هغه لوچک به یې د لوټ د مال په بڼه له ځان سره یوسي دا خبره یې عقل ته راغلې وه چې که کور کې مال نه وي؛ نو غل به څنگه غلا وکړي؟

د څو نورو قبیلو سردارانو هم اولون غوښتله، تورغاتایي ته د مکریت قبیلې سو سردار وویل:( دا کم بخته ښځې چې مور شي؛ نو د سړي سر ورنه نیټ شي).



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



تور غاتابي: (څومره به ښه وای چې د ښځې له ګېډې توله دنیا پیدا شوې وای، فقط خور او لور نه پیدا کېدای. دا ډېر فسادي شی دی، ته همدا سبا راشه او اولون در خپله کړه).

سردار: (د نن سبا ښځه وي او که د پخوا، نر تل له ښځې نه د راتلونکي نسل د پیدا کولو لپاره کار اخیستی دی، سړی کله ښځې ته په غېږ کې ځای ورکوي، کله یې چې زړه وي له خانه یې شړي، خوک یې په بازار کې خرڅوي او څوک یې د ځمکو په خاطر سړي وژني).

اولون لو ته د تیار فصل په څېر تیاره وه، هغه په خپله هم ښه پوهېده چې هر سړی مخکې شي، هغه به دا فصل وربیي. له کله راهیسې یې چې اورېدلې وه چې د ګوبي د صحرا تر ټولو زورور سردار غوښتې ده: نو له ډېرې خوښۍ نه په کالو کې نه ځاییده.

سړی که هر څومره بد قواره، وحشي او ځناور وي ښځه یې مجبوراً خوراک ګرځي. ځکه نو اولون هم د خوراک له وېرې نه ډارېدله هغه په دې خوشاله وه چې که د زورور سردار تر سیورې لاندې وي؛ نو خلک به یې د دې سیمې ملکه وبولي.

کله چې دغه ښاپیرۍ ته معلومه شوه چې ټول څه یې خیالي دي او ورور یې د بل سردار غېږ ته غورځول غواړي؛ نو له اسمانه ځمکې ته را وغورځېده.

دا مهال اولون خپل یورت (خېمې) ته ننوته، پړمخ پر بستره برېوته او په ژړا شوه د ښځو اوښکې هېڅکله په پلار یا ورور او هغه هم چې بیا کوم سر تمبه سردار وي هېڅ اغېز نه کوي، بېچارګۍ له ورور څخه په پټه د یسو کایي لپاره ژړېدله).



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



د دښتو ښځې کمزورې نه وې، هغوی اوښکې نه بهوې، که څوک پرې حمله وکړي؛ نو ښه په نره یې مقابله کوي یا سرې وژني او یا خان که داسې ونشي کړای؛ نو هغه د لوټ مال ګرځي. اولون نه کمزورې وه او نه بې زړه، ډېره زړوره او تکړه وه، سره له دې یې هم د خپل سردار له حکم څخه انکار نه شو کولای.

اولون په ټوله قبیله کې یوه نژدې ملګرې درلوده ملګرې ته یې وویل (موږ ښځې خومره مجبورې یو، د خپل زړه حال هم چا ته نه شو ویلای).

ملګرې یې وویل: (اوربدلي مې دي چې هغه وحشي ډېر ضدي دی، چېرته یې چې خوښه وي همالته اړوي او چې کوم شی یې خوښ شي خپلوي یې، هغه دې ورور ته ګوابښ کړی چې یو ورځ به راځي او تا به له خان سره وړي).

اولون سره ساه وایستله: (اوس به هغه ورځ هېڅکله رانه شي څکه چې سبا ته له لمر ختو نه وړاندې بل څوک ما بوځي).

ملګرې: (ستا عاشق به ضرور خبر وي چې ستا سودا شوې ده، هغه به په دې هم پوه وي چې تر سبا به ته د بل چا شوې یې له دې نه وروسته که هغه را هم شي؛ نو تر څو چې ستا لټه پیلوي او جنګ کوي ته به د بل چا شوې یې).

اولون یې ملګرې ته ورغاړې وته او ویې ویل: (زه هم همدا غواړم چې خپل هر څه دې له هغه قربان کړم)

ملګرې یې په سړه لهجه وویل: (زما او ستا سوچ هېڅ ګټه نه لري، سړي چې څه غواړي اول وي که اخر وي هماغسې کیږي).



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



د ملګرې په دغه خبره اولون ترې رابېله شوه، یوې صندوقچې ته ورغله، صندوقچه یې خلاصه او یو خنجر یې ترې راوویست: (زه به دا خنجر په خپلو جامو کې پټ کړم، که زما د خوبونو له شهزاده څخه پرته بل څوک راغی؛ نو زه به هم له مجبوریته ورسره خم، تر هغې به خپل یسو کایي ته انتظار کوم تر څو چې مې هغه بل خپلې خېمې ته بوځي، زما بدن زما د وحشي (یسو کایي) لپاره دی، که هغه رانغی؛ نو خان به ووژنم؛ خو له خان وژنې مخکې به هغه بل هم ژوندی پرېنږدم چې ما خپلې خېمې ته دننه کړي).

ملګرې یې په حېرانتیا سره پوښتنه وکړه: (ایا ته به داسې وکړای شې، تر اوسه پورې د هېڅ قبیلې کومې انجلۍ دا جرات نه دی کړی، چې نران څه غواړي هماغسې کېږي، موږ د خبرو هېڅ حق نه لرو).

اولون: (څه چې هېڅکله نه وي شوي او وشي؛ نو ټول خلک ورته ګوته په غاښ شي. زه که د نرانو د مزاج خلاف کار وکړم؛ نو هغوی به زیات نه زیات څه وکړي؟ ما به وډبوي نوکان به مې وباسي یا به مې مړه کړي، زه به له دې هر څه وړاندې په خپله خان ختم کړم او کله چې یسو کایي خبر شي چې ما د هغه لپاره خپل ژوند قربان کړی؛ نو تر مرګه به یې په زړه کې ځای ولرم، هرې ښځې ته به چې نږدې کېږي؛ نو زه به یې په مازغو کې چکرې وهم).

د دې قبیلو خېمې د ګنبدو په بڼه وې، لومړی به یې ورله له لرګي نه ډانچه جوړه کړه، بیا به یې په سر ورته د څناورو څرمنې اچولې، لکه په خامو کورونو باندې اچول شوې خته کې چې د کلکوالي لپاره بوس ګډېږي او بیا پرې اچول کېږي دوی به هم دغه څرمنې لومړی په غوړو وازدو کې لمدې کړې بیا به یې شېدې پرې ور واچولې تر څو یخه هوا ور دننه نه شي.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



تور غاتايي او سرتېرو يې توله شپه په خپلو خېمو کې خوب وکړ؛ خو بیا هم اندېښنه ورسره وه چې هسې نه دښمن برې د شپې لخوا برید و نه کړي؛ ځکه نو توله شپه يې د خېمو بهر رڼاګانې بلې پرېښې وې او څو وسله وال کسان په پهره ولاړ وو.

دغه وحشي قبیلوي خلک به چې هر چېرې لاړل؛ نو تر لږې. لږې به يې خېمې نصب کړې، دغه خېمې د انتقال وړ وې او د ګاډيو په وسیله به يې له یو ځای نه بل ته وړلې، دغه ګاډیو به شل فټه لوړوالی او همدومره اوږدوالی درلود.

د ۲۲ یا ۲۴ غوایانو په زور به يې له یو ځایه بل ته انتقالولې، د سفر په وخت کې به يې خېمې د ګاډيو په سر اېښودلې، ښځې او ماشومان به شپه او ورځ په همدې ګاډيو کې وو.

دغه خلکو کوچیانی ژوند درلوده، چېرې به يې چې واړوله؛ نو خېمې به يې له ګاډيو څخه ته راښکته کړې او دغه لوړې، لوړې ګاډی به يې داسې ودرولې چې د یرغلګرو لپاره يې د دېوال کار کاوه، د ګاډیو تر شا به غشي ویشتونکي پټ وو چې د غشو په باران به يې دښمن ته د مخکې تګ مهلت نه ورکاوه.

هغه شپه د یسو کايي د مخنیوي لپاره بشپړ انتظامات نېول شوي وو؛ خو هغه برید و نه کړ، تور غاتايي اندېښنه درلوده چې ضرور به په همدې ورځو کې راځي؛ خو بیا يې هم هیڅ درک معلوم نه شو. .

د ماښام د خړې د خوربدو سره سم د واده زلمی د روښانه مشعلونو په بدرګه سره د ورا راورسېده، شاو د خپلې قبیلې سردار و، د هغه کسانو ډولونه وهل او



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



نڅاوې يې کولې دغه خلک په ساز او سرود نه پوهېدل. بس اپلټې ويل يې سندرې او هاخوا دېخوا توپونه وهل يې نڅا وه.

تور غاتايي د زوم ښه تود هر کلي وکړ. د هغه راوړې ډالۍ يې قبولې کړې، شاو ته يې وويل (ورخه! ته اوس کولای شې چې د اولون خېمې ته ورشې، په متو کې يې راپورته کړې، په اس يې سوره او له ځان سره يې يوسې).

سردار په ډېر فاتحانه انداز د اولون د خېمې په لور روان شو. په همدې وخت کې د اور يوه لمبه راغله چې تير کې بنده وه. تير نېغ په يوه خيمه ولګېده او اور يې بل کړ. نور د واده تولې خوښۍ له خاورو سره سمې شوې. هر سړي خپلهتوره راوخسته. اخوا دېخوا تلل يې پيل کړل چې معلومه کړي دا غشی له کوم لوري راغی په همدې همدې کې دوهم غشی راغی. ورپسې دريېم؛ هر غشی به چې په يوه خېمه ولګېد اور به يې بل کړ. ځای په ځای شويو مشعلونو چې تر کوم ځای پورې رڼا کوله. تر هغې پورې هېڅ يرغلگر نه ښکارېده. له دې اخوا نور تياره خوره وه.

اوس د تور غاتايي سرتېرو هم غشي ورول پيل کړ. د دوی غشي به تر لرې، لرې لاړ خو په تورو تيارو کې به ورک شول. همدې وخت کې څلور په اس سواره کسان راښکاره شول چې توري يې په لاسو کې داسې نيولې تا به ويل همدا اوس ځان له اسه خمکې ته غورځوي.

تور غاتايي د دغه کسانو په ليدو په حيرانۍ سره پوښتنه وکړه. (ايا همدا څلور کسه دي؟)



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



له دې وروسته يې حکم وکړ چې هر لور ته دې غشي وويشتل شي. هغوى به حتما کوم چېرته په تياره کې پټ وي حکم ومنل شو او هر لور ته د غشو باران جوړ شو. رڼاګانې وې، خو تر لرې يې د هېڅا درک نه لګېده.

بل خوا ته اولون له خوښۍ نه په جامو کې نه ځائېده. څېره يې د ګلاب د ګل په څېر غوړېدلې وه. د خلکو غوږونو ته رسېدلې وه چې لرې په تياره کې فقط څلور بريد کوونکي ښکاري. له دې لورې چې کوم غشي اورې هغه تر دغه څلور کسانو نه رسېږي، ځکه چې واټن ډېر لرې دى. په خېمو کې لا هم لمبې بلېدلې. راغلى زلمى سخت ورخطا او حيران و چې څنګه امکان لري بريد کوونکي دې څلور تنه وي؟ يسو کايي به ضرور سره د خپلو سلګونو سرتېرو چېرته پټ وي.

نور غاتايي ووېل: ( لومړى بايد د دغه څلورو مخه ونيسو همدوې مخکې راشي، غشي را اوروي او بېرته په شا شي).

دوى هم د دود له مخې له خپلو ګاډيو څخه کلا جوړه کړې وه چې تر څو د بريد کوونکو مخنيوى وشي، خو اوس ورته له دغه خايه وتل ډېر ضرور وو ځکه چې له دغه خايه د وتلو پرته دا معلومول ناشوني وو چې پوه شي دغه کسان رښتيا هم يواځې څلور دي او که تر شا يې په سلګونو نور ملاتړي هم شته دي.

نور غاتايي حکم وکړ چې پنځوس سواره سرتېري دې په منډه د غشو ورولو لورې ته ورشي، که وتښتي؛ نو ورپسې دې شي.

د نور غاتايي د حکم سره سم پنځوس تنه سواره د تورو او مشعلونو سره د دغه څلور تنو په لورې ورمنډه کړه، د قبيلې د ټولو خلکو سترګې همدوې ته



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



وې په ډېر دقت سره يې ځارل چې وړاندې به څه کېږي؟ نو دغه پنځوس تنه لا د مشعلونو په رڼا کې د يو بل پسې روان وو چې سم دم قيامت پرې رانازل شو.

يسو کايي پرې د شا لخوا بريد وکړ او د خپلو سلګونو سورو ملګرو په ملتيا يې ځان د هغوی سر ته ورساوه، د تور غاتايي سرتېري دغه بريد ته هک پک پاتې وو، دوی د غشو ورولو لپاره په لاسونو کې کمانونه نيولي وو؛ خو په خوب کې يې هم نه وو چې دښمن به پرې د شا لخوا بريد وکړي، کمان خو پرېږده هغوی ته د تورو اوچتولو موقع هم په لاس ورنغله څکه مرګ پرې وار دمخه خپل سيوری غوړولی و. يسو کايي او سرتېرو يې سرونه د ګازرو او موليو په څير غوڅ کړل.

له دې وروسته يسو کايي او ملګرو يې نور پرمختګ هم وکړ او ځانونه يې خېمو ته ورسول، يسو کايي پر يوه خېمه باندې د تور غاتايي بېرغ په ليدو په هماغه لور ورمنډه کړه، شاو چې په خپله هم د خپلې قبيلې سردار و او د مخه هلته توره په لاس ولاړ و .

يسو کايي د سترګو په رپ کې ځان ور ورساوه، له اس نه يې توپ کړ او پر شاو يې بريد وکړ، د دواړو وحشي سردارانو ترمنځ سخته لوبه پيل شوه، د يسو کايي څو ګوزارونو شاو دې ته اړ کړ چې د تېښتې لار پيدا کړي؛ خو د هغه په وړاندې سړی په دغه هنر کې ډېر ماهر و، هغه به چې اخوا دېخوا شو؛ نو يسو کايي به يې مخه ونيوه.

په همدې وخت کې يسو کايي له يوې رسۍ سره له نښتلو وروسته پرمخې وغورځېده، کله يې چې وغوښتل بېرته ودرېږي.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



دښمن سردار یې سرته راورسېد چې توره یې په لاس وه او ګوزار کولو ته یې خان چمتو کړی و، په دغه حالت کې مرګ حتمي وي؛ خو شاید چې د یسو کایي اجل لا نه و راغلی دښمن سردار پرې د ګوزار کولو لپاره توره پورته کړې وه چې د شا لخوا څخه پرې ناڅاپي ګوزار وشو او پر یسو کایي د ګوزار کولو فرصت په لاس ورنغی، پر څېره یې د کرختوالي اثار راښکاره شول او له ستوني یې بغارې راووتې، اولون د شا له خوا نه راغلې وه، لومړۍ یې د هغه په ملا کې خنجر خښ کړ او بیا یې په ډېرې چټکۍ سره همدغه خنجر راوویست او پر څټ یې ورته داسې خښ کړ چې د خنجر نوکه د سردار له ستوني څخه ووته.

اوس یسو کایي خان را پورته کړی و؛ خو په ډېرې حېرانۍ او سوالیه نظر سره یې دغه ښکلې نازنینې ته کتل، پېغلې په وینو ککړ خنجر یو خوا ګوزار کړ، خپلې زلفې یې خورې کړې او خپل محبوب ته یې وویل: (زه ستا هغه امانت یم اولون).

یسو کایي نور له خوښۍ په جامو کې نه ځایېدو، له خولې یې ناڅاپه ووتل: (په جاوداني اسمان مې دې قسم وي چې فقط او فقط ته زما د شان سره سمه یې زما په متو کې بواځې ته ځایېدلی شې).

له دې سره سم یې اولون په غېږ کې راپورته کړه د ماتې او برې فېصله شوې وه، یې شمېره دښمنان مړه شوې وو، څه چې بچ وو هغوی هم د تېښتې لاره نېولې وه، وروسته معلومه شوه چې تور غاتايي هم د خپل ژوند ژغورلو په خاطر له هغه ځایه تښتېدلی. یسو کایي په داسې حال کې چې اولون یې په غېږ کې راپورته کړې وه او د نور غاتايي د خېمې په لور روان و؛ خپلو سرتېرو ته وویل (تول غله خپله کړئ او ژوي وشمېرئ، تر سهاره وېش



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



اوسي، زه به د تور غاتايي په يورت کې د هغه د خور سره د واده اوله شپه ولمانځم).

د واده د شپې د لمانځلو له اعلان وروسته هغه په ډېر فاتحانه انداز سره خېمې ته ننوت.

مغل قوم ټول تال زر کورني وې دغه ټول مغل په غټو او وړو قبيلو باندې ويشل شوي وو. د دوی له ډلې ځينې کورني د چين په جنوب ختيځ کې له ابادېدو وروسته يو څه متمدني شوې وې، زياتره کورني لا هم له خپلې خاورې سره د بې کچې ميني درلودلو له کبله په صحرا کې پاتې وې. دوی د صحرا د دغه وحشي ژوند په مستی کې ډوب وو. په همدغه مستی کې به د يسو کايي په شان وحشي خناور بې شمېره خلک د مرگ کندو ته غورځول؛ خو بيا هم دغه وحشيان په ذاتي مسايلو کې ډېر مينه ناک او خپل مسووليتونه به يې په ډېر ښه ډول سره سرته رسول.

اولون په اول ديدن کې د خپلې مينې او زړورتيا له کبله د يسو کايي زړه وړی و. هغه د زړه له کومې پرې مئين شوی و. له خپلو خاصو سردارانو څخه يې پر اولون زيات باور درلود. د هغې هر جابزه او نا جابزه خبره به يې منله. د خان او خپلې قبيلې په هکله يې ورته ويل چې د ده پلار نيکونه د يورجي گون په نامه يادېدل. هغوی دومره کلک او زړور خلک وو چې د تورې شرنگ به يې تل د يو او بل غره منځ کې کړنگېده. له تورو يې برښناوې بادېدلې. لاسونه يې د زمري د پنجو په څېر کلک وو. د دښمنانو ملاوې به يې داسې ماتولې لکه سرې چې يوه ونه له بېخه راوباسي. هغوی به په سخته يخنی کې غټې غټې ونې پرې کولې. له لرگيو به يې اور بلاوه.او د همدغه لرگو په منځ کې به ويده کېدل.. . که پر جسمونو به يې هر څومره سکروټې



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



غورځېدلي، هغوی به داسې ګڼله لکه د ژوند تېرولو لپاره چې ساه اخلي. یسو کایي د خپل پلار نیکونو کیسې اولون ته د دې لپاره اورولې چې په راتلونکې کې د مور او نیا جوړېدلو نه وروسته یورګي جون کورنۍ سینه په سینه خوندي وساتي. څو میاشتې وروسته اولون زیری ورکړ چې نوی مېلمه یې را روان دی په دغه خلکو کې به خوښي وه که غم، په دواړو حالاتو کې به یې جادوګران او پادوګران چې شامان به یې باله راغوښته، د کومې ناروغۍ یا د وبا په صورت کې د ډول وهلو سره به یې منترونه ویل، په نڅا سره به یې مسلطې شوې بلاګانې تښتېدو ته اړ کولې، که د کوم سردار اولاد به پیدا کېده؛ نو د پیدا کېدونکي ماشوم د نېکمرغۍ یا بدمرغۍ په هکله به یې له تلوسې ډکې خبرې کولې.

په هغه شپه چې اولون ماشوم زېږاوه، اسمان له بې شمېره ستورو ډک و خو موسم ناڅاپه بدل شو. کله چې دردونه پیل شول؛ نو د برښنا پرقهاری شو، یوه ډېره تجربه کاره ښځه خېمې ته ورننوتې وه، یسو کایي دباندې له نورو سردارانو سره یو ځای شراب څښل او په چغو چغو یې ویل زوی به کېږي زوی.

له خېمې به چې د اولون چیغې راوو تې؛ نو له اسمانه راغلې برښناوې به هر لور ته داسې خورې شوې لکه دا پیغام یې له ځان سره راوړی وي چې (خبر اوسئ خبر، کوم قیامت راروان دی، پر خمکه کوم عذاب نازلېدونکی دی).

هسې هم دغه صحرایي خلکو دا عقیده درلوده چې د وریځو باران او برښناو په ذریعه اسمان خپله غوسه ښیي او قهر نازلوي، دلته هم هر چا ګڼله چې کومه غېر معمولي خبره به پېښېږي.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



انتظار و چې هېڅ پای یې نه درلود، ماشوم و چې دنیا ته یې هېڅ د راتلو نوم نه اخیسته، پخوانی متل دی چې د صبر مېوه خوږه ده، خو دغه ځای کې ګرېږ ښکارېده، له راتګ نه وړاندې یې باراني موسم فضا هیبت ناکه ګرځولې وه، کله چې نری نری باران پیل شو؛ نو د اولون په چغې سره د ښځو له خوښی ډک غږونه پورته شول: پیدا شو! راغی! زموږ وړوکی سردار راغی!

یسو کایي له ډېرې خوښی نه راپورته شو، سره له دې چې د شرابو پیاله یې په لاس کې نیولې وه، په نڅا یې پیل وکړ، نورو سردارانو هم په ګډا ګډا مبارکي ویل پیل کړل، دایه (قابله) چې بهر راووته ویې ویل: (یسو کایي باداره! ماشوم تا ته شوی دی، لاسونه او پښې یې پوره دي، ښه صحت مند دی؛ خو یو موټی یې بند دی او همدغه موټی په وینو کې لت پت دی.

دا خبره ډېره حېرانوونکې وه، یسو کایي او نورو سردارانو یو بل ته سره په سوالیه نظرونو وکتل، یو سردار په مسکا سره وویل: (موټی یې خلاص کړئ چې د ځمکو او اسمانونو خزانې خو به یې له ځان سره راوړې نه وي؟)

د ده په خبرو ټولو کټ کټ وخندل، یسو کایي په جدي توګه وویل: (خو موټی یې څنګه په وینو کې لت پت دی؟ غواړم همدا اوس مې خپل بچی وګورم).

نورو سردارانو وویل: (دا ماشوم څه عجیب غریب شان ښکاري، موږ هم غواړو چې ویې ګورو).

اولون په څادر کې رانغاړل شوې وه، یسو کایي سره د خپلو سردارانو خېمې ته ور دننه شو او اولون ته یې وویل: ( تا ما ته زوی راکړ، زه به دا ټوله دنیا ستا پښو ته راوړم).



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



يسو کايي خپل زوی لومړی خل په خپلو دواړو لاسو کې راپورته کړ، تنلئ يې ورته ښکل کړ او موټي ته يې له ليدو وروسته وويل: (فقط يو موټی يې بند دی، راځئ چې وګورو چې په موټي کې څه شی شته او که خالي دی؟).

ماشوم يې پر بستره واچاوه او موټی يې ورله خلاص کړ، ټول حاضر کسان ورته هک پک پاتې شول، د ماشوم په موټي کې پر وينو سره د غوښې ټوټه وه، د سردارانو له ډلې يوه وويل: (د دې څه مطلب شو؟).

يو بل سردار وويل: (دا د اسمان له لوري کومه اشاره ده).

زړې دايي وويل: (زه د اويا کالو يم، ما تر اوسه د درې سوه ماشومانو په زيږېدلو کې مرسته کړې ده، په دغه دوران کې مې د ډېرو نويو زيږېدلو ماشومانو موټي بند ليدلي؛ خو هغه به تش وو، دا اول ځل دی چې په وينو ککړه د غوښې ټوټه د دغه ماشوم په موټي کې ګورم).

يسو کايي جادوګران، فالګري او نجوميان راوغوښتل، هغوی ته يې حکم وکړ چې له اسمان سره دې وغږېږي او دا معلومه کړي چې دغه ماشوم له ځان سره وينو کې لت پت غوښينه ټوټه د څه لپاره دې دنيا ته راوړې ده؟.

وينه سرې ته ژوند ورکوي، که وينه حرکت ولري؛ نو ژوند مانا لري او که همدغه وينه لاسونو ته راشي مطلب به يې دا وي چې دا لاسونه د ډېرو ژوندونو او ساه ګانو شکوونکي دي).

يو فالګر وويل: (دا د يسو کايي بادار له وينې پيدا شوی او د مور له ځنې ښځه يې د مغلو د وينو يو موټی له ځان سره راوړی دی، له دې ځايه معلومېږي چې دی به ټول مغل يو موټی او متحد کړي).



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



بو جادوګر وویل: (زه له اسمان سره وغږېدم، ما ته وویل شو چې وینه ژوند دی. همدا وینه ساه ده او همدا وینه زموږ اوبه دانه ده، په واورینو سیمو کې د وینې ګرمي موږ ژوندي ساتي دا وړوکی بادار زموږ د وینو د ګرمولو او زموږ ژوند ته د حرارت ورکولو لپاره راغلی دی).

بو نجومي وویل: (زموږ وړوکی بادار چې کله وسله پورته کول زده کړي؛ نو لاسونه به یې تل په وینو کې لت پت وي، دی به چې هر چېرته ګام ږدي هغه خای کې به د سرو وینو سیلابونه روانیږي، د ده د تورې لاندې چې به هر لښکر راځي؛ نو په سرو وینو به داسې لمبیږي لکه له اسمانه چې پرې د وینو باران وي، د ده په څېر د سرونو غوڅوونکی او قاتل نه له دې وړاندې پیدا شوی او نه به د دنیا تر پایښته پورې پیدا شي).

که څه هم دا خبرې د تعریف او توصیف په ډله کې نه راتلې: خو په اوربدو یې د یسو کایي څېره له خوښی بیرته وغوړېده، زیږېدلی ماشوم د همده د وحشي مزاج سره سم و، نوم یې ورته تموچین کښبود، همدغه تموچین و چې په راتلونکې کې د چنګېز په نوم د تاریخ په پاڼو کې ثبت شو.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



# لومړی قتل

یسو کابي خپل زوی تموجین ته روزنه د یو مهربانه پلار ؛ خو جنګي .وزنه د یو ظالم بادار په توګه ورکړه.

هغه به یې د شپې تر ناوخته خوب ته نه پرېښود او د سبا له راختلو و ندې به یې بېرته ویښولو، د پسرلي ښکلی موسم به و که خزان، سخت بارا به و او که سخته یخني، هغه به یې له خېمې راویست او تر لرې، لرې به یې له خان سره وخغلاوه. لومړی به یې په تش لاس منډه ورکوله، بیا یې تیر و نورې سره د منډې حکم ورته کاوه او بیا یې د تیر، کمان، نیزو، ډال او رو درنو وسلو په لاس منډه وهل پیل کړل.

یسو کابي به پر خپل زوی سخت ګوزارونه وکړل او ورته به یې .ویل: (که خان ساتلی شې؛ نو ساته یې که نه نو همداسې وهل به خورې).



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



تموچين به په اول کې وهل خوړل، په همدې ډول يې د خان ژغورنې لارې چارې هم زده کولې. پلار به يې د گوزار کولو په وخت کې ورته ويل چې پر دښمن باندې د گوزار کولو څخه وړاندې د وهلو د تکليف د صبر او زغملو توان په ځان کې پيدا کول اړينه خبره ده.

کله چې تموچين ديارلس کلن شو، نو پلار يې پرې د اوسپنو گوزارونه کول پيل کړل، له گوزار وروسته به يې زوی ته ويل: (له فولادو سره ډغرې ووهه او په همدې ډول له خان څخه فولاد جوړ کړه، نن ته وهل خورې، سبا چې خوان او غښتلی شې نو ما به وهې، زه چې کله کمزوری او بوډا شم؛ نو د خپل نه ماتېدونکي زوی پر متو او غښتلتيا به وياړم).

يسو کايي نورې ښځې او بچيان هم درلودل؛ خو يواځې تموچين يې تر خپلې شخصي روزنې لاندې نيولی و، دا هم شايد له دې کبله چې د تموچين مور اولون د هغه په زړه او دماغو کې ځای نيولی و، اولون يواځې د قبيلې نه بلکې د يسو کايي د زړه ملکه هم وه.

يسو کايي د ډوډۍ خوړلو لپاره داسې دستور ايښې و چې لومړی به د کور نرانو ډوډۍ وخوړه او ښځې به ورته ناستې وې، وړې ماشومان به يوې خواته ناست وو او په رډو، رډو سترگو به يې خپلو مشرانو ته کتل، له نرانو وروسته به د ښځو وار و. کله به چې ښځې هم له خوراک نه اوزگارې شوې؛ نو وړې ماشومان به پر پاتې شونو ور پرېوتل او د ځناورو په څېر به پرې خپلو کې سره په جنگ شول.

د ماشومانو مېندو او پلرونو به له لرې څخه د دغه جنگ تماشه ليدله. يسو کايي به ويل: (کوم ماشوم چې د خپلې برخې خوراک نه شي شکولی هغه به په دښته کې څه ژوند وکړي).



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



يوه ورځ تموچين له خپل مېرني وروړ سره د سيند پر غاړه ښکار کولو. د ښکار په ترڅ کې يې د ښکار پر سر ترمنځ لانجه پيښه شوه. تموچين سمدستي توره راوويسته او د هغه په سينه کې يې خښ کړه. دا د وينو د تږي لومړی قتل و.

تموچين د ميرني وروړ مور ته ورغی، لاس يې ور وړاندې کړ او ورته يې وويل: (دا وينه وپېژنه، ستا د زوی ده، هغه د ښکار په وخت د ښکار د شکولو په خاطر د جګړې په وخت کې ما وواژه).

پر وينو سور لاس ليدو سره يې د ميرنی مور په بدن کې ساه وچه شوه. کله چې تموچين پيدا کېده هغه په خېمه کې وه او د هغه په موټي کې بنده د غوښې ټوټه يې ليدلې وه. د نجومي وړاندوينه چې ورته ياد شوه؛ نو سر ته يې سوکان ونيول. په کريغو، کريغو يې ژړا پيل کړه او يسو کايي ته يې د تموچين په خلاف فرياد وکړ. يسو کايي يې په خواب کې وويل: (زه څه وکړم خکه وژل شوی مې هم زوی و. وژونکی مې هم زوی دی. بل دا چې د جنګ په ډګر کې چې کمزوري او بې زړه وي هغه به وژل کېږي).

مېرمن يې په ژړا سره وويل: (زما بچی کمزوری نه و؛ خو تا د تموچين په څېر غښتلی او قوي کړی نه و. هغه ته دې هغسې روزنه نه وه ورکړې لکه تموچين ته چې دې ورکړې ده).

يسو کايي: (د دې قبيلې هر ماشوم د تورې د نيولو سره د جنګ او مرګ چلونه زده کوي، زما جنګياليو زما ټولو اولادونو ته د وسلې چلول، ښکار کول او له دښمن سره د جګړې چلونه ورښودلي. که تموچين زما په اولادونو کې تر ټولو قوي او غښتلی دی؛ نو خپلو بچو ته مو ووايئ چې د سورلی په وخت کې دې له هغه څخه خپل اس نه مخکې کوي، د هغه په وړاندې دې



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



په تېز اواز ونه غرېږي، تول دې ورته سرونه ټيټ ساتي؛ نو سرونه به يې سلامت اوسي).

د وژل شوي هلک مور کوچين نومېده، د زوی له خښولو وروسته يې يسو کايي ته وويل: (اجازه راکړه چې يو څو ورځې مې له خپل مور او پلار سره تېرې کړم، د زړه بوج به مې د مور او پلار تر سيورې لاندې يو څه کم شي. يسو کايي ته له اولاد څخه د محروم شوې ښځې په حال باندې رحم راغی او د خپلو سرتېرو عسکرو په ملتيا يې د پلار کور ته ولېږله).

څو ورځې وروسته د واورې وربښت او توپاني ځپې پيل شوې، يسو کايي له زوی نه پوښتنه وکړه (تموچينه! په توپاني هوا کې به اس وځغلوې؟).

تموچين (بابا جانه! ستا هره خبره ما ته د حکم درجه لري او زما لېوالتيا هم راپاروي، زه به درسره ضرور اس وځغلوم).

دواړو خپل اسونه زين او ځانونه په وسلو سنبال کړل، اولون په پرېشاني سره له يسو کايي څخه وپوښتل: (په دې توپاني شپه کې زما زوی چېرته بيايې؟).

يسو کايي: (زما زوی د توپان له ډاره په يورت (خېمه) کې د پټېدلو لپاره نه دی پيدا شوی، نه گورې چې د خپل عمر نه وړاندې څوانېدو ته نژدې دی، زما زوی خو نر څوان دی نر څوان).

تموچين په ډېر وياړ سره خپله سينه وډبوله او خپلې مور ته يې وويل:( زه نر يمه نر، بله دا چې ښځې هېڅکله حق نه لري چې د سړيو په معاملو کې خبرې وکړي).



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



اولون د هغه د اس قیضه ونیوه :(ته لا تر اوسه فقط د دیارلسو کالو یې، چې ځوان شوې؛ نو خلک به درته په خپله نر ځوان وایي، تر اوسه لا ماشوم یې).

یسو کایي: (د دښتې اوسېدونکو ته د عمر له مخې نه د حوصلې له مخې نر ویل کېږي، زما زوی د خان ژغورلو او د دښمن د ختمولو ټولې طریقې زده کړي، د هر ډول وسلې استعمالول یې زده کړي، ته نور څه غواړې؟).

تموچین: (زه چې د کومې بلې قبیلې جلی را وتښتوم؛ نو ایله به مې مور ته د نارینتوب یقین وشي).

په دې خبره پلار او زوی دواړو ښه د زړه له خلاصه وخندل، اولون په ډېرې فکرمندۍ سره ووبل: تاسو ولې نه پوهېږئ؟ د تېرو څو ورځو راهیسې مې دا چپه سترګه رپېږي، زړه مې وبرېږي، اول کوم شامان را وغواړئ تر څو معلومه کړي چې دا کم بخته سترګه مې ولې رپېږي؟.

(نه د دې خای ملکه یې، په خپله شامان راغوښتلی او دغه راز معلوملی شې، اوس مور پرېږده چې لاړ شو).

تموچین په یوې جټکې سره د مور له لاسه د اس قیضه خوشې کړه، اس ته یې ښپه ورکړه او له پلار سره مخ په وړاندې لاړ، اولون پرېشانه وه، له همدې ځایه یې پلار او زوی ته کتل، د واورې له کبله داسې خړه خوره وه چې یې تر ډېر لږ واټن پورې د سترګو لید کار کاوه، هغوی دواړه هم اوس د واورې په خړه کې ور ورک شوي وو.

د صحرا ښځې به هېڅ صورت نه پر خپل مېړه باندې پټکه کولای شي او نه یې هم له کوم ځای ته له تللو څخه ستنولی شي، هر کله چې به یسو کایي او تموچین د اس پر سورلی کوم لرې ځای ته تلل؛ نو د دې دوه خبرو څخه به



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



یوه حتمي وه چې یا به دوی کوم ښکار له خان سره راوړي او یا به په خپله وژل کېږي. د دغه ځای شامانانو او نجومانو جنګیالیو ته ویل چې په راتلونکي کې به څه ورباندې پېښېږي؟ خو ښځې کوم شامان یا نجومي ته اړ نه وې ځکه چې د هغوی په تقدیر همدا یوه خبره لیکلې وه چې د نارینه تر سیورې او رحم لاندې دې اوسي، که سړي یې روغ او بریالي وي؛ نو دوی به هم روغې رمتې وي، که په سړو باندې یې څه وشي دوی به هم ورسره وژل کېدلې او یا به کوم بل نر د خپل ضرورت پوره کولو لپاره له خانه سره بېولې.

اولون یوه توټه په اوبو کې لمده کړه او پر خپلې کینې سترګې یې کېښوده، همدغه سترګه یې سخته ربړېدله. هېڅ د ودرېدلو نوم یې نه اخیست، د دې ترخنګ یې زړه هم سخت درزېده. هېڅ نه پوهېده چې تر کومه به یې سترګه ربړېږي؟ او تر کومه به یې زړه درزېږي؟.

پلار او زوی دواړه د اس پر سورلۍ مخ پر وړاندې روان وو، هغوی پوهېدل چې ځومره واټن یې وهلی و، یسو کایي دنیا لیدلې وه، په تېرو ځلوښتو کلونو کې یې له شماله تر جنوبه او له ختیځه تر لویدیځه د دغه سیمې یو، یو لوېشت ځمکه باندې خپل اس ځغلولی و، هر ځای ته به چې رسېدل؛ نو خپل زوی تموچین ته به یې ویل چې دا کوم ځای دی؟ او څه ډول ځړخایونه د سختو جګړو په پایله کې نیسي؟ کله د ماتې په صورت د تېښتې لار غوره کوي او کله هم ناڅاپه د عذاب او سخت سیلاب په څېر راتازلېږي.

دواړه له اسونو نه راکوز شول او یو خوا ته ودرېدل، یو څه واټن کې دېرې خېمې ښکارېدې، تموچین پوښتنه وکړه: (په دغه ځای کې خو به مو د کومې دښمنې قبیلې وګړي نه اوسي؟).



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



يسو کايي ورته د انکار په ډول سر وخوځاوه: (نه! دا زما زړه ته د راتلونکې ملګرې باتش قبيله ده. هغه به زموږ په ليدو ډېر خوښ شي او موږ په ضرور ستنوي خو)...

هغه د خبرې په نيمه کې له پرېښودلو وروسته د خپمو لور ته وکتل او په زور سوچ کې لاړ. تموچين پوښتنه وکړه (خو؟).

يسو کايي: (دومره وروسته مې له ملګرې سره ګورم؛ خو د ډالۍ کولو لپاره ورته هېڅ نه لرم).

بره اسمان ته يې وکتل. ځينې مرغۍ د خپمو پر لور رواني وې. زوی ته يې وويل: (ليندۍ راوباسه، کومه مرغۍ په نښه کړه. زخمي مرغۍ چې د هغوی د خپمو ترمنځه وغورځېږي، نو همدا به زموږ له لورې د ياتش لپاره ډالۍ وي).

تموچين ليندۍ راوويسته. غشی يې په کې کېښود او په هوا کې يې يوه مرغۍ په نښه کړه. هغه نښه برابره کړې وه چې مرغۍ پر بل غشي ولګېده او د خپمو په منځ کې وغورځېده. دا د حيرانۍ خبره هم وه او د غوسې هم ځکه چې بل چا د دوی پر ښکار ډاکه اچولې وه.

تموچين پلار ته وکتل: (په دې شاوخوا کې ښکاريان اوسي او که دښمنان مو پټ دي).

يسو کايي د انکار په ډول سر وخوځاوه (نه ما وليده چې هغه تير چې مرغۍ برې ولګېده د همدې خپمو له منځه راغلی و. راځه چې دننه ورشو).

تموچين وويل (خو د ډالۍ خبره څنګه شوه؟ ټول مرغان تېښتېدلي، خالي لاس به څنګه ورځو؟).



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



(غم بې مه کوه زه به مې خپله توره یاتش ته ډالی کړم، دا به د هغه لپاره ډېر ویاړ خبره وي، ډېر زیات به پرې خوشاله شي).

دوارو د اس پر سورلی خانونه په چټکی سره تر خبمو ورسول، د سردار یاتش سرتېرو د یسو کایي په لیدو سره سم خپل سرونه ټیټ کړل، له لیندیو راوتلي غشي ښکته او راویستلي توري یې ببرته دننه کړې، سردار یاتش په منډه، منډه د ښه راغلاست لپاره ورغی، یسوکایي چې له اسه راکوز شو؛ نو دواړه لاسونه یې خلاص کړه او یاتش ته یې ټینګه غاړه ورکړه.

سردار وویل: (یاره! دا په دومره توپاني واوره کې دې لار څنګه غلطه کړې؟ او دا بل درسره څوک دی؟).

یسو کایي: (دا زما زوی تموچین دی، راځه بچیه د ده په وړاندې سر ټیټ کړه، یسو کایي او اولاد یې د هېچا په وړاندې سر نه ټیټوي؛ خو د یاتش په وړاندې سر ټیټول ځان لپاره ویاړ ګڼي).

تموچین ور وړاندې شو او سر یې ورته ټیټ کړ، یاتش هم لږ ور وړاندې شو او په غېږ کې یې ونیو: (دې که څه هم له عمره خام ښکاري؛ خو قد یې زموږ هومره دی؟).

یسو کایي: (دا د دیارلسو کالو خو نر ځوان دی څکه چې د هر ډول وسلې چلول یې زده کړي دي، همدا اوس مې غوښتل چې یوه مرغی درته د ډالی په توګه وړاندې کړم، ده غوښتل چې ښه ورته ونیسي، په همدې وخت کې کوم بل غشی راغی او مرغی یې خپل ښکار وګرځوله).

سردار یاتش په قهقهې سره وویل (زه نن ډېر خوشاله یم، پوهېږې چې زما لور نن په لومړي ځل پر غشي ګوزار وکړ او په هوا کې یې مرغه ښکار کړ).



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



یا یې غږ کړ :(بورتایي، بورتایي، چېرته یې؟ دلته راشه د کوم زړور او نه ماتېدونکي سردار نارې به مې چې غږولې. هاغه په خپله ما ته عزت رابښلو لپاره دلته راغلی دی).

د اواز اورېدو سره سم یو وړه غونډې جلی په منډه، منډه راغله. د مېلمنو په وړاندې یې سر ټیټ کړ. یسو کایي یې پر اوږو ورته لاس کېښود (دا خو ډېره وړه ده. ایا همدې مرغی ښکار کړه؟).

سردار یاتش په ډېر ویاړ سره وویل: (دا لا تر اوسه د لسو کالو ده او وینې چې څه ډول مې روزلې ده. کله، کله ترې نښه غلطېږي؛ خو ډېره ذکي ده).

تموچین هغې ته په ډېر شوق سره لیدل. هغه د سرې او سپینې ګوډۍ په څېر ښکارېده. تموچین ته یې زړه ویل چې همدا اوس یې په دواړو متو کې راپورته کړي او ښه کلکه، کلکه یې ښکل کړي).

د هغه په زړه کې د خوانی نفساني خواهشات لا تر اوسه را بیدار شوي نه وو، د جنګ جګړې د روزنې حاصلولو په دوران کې هغه ته هېڅ وخت په لاس نه و ورغلی چې په دې هکله فکر وکړي، د هغې په خپله قبیله کې هم ډېرې ښکلې انجونې وې؛ خو یوې ته یې هم په غلط نظر نه وو کتلي.

دواړه پلار او زوی یو بل یورت (خېمې) ته چې اور په کې بل و ننوتل، اور د بهر له سړې هوا څخه نجات ورکړ. دواړو ډېر سکون احساسولو، سردار یاتش به د کوربه توب په لړۍ کې کله دننه راغی او کله به بهر ووت، د هغه لور بورتایي دننه ورغله مېلمنو ته یې د قهوې غټې، غټې پیالې ډکې کړې او په مسکا سره بېرته راووته.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



پلار یې تموچین ته په غلجکي نظر وکتل: (بچو څه خبره ده؟ داسې ورګورې لکه همدا اوس چې دې تبنتولو ته زړه وي).

تموچین: (زه هم همداسې ګنم، ډېره ښه راباندې لګېږي).

یسو کایي: (د دې خو مطلب شو چې ته د نر او ښځې اړیکو باندې پوهېدو ته نژدې شوی یې؟).

هغه ورته د انکار په ډول سر وخوځاوه: (فقط همدومره پوهېږم چې د سړي چې کومه ښځه خوښه شي؛ نو واده ورسره کوي او له خان سره یې وړي).

(ایا پوهېږې چې ولې یې راولي؟ او یو خای سره څنګه اوسېږي)

هغه ورته بیا د نه لپاره سر وخوځاوه، یسو کایي ترې پوښتنه وکړه (پوهېږې چې ته څه ډول پیدا شوی یې؟).

هغه ورته بیا د انکار په ډول له سر خوځولو نه وروسته وویل: (ما مې یو ځل له مور نه پوښتنه کړې وه، هغه راته په خندا شوه او راته یې وویل چې خوان شې او کومه پېغله خپل یورت (خېمې) ته راوړې؛ نو په خپله به هر څه باندې پوه شې)

یسو کایي: (زما د ملګري لور بورتایي خو دې ولیده، د هغې په لیدو دې زړه څه وایي؟).

تموچین (بس همدا چې هغه لمس کړم، بیا یې په متو کې راګېره کړم، له سینې سره یې ولګوم او کلکه، کلکه یې مچې (ښکل) کړم).

یسو کایي: (بس که نور څه...؟)



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



تموچین: (او زړه مې غواړي چې هغه شپه ورخ له ما سره وي؛ خبرې دې راسره کوي او خاندي دې راته، زه دې هغې ته گورم. هغه ما ته او مینه دې ورسره کوم).

سردار یاتش خېمې ته راننوت چې څو سرتېري هم ورسره وو او په غټو غټو خانکونو (لگنونو) کې یې د خوراک - څښاک اسباب را اخیستي وو. سرتېرو هر څه د هغوی په مخکې کېښودل او بېرته ووتل.

یسوکایي وویل: (دوسته! زه درته خالي لاس راغلی یم. فکر کوم چې څه شی درته ډالی کړم؟ غوښتل مې چې خپله توره درته درکړم. ایا دا به د دې وړ وي چې ته یې قبوله کړې؟).

یاتش په خوښۍ سره وویل: (دا خو زما لپاره د ډېر ویاړ خبره ده. زه به؛ دا توره ځان سره سنبال ساتمه، زما راتلونکي نسلونه به هم په ډېر فخر سره د دې ساتنه کوي او وایي به هغه سړی چې د صحرا لېوه به یې باله او ماتې نه منوونکی و، هغه زموږ د مشر نیکه سردار یاتش ملگری او پر موږ مهربان و).

یسوکایي پوښتنه وکړه: (که له دې زیاته قیمتي تحفه درکړم نو بیا؟).

یاتش په ډېرې بېتابۍ وپوښتل: (هغه قیمتي تحفه څه شی دی؟)

یسو کایي: (زه غواړم چې زوی مې درکړم، قبول به یې کړې؟)

سردار په سوالیه نظر سره تموچین ته وکتل، بیا یې له یسو کایي نه پوښتنه وکړه :(څه ویل غواړې؟).

یسو کایي: (ستا لور بورتایي زما د زوی ډېره خوښه شوه ، زه به هغه خپله لور کړم او ته تموچین زوی وگرځوه).



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



یاتش له خوښۍ نه په ګډا شو: (خو یاره! زما لور ډېره وړه ده، تر اوسه د لسو کالو ده).

یسو کایي: (هېڅ خبره نه ده، واده به پنځه کاله وروسته وکړو، رشته به له همدا اوسه وشي ).

یاتش له خپله ځایه پورته او دواړه لاسونه یې خلاص کړل: (څه ګل خبره دې وکړه؟).

سردار یاتش ورغی او هغه ته یې ټینګه غاړه ورکړه: (تا ما ته دومره عزت راکړ چې له ځمکې دې اسمان ته پورته کړم، له شماله چې تر جنوبه او له ختیځه تر لویدیځه څه قبیلې دي ټول به له ما څخه سوځي).

هغه مېلمنو ته پخه غوښه ور وړاندې کړه او په پیالو کې یې شراب اچول پیل کړل، یوه پیاله یې تموچین ته ونیوله (سر له نن ته زما زوم یې، واخله دا لومړۍ پیاله زما له لاسو وڅښه).

تموچین پلار ته له لیدو وروسته بیا وویل: (نه مې د څه شي خوړلو ته زړه کېږي او نه څښلو ته، پنځه کاله خو ډېر وخت وي، زه له هغې څخه بغېر اوسېدلی نه شم).

یسو کایي یاتش ته وویل: (زما دوسته! دی د نر او ښځې په جسماني اړیکه نه پوهېږي، تراوسه نادان دی، هلکتوب یې ورته وایي چې ستا لور د یوې ښکلې ګوډۍ په څېر ده، دی غواړي چې له سینې سره یې ونیسي او ښکل یې کړي دوسته! زوی ته مې وخت ورکړه، زه درته په یقین سره وایم چې دا معصوم دی، هغه څه چې دی یې غواړي له هغه وړاندې به ستا لور ته هېڅ زیان نه رسوي).



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



یاتش: (زه پرې هیڅ اعتراض نه لرم، خبره شوې ده، دی زما زوم دی خکه نو کولای شي چې زما له لور سره وخت تېر کړي).

له دې وروسته يې بورتايي ته غږ کړ، هغه چې په منډه، منډه راغله؛ نو تموچین ورته له جذبو ډک نظر سره کتل پیل کړل، سردار یاتش وویل: (لورې! دا تموچین ستا کېدونکی سړی (خاوند) دی، ته به خپل ټول راتلونکی ژوند له همده سره تېروې، اوس راشه د ده سره کېنه، په خپلو لاسونو ورباندې شراب وڅکه).

هغه په شرم، شرم او مسکا سره ورسره کېناسته، که څه هم ماشومه وه؛ خو ماشوماني له خپلو مېندو سره د ناستې له کبله ډېر څه یادوي او په ډېر څه پوهېږي، هغې د شرابو پیاله تموچین ته وړاندې کړه، هغه يې په لیدو سره وویل: (ایا زه ستا لاس نیولی شم؟).

یسوکايي په غوسې سره زوی ته له لیدو وروسته وویل: (خره! له ښځې ښځه هېڅکله د هغې خوښه نه پوښتل کېږي، څه چې غواړې ویې کړه، ښځې ته هېڅکله د انکار حق ور نه کړې).

د دې خبرو په اورېدو سره هغه د بورتايي لاسونه ونیول (دا ... دا ډېر پاسته دي، زما لاسونه لړزېږي).

دواړه بوډاګانو ورته کتل، کټ، کټ خندل، تموچین د هغې مخ ښه په شوق سره ښکلولو، د هغه له انداز ښخه معلومېده چې لا ماشوم دی او هغه څه چې کوي يې په ژوره توګه پرې نه پوهېږي؛ خو بورتايي د کم عمرۍ سره، سره بیا هم شرمېده، هغه په دې فکر او ډار کې چې هسې نه تموچین له دې هم وړاندې لاړ شي.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



بورتاییي ته یې مور او نورو زړو ښځو ښودلي وو چې نر څنګه له ښکلولو وروسته وړاندې ځي، که څه هم هغوی ظلم کوي؛ خو مهربانه هم وي، هغوی شپه او ورځ ښځو ته خواږه پیدا کوي او د باندې له خطرناکه واورو څخه یې په خېمه کې ګرمې ساتي.

له دوډۍ خوړلو نه وروسته یسو کایي سردار یاتش ته وویل: (زه به له شپې ختمېدو څخه وړاندې خان خپلې قبیلې ته ورورسوم، که نه نو اولون به زموږ پلار او زوی په هکله له تشویش نه مړه شي).

سردار وویل: (ما خو غوښتل چې درې څلور ورځې ستاسو د کوریتوب شرف حاصل کړم؛ خو اولون د پرېشانی احساس هم راسره شته، دا چې هغې ته د ویلو څخه پرته راغلی یې؛ نو خان باید زر تر زره ورسوئ).

یسو کایي وویل: (خیر که زما نه وي، تر درې څلور ورځو پورې د خپل زوم کوریتوب کولای شې، زه مې خپل زوی همدلته پرېږدم، پرېږده چې یو څو ورځې په خوښۍ او خندا سره د بورتاییي ترخنګ تېرې کړي او پوخ یقین یې راشي چې د همده شوې ده بیا به یې وغواړم).

تموچین ډېر خوشاله و څکه چې د بورتاییي سره د څو ورځو تېرولو موقع په لاس ورغلې وه، یسو کایي له خېمې تر راوتلو وروسته وویل: (زه به دې مور ته ووایم چې تا خان لپاره ناوې خوښه کړې ده، هغه به ډېره خوشاله شي).

سردار یاتش وویل: (که ستا خوښه زما یو څو سرتېري به د ساتونکو په توګه تا تر خپلې قبیلې پورې ورسوي).



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



یسو کایي: (ته خو پوهیږې چې زه هېڅکله ساتونکو ته اړ شوی نه یم، فقط د مټ پر زور باندې باور لرم او بیا دا چې زه له دې څایه د خپلې بلې ښځې کوچین قبیلې ته ځم، هغه د پلار کره ده، غواړم چې له ځان سره یې بوځم).

هغه پر اس له سورېدلو وروسته تموچین ته کتل، بیا یې خپل ملګري ته په خندا وویل: (اولون سخته ډارنه ده. مور چې کله دلته راتلو بیا، بیا یې ویل چې چپه سترګه یې رېبږي څکه نو زه باید زر تر زره ځان ور ورسوم، چې یقین ورکړم د سترګې رپېدل کوم بد زیری نه و).

سرادر یاتش او یو څو سرتېري یې تر یو څه واټنه ورسره لاړل، بیا یې خپل اس ته پونده ورکړه او په تېزۍ سره له سترګو پناه شو. هغه خپله توره سردار یاتش ته ډالۍ کړې وه او د خپل حفاظت لپاره یې د هغه توره راوړې وه، هغه د مټ پر زور او وسلې باندې باور درلود، تر دې وړاندې هم پرې په یو وار څو دښمنانو حملې کړې وې او هغه په یواځې ځان هر یو بېل، بېل له تېغه تېر کړي وو).

هغه هېڅکله هم دې خبرې ته جدي فکر نه و کړی چې مرګ یواځې د غشي او تورې په وسیله نه پېښېږي، د هغې د راتګ نورې دروازې هم شته، کله چې د خسرګنی قبیلې ته ورسېد؛ نو خسر سردار یې ډېر تود هر کلی وکړ.

د هغه ښځه کوچین بهر ته راووتله ویې ویل: (په دلته راتګ سره دې زما عزت زیات کړ، زما مور او پلار ته دې یقین ورکړ چې ستا په ژوند کې یوازې اولون نه بلکې زه هم څه ارزښت لرم).

یسو کایي: (زه د اس له زینه نه کوزېږم، مور باید تر شپې څخه وړاندې ځان خپلې قبیلې ته ورسوو).



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



د هغه خسر سردار وویل: (که ته زموږ یورت ته راشې او موږ ته د کوربتوب موقع رانه کړې؛ نو دا به خپل سپکاوی وګڼو).

هغه له اسه راکوز شو: (سمه ده، زه باید یو څه وخت ستاسو په خیمه کې هم تېر کړم؛ خو زه موږ یم، هېڅ هم نه خورم، ستاسو د زړه ساتلو لپاره یوه پیاله نوش کولی شم).

بسوکایي ورسره خیمې ته ننوت، خوانینې، خسر او نور خپلوان یې تول ورته لاس په نامه ولاړ وو او په ډېرې تابعداری او جذبې سره یې د خپلې خوښی اظهار کاوه.

کوچین یو پټکی راوړ او له شرابو یې ډک کړ، بیا یې هغه ته ورکړ (له ډېرې مودې وروسته زما د لاس شراب څکې، د اولون د لاس شراب دې لکه چې ډېر مستوي؟).

هغه د یو ګوټ تېرولو وروسته وویل: (داسې هېڅ خبره نشته، دا زما مزاج دی، څه مې چې زړه وي هماغسې کوم).

د هغه خسر سردار وویل: (زموږ لور همېشه خپه، خپه وي د خپل زوی ماتم کوي، ستا تموچین هغه وواژه؛ خو افسوس چې موږ یې فریاد هم نه شو کولی).

بسوکایي لاس پورته کړ، بس له دې وړاندې یوه خبره هم ونه کړې، زه د خپل کور او قبیلې په معاملو کې بل هېڅ ته د خبرو کولو اجازه نه ورکوم).

کوچین ته یې وویل: (اسپه دې تیاره کړه، د دې پیالې ختمېدو سره سم دې باید له خان سره بوخم).



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



ټوله پياله يې په يوه ساه وڅکله، هغه له خان سره فکر کړی و چې د پيالې د تښېدو سره سم د تلو لپاره ودرېږي؛ خو ناڅاپه سر يې وګرځېد. داسې ورته ښکاره شوه لکه د لاسونو او پښو څخه يې چې ساه وتو کې وي، هغه د ځان پر زور زيات باور درلود، اوس يې هماغه مټې دومره کمزورې شوې چې پياله ترې وغورځېده.

کوچين او مور او پلار يې ورته په قهقهو خندل، هغه په پټو، پټو سترګو وليدل چې د هغه بد ترين دښمن تورغاتايي د ده د ښځې خواته ودرېد او ويې ويل: (زه په دې خبره ښځې پوه شوی يم چې په غشو او تورو ستا وژل ناشوني دي او هېڅ زورور پر تا بر کېدای نه شي، فقط يو وسله داسې شته چې لوی نه لوی سرزوری د مرګ پر خوب ويده کولای شي او هغه وسله ده ښځه!)

دې خبرې سره سم تورغاتايي له کوچين نه غېږ تاو کړه: (تا زما خور تښتولې وه، زه ستا له ښځې سره لوبې کوم، ودې ليدل چې زما غوندې کمزوري دښمن څنګه د وسلې په توګه د ښځې په استعمالولو ته د مرګ کندې ته وغورځولې او بله دا چې دا ستا ښځه له ما نه راضي هم ده).

کوچين خپلې زلفې د تورغاتايي غاړې ته وغورځولې او بيا يې شونډې سره ونښلولې... د خپل مزاج خلاف د هېڅ خبرې نه زغموونکي د صحرا لېوه به په هره خبره د غضب تر بريده په غوسه کېده، دا وخت هم هغه له ډېرې غوسې نه رپېده؛ خو له لاسونو او پښو يې ساه وتلې وه؛ يواځې وروستی ساه په کې لا هم چلېده.

کوچين وويل:( ستا زوی زما زوی وواژه، ته څه فکر کوې چې يوه مور به دومره ستره صدمه وزغملی شي او ستا په وړاندې به جنګ هم ونه کړي،



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



اوس به ستا زوی وګوري چې زما د زوی مرګ ورته څومره ګران تمامېږي، ته خو لاړې، له تا وروسته به هغه هم رانه ژوندی پاتې نه شي).

یسوکایي غوښتل له خپل ځای نه راپورته شي؛ خو ځای په ځای وغورځېد او بیا هېڅکله ونه توانېد چې راپورته شي، نبض یې ودرېد او د ژوند ډېوه یې د تل لپاره مړه شوه.

د نور غاتایي، کوچین او د قبیلې د خلکو په وړاندې د هغه سړي مړی پروت و د چا په هکله چې ویل کېده هېڅکله به ونه وژل شي، هغوی ټولو په ردو، ردو سترګو ورکتل، غوښتل یې خان باوري کړي چې ایا د دې صحرا لېوه رښتیا هم مړ شوی دی او که نه؟ د یقین کولو لپاره ضروري ده سړی په دې حقیقت پوهوي چې ښځه کولای شي تېره ابره کړي، پولاد ویلي کړي او نه وژونکی سړی په معمولي ګام پورته کولو سره ووژني.

که کوچین د خپل زوی بدل اخیستل نه غوښتلای؛ نو د تورغاتایي په څېر بې زړه دښمن هېڅکله د یسوکایي د وژلو جرات نه شو کولای، همدا ښځه ده چې له خپلې غېږې ټوله نړۍ زېږوي او همدا ښځه ده چې د ټولې دنیا خانه خرابوي.

هغه خپل زوی تموچین د سردار یاتش سره پرېښی و، تموچین د دې له کیله چې څو شپې ورځې به له خپلې ناوې بورتایي سره تېروي ډېر خوشاله و، بله ورځ د یسوکایي یو سخت تبي، تبي ملګري خان د یاتش خېمو ته را ورساوه چې له رسېدو سره سم له اس څخه راوغورځېد، د یاتش څو کسانو هغه سمبال کړ، سردار یاتش ترې پوښتنه وکړه: (څه خبره ده؟ د چا د لاسه په دې بد حال یې؟)



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



سرتېرې په بنده، بنده لهجه وویل (قیامت شو، هر څه تباه شو، کوچین او تورغاتایي زموږ سردار یسو کایې په زهرو وواژه).

په رښتیا هم چې دا یو ډېر لړزوونکي خبر و. د خبر په اورېدو د تموچین مازغو سخته جټکه وخوړه، په بې صبرۍ یې وپوښتل: (د پلار جان مړی مې چېرې دی؟)

سرتېرى: (اوس خو شاید د خپلې مور اولون مړی هم ترلاسه نه کړای شي، تورغاتایي پرون شپه ناوخته د زرګونو وسله والو سرتېرو په ملتیا راغلی و لومړی یې ستا د پلار سر د دې پیغام سره دننه راولېږه: (دی مړ شوی، اوس چې هر څوک د ده وفاداره اوسي؛ نو زموږ په لاسو به وژل کېږي او څوک چې غواړي زموږ وفادار وګرځي؛ نو خان دې له قبیلې وباسي).

بیا یې ساه بنده، بنده شوه او خبرو ته یې دوام ورکړ: (زموږ له نیمایي زیات سرتېري په وسلو سمبال د اس پر سورلی له قبیلې ووتل او د هغوی سره ملګري شول، موږ په شمېر کې ډېر لږ پاتې وو؛ خو بیا مو هم ډېر زړه د خلاصه سیالي وکړه، ستا مور اولون ښه په مېړانه وجنګېده او په پای کې مړه شوه. ای تموچینه! زموږ د بادار جانشینه! له خطر نه ستا خبرول ضروري وو، د همدې په خاطر مې ځان تر دې ځایه راورساوه، جادویي اسمان دې تا وساتي).

په دې خبره سره چپ شو، سترګې یې پټې شوې او څټ یې یو خواته کوږ شو، سردار یاتش خپلو ټولو سرتېرو ته امر وکړ چې ځانونه دې په وسلو سمبال او اسونه تیار کړي، سرتېرو ته ی ویل چې تور غاتایي به ضرور زما د زوم تموچین د له منځه وړلو لپاره دې لور ته هم راځي.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



تموچین وویل: (زه به خپلې قبیلې ته خمه، کبدای شي د پلار مړی مې په لاس رانشي؛ خو د مور مړی به مې ضرور هماغلته وي، زه به د تورغاتایي د قبیلې یو، یو تن، ښځې او ماشومان ټول د له تېغه تېر کړم.

سردار یاتش بیا پر اوږه لاس کېښود او ورته یې وویل: (له جوش نه کار مه اخله، ځان په هوش کړه او په دې ډول له دښمن ځخه غچ واخله، ته خپلې قبیلې ته یواځې نه شي تلای، همدلته به پاتې کېږې، موږ به ټول په ګډه د دښمن پر وړاندې جنګېږو، دلته د هغوی تر ماتولو وروسته به ستا قبیلې ته خو، اوس له صبر او زغم ځخه کار واخله).

سردار یاتش خپلې لور بورتایي ته اشاره وکړه، هغې تموچین له لاسه ونیو او له ځان سره یې اخوا بوته، د هغه مور او پلار وژل شوي وو، سخته صدمه ورته رسېدلې وه، دا وخت یې هم د غچ اخستلو په جوش خپل ځان ته زیان رسولای شو، خام عمر کې په عشق مبتلا شوی شخص یواځې بورتایي په اخوا دېخوا خبرو قابو کولای شو.

سردار یاتش تر دوه ورځو پورې د خپلو وسلوالو سرتېرو په ملتیا تورغاتایي ته سترګې په لار وو؛ خو هغه دې خوا برید رانه وړ، په حقیقت کې تورغاتایي له دې خبر نه و چې تموچین له پلار سره د یاتش قبیلې ته تللی او پلاربې هغه هلته له پرېښودلو وروسته د خسرګنې کره تللی و.

کوچین تورغاتایي ته وویل: (که ځه هم تموچین یواځې د دیارلسو کالو دی؟ خو پلار یې ورته د جنګ ټول تکتیکونه ورښودلي او داړونکی ځناور یې ترې جوړ کړی، ګوره ژوندی پرېښودل یې په کار نه دي).



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



تورغاتايي وويل: (زه ښه پوهېږم چې هغه د مار بچی دی او د پلار په څېر زهرجن کېدای شي، هغه به زر تر زره ختم کړو؛ خو هېڅ درک يې نشته چې چېرته به وي، زموږ کسان يې بېلابېلو قبيلو کې ګوري چې دې وحشي چېرته پناه اخستې ده؟).

سردار ياتش پوهېدو چې دښمن به يې تموچين ضرور لټوي او بوه ورځ به ضرور پرې بريد راوړي، له همدې کبله يې بشپړې تيارياني ونيولې. تموچين که څه هم په ښکاره له بورتايي سره بوخت شوی و؛ خو داخلي خناور يې لا هم غرېده، هغه په مغزو کې بواخې يوې خبرې چکرې وهلې چې د خپل پلار په څېر به د تورغاتايي سر پرې کوي او نږی ته به ښيي چې دی هم په دغه دښته د وينو دريابونه بهولی شي.

د سردار ياتش کسان به په ورو، ورو تولیو کې بېل، بېل شاو خوا تر يو څه واټن پورې تلل او د دې اطمنان حاصلولو وروسته چې د دښمن مخ دې لور ته نه دی اوښتی بېرته راتلل، تموچين سردار ياتش ته وويل: (زه د ښځو په څېر شپه او ورځ په خېمه کې نه شم اوسېدلای، زه بايد دباندې په خلاصه فضا کې د اس سورلي وکړم).

سردار ياتش د خپلو سرتېرو يو ټولي ته وويل: (تاسې ټول له تموچين سره اوسئ او هڅه وکړئ تر ډېر لرې لاړ نه شئ).

تموچين په خلاصه فضا کې د اس د سورلي په بهانه له دې خېمو څخه ډېر لرې ولاړ، د هغه سره د سردار ياتش لس سرتېري مله وو، تر لرې تګ وروسته هغه دغو کسانو ته وويل: (ټول دغلته ودرېږئ او زما خبرو ته غوږ شئ).



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



هغوی ټول ودرېدل، تموچین یو څه لرې ترې دوی ته مخامخ ودرېد او ویناً بې پیل کړه: (زه بېرته ستاسې قبیلې ته نه څم. له همدې څایه زموږ لارې بدلې شوې او تاسې بېرته تلای شئ).

د سرتېرو له ډلې یو وویل:( دا څنګه کېدای شي؟ سردار پر موږ تاکید کړی چې تا دې بېواځې پرېنږدو او ډېره لرې د تګ اجازه بې هم نه ده راکړې).

تموچین: (ما، زما پلار او نیکونو مې هېڅکله هم د کوم کار لپاره له چا اجازه نه ده اخستې که څه هم سردار یاتش مشر سړی او زما خسر دی، همدارنګه زما د پلار نږدې ملګری پاتې شوی، زه د هغه ډېر عزت کوم؛ خو د هغه څخه اجازه نه شم اخستی، زه اوس ګورم چې تاسې مې څنګه را ایساروئ).

لس واړو سورو د خپلو کمچینو په واسطه اسونو ته حرکت ورکړ، هغه ورو، ورو روان او تموچین یې له څلور خواو محاصره کړ، تموچین له پوښ نه توره راوویستله او ویې ویل:(ګورئ! که جګړه کوو؛ نو تورې به چلېږي. که تاسې مې تېې کړئ زه به په خپله مخه څم؛ خو که په تاسې کې یو هم ما ته معمولي زیان ورساوه؛ نو په یاد ولرئ چې زه د سردار یاتش زوم یم، هغه به تاسې یو هم ژوندی پرې نږدي.

هغوی ټول پرېشان شول او یو بل ته یې په سوالیه نظر وکتل: تموچین وویل: (دا محاصره ختمه کړئ او په یو کتار کې ودرېږئ).

څو سرتېرو وویل:( ته هم زموږ بادار یې، موږ په ازمېښت کې مه اچوئ، موږ نه ستا د مخنیوي لپاره توره چلولی شو او نه هم له دې څایه د تګ موقع درکولای شو).



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



بل وویل: (که موږ له پرته قبیلې ته لاړ شو؛ نو سردار به مو هېڅکله ژوندي پرې نږدي).

تموچین: (دا ستاسو مشکل دی؛ خو زما مشکل هم دا دی چې له د دښمن څخه غچ وانه خلم؛ نو هېڅکله به ارامه ساه وانه خلم).

له دې سره سم يې اس ته پښنه ورکړه او مخ پر وړاندې لاړ. سرتېري ورپسې وو، يسو کايي خپل زوی ته یې شمېره چلونه ښودلي وو، په دې کې يې دا هم ورته ښودلي وو چې څه ډول په خان پسې دښمن دوکه او خپله لاره بدله کړي.

هغه اس دومره تېز څغلولو چې کله، کله به د واورې په لړې کې ورک شو، کله به ښکاره شو او بیا به له نظر ورک شو، يو ځل به چې د سترګو له نظره ورک شو؛ نو بیا يې موندل د هغوی لپاره ناشوني وو.

يو دم د سرتېرو له نظره ورک شو، هغوی هرې خواته ولټاوه، غږونه يې ورپسې وکړل؛ خود اس د قدمونو غږونه يې هم نور غلي شول..

هغوی څو شېبې غلي وو چې ناڅاپه يو تير راغی، يو اس پرې ولګېد او راوغورځېد. يو سرتېری له خپل اس څخه محروم شو، نور حېران شول چې تير له کوم لورې راغی؟ ټولو د اس کمچينې واړولې، اخوا دېخوا کتل يې پيل کړل او له ډلې يې يو تن چېغې کړې: (ای باداره! موږ پوه شو چې ته موږ نه وژنې ځکه چې موږ د سردار یاتش کسان یو او بیا ستا دښمنان هم نه یو؛ خو ته به زموږ د اسونو په وژلو غواړې موږ پلي کړې چې تا تعقیب نه کړو).

بل سرتېري وويل: (ته زموږ اسونه مه وژنه، موږ به هېڅکله ونه کړای شو چې دې واورو کې خان تر خپلې قبيلې ورسوو).



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



دریېم وویل: (دا فیصله خو وشوه چې موږ به تا نه خاروو، موږ ټول ستا د خوښې تابع یو. که موږ ته لږ وخت راکړې، غواړو یو څه ووایو).

هغوی ټول سره نږدې راټول شول او مشوره یې پیل کړه چې څه وکړي؟ هغوی یو څه داده وو چې بل تیر به نه راځي لږه شیبه وروسته یې له ډلې یوه په لوړ غږ سره وویل: (ای تموچین باداره! موږ ټول په ګډه دې پرېکړې ته ورسېدو چې له همدې شیبې به ستا د امر تابع کېږو او له تاسره به ځو).

له لړې نه د تموچین غږ راووت: (زه څنګه باور کولای شم چې تاسو زما تابع کېږئ، له ما سره به د لارې ملګري ګرځئ؟ او زما به خاطر به خپل بادار پرېږدئ؟)

په څواب کې یې وویل شو:(موږ خپل بادار سردار یاتش نه پرېږدو بلکې د هغه د راتلونکي زوم ژغورنې لپاره له هغه سره تلل غواړو).

بوه بل سرتېري وویل: (تاسې خو زموږ پر مجبوری پوهېدلای شئ... که څېرې موږ ستاسې څخه پرته لاړ شو؛ نو سردار به مو په هېڅ صورت کې ژوندي پرېنږدي، که ستا ساتنه مو وکړه؛ نو هغه به زموږ قدر وکړي او له موږ څخه به خوشاله اوسي).

تموچین وویل: (ښه خبره ده، زه به دریاندې دومره باور وکړم چې له تاسې یو څه وړاندې روان اوسم، تاسې ټول به ما پسې راځئ، یو به هم په دوو کې سره واټن نه کموي، تر هغې مې چې پر تاسو یقین پوخ شوی نه وي یو به هم مخکې راتګ ته پرېنږدم).

د دې خبرې کولو په وخت کې دی هغوی ته په یو څه واټن کې ښکاره شو، هغه وویل: د دې واټن حساب ونیسئ او کم یې نه کړئ، هغه دوه ملګري مو



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



چې پیدل شوي هغوی هم درسره کېښنوئ، وړاندې به له کومې قبیلې څخه اسونه ترلاسه کړو.

اس ته له پښې ورکولو وروسته په تېزۍ سره مخ پر وړاندې رهی شو. هغوی ټول هم په همدغه چټکتیا ورپسې روان شول. د سردار یاتش ټول سواره سرتېري به د ماښام د تیارې له خوربدو وړاندې بېرته راتلل. نوره شپه به یې قبیلې څخه یو څه لرې مشعلونه په لاس پهرې کولې.

کله چې شپه شوه او تموچین او هغه لس سواره بېرته راستانه نه شول؛ نو سردار یاتش په تشویش کې شو پوښتنه یې وکړه: (دا چېرې ورک شول؟ نه تموچین راغی او نه یې سواره ساتونکي راغلل؟)

د هغوی یو په فکر او خیال کې هم نه راتلل چې تموچین به له هغوی لسو سورو سره وتښتي. د هغوی د نه راتګ سبب یې همدا ګاڼه چې هغوی دښمن ته په لاس ورغلي او د مرګ انجام ته یې رسولي، دا مهال د شپې په تیاره او د واورې په ورښت کې هغوی یې د لټون لپاره نه شو وتلای. د تور غاتایي له لورې دا خطر و چې د شپې لخوا ناڅاپي برید ونه کړي).

سبا تور غاتایي د دوی له قبیلې نه یو څه لرې د خپلو سلګونو سرتېرو په ملتیا رابرسېره شو. د هغه یو استازي سردار یاتش ته پیغام راوړ:( زموږ د زړور او تر ټولو پیاوړي سردار تورغاتایي پیغام دی چې موږ له تاسي سره هېڅ ډول کینه او عداوت نه لرو. فقط دومره درته وایو که چېرې د یسوکایي زوی تموچین مو دلته پټ کړی وي؛ نو موږ ته یې راوسپارئ. موږ فقط د هغه د سر له قلمولو وروسته بېرته ځو، په دې ډول به د یو کس وینه هم تویه نه شي).



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



سردار یاتش هم هسې چټي وینه توېدل نه غوښتل ځکه نو په خواب کې یې ور ولېږل: (د یسوکایي زوی تموچین له موږ سره نشته، ته د خپلې تسلی لپاره کولای شې خپل ځینې سرتېري زموږ قبیلې ته راولېږې، هغوی دې هغه دلته په یوه، یوه خیمه کې ولټوي؛ خو بیا به هم زموږ همدا ځواب وي چې هغه دلته نشته).

تورغاتایي خپل دوه سرداران او یو څو سرتېري د هغه قبیلې ته ور ولېږل، هغه له خپلو سلګونو سرتېرو سره راغلی و؛ خو لیدل یې چې د یاتش سره د سرتېرو هیڅ کمې نشته، د همدې لپاره یې له جګړې ځخه ډډه کوله او بل دا چې هغه یواځې تموچین ته ضرورت درلود.

تر ښه پوره وخت تېرېدو وروسته د هغه سرداران او سرتېري بېرته ستانه شول، د ډلې مشر سردار وویل: (موږ د یوې، یوې خیمې چاڼ وکړ په هر ځای کې چې د پټېدلو امکان و ومو کوت، هلته مو هم پیدا نه کړ، سردار یاتش رښتیا وایي، تموچین دلته نشته).

تورغاتایي د خپل لښکر سره بېرته ستون شو سردار یاتش د اطمنان د ساه له اخستلو نه وروسته وویل: (د دې مطلب دا شو چې زما زوم د دوی لاس ته نه دی ورغلی، عجیبه ده که هغه ژوندی وي؛ نو ولې بېرته نه راستنېږي؟ یواځې هغه نه لس سرتېري مو هم ورسره ورک دي اخر دا څه معما ده؟).

تموچین د خپلو لس سورو ملګرو سره توله شپه اسونه وځغلول او بیا یې سهار وختي د خپلې مېرنی مور قبیلې ته ځان ورساوه، د دغه قبیلې دننه او دباندې خاموشي غوندې وه، یواځې د ګاډیو ځخه د جوړې احاطې دېوال تر شا یو څو وسلوال سرتېري ښکارېدل، نورې تولې ښځې وې).



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



تموچین له ډېرې غوسې نه برېدلو: (زما پلار همدلته وژل شوی دی، زما غچ به له همدې ځایه پیل کېږي).

یو سرتېري وویل: (تموچین باداره ...! تورغاتایي د خپلو وسله والو سرتېرو سره ستا د لټون لپاره تللی دی، دلته زموږ د مخنیوي لپاره فقط د ګوتو په شمېر سرتېري دي، د دوی معامله خو به ورختمه کړو).

تموچین: (لومړی د اور تیرونه ور وروو کله چې اور بل شي؛ نو هلته به ګډ وډې جوړه شي، د خېمو څخه د راوتونکو په لیدو به معلومه کړو چې څومره وسله وال موجود دي؟.

لس واړه سرتېرو یې اور ولګاوه او پر هغوی یې د اور غشي ورول پیل کړل، تیرونه به د احاطې له دېوال څخه تېر شول او دننه په خېمو کې به یې اور بل کړ، د توقع سره سم دننه ګډوډې جوړه شوه، داخلي وسلوال ټول د غشو او لیندیو سره د ګاډیو شاته راغله اندازه ولګېده چې دننه وسلوال کسان له شپېته اویا کسو ډېر نه دي، له دواړو لورو تیرونه ورېدل، د تموچین او ملګرو لپاره یې مېدان خلاص و.

هغوی به اخوا دېخوا اسونه څغلول او په دې ډول به یې د دښمن له بریده ځانونه ساتل؛ خو دننه په دفاع کې واقع دښمن ته د ژغورنې هېڅ لار نه وه، شاته اور بل او په مخ کې یې ګاډې ولاړ وو، که له دې ځایه وتل؛ نو د غشو تر باران لاندې به راتلل.

داخلي بېچارګان د پټو حملو سره، سره بیا هم وژل کېدل، اخر یې خپل غشي او لیندی اخوا وغورځولې او په بغارو، بغارو یې پیل وکړ:(موږ جنګ نه



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



غواړو، چمتو یو چې ستاسې غلامان شو، دلته چې هر څه دي، راشئ او له خان سره یې یوسئ).

تموچین او ملګرو یې له پوښونو څخه توري راوویستې او د اسونو سره قبیلې ته ورننوتل، څه نران یې چې لیدل له تولو یې، سرونه پرې کړل، هغوی د رحم خیرات غوښت؛ خو چا ورته خیرات نه ورکاوه، د یوې خېمې په وړاندې د کوچین مور او پلار ورته لاسونه نیولي وو، سردار چې تموچین ولید نو سمدسي یې وویل: (هو هو... دا خو زموږ لمسی دی، کوچین د ده د پلار ښځه ده، له همدې پلوه دا زموږ لمسی دی، بچیه! که مخکې دې ویلي وو چې ته راځې؛ نو نه به دومره مړي کېدل او نه به اور لګېده، موږ به په خپله ستا هر کلي لپاره در وتلي وو).

تموچین اس ور وړاندې کړ او د تورې په یو وار سره یې د کوچین د مور کار تمام کړ، بیا یې سردار ته وویل: (تا زما د پلار د مرګ تماشه لیدله، اوس دې د ټولې قبیلې د مرګ تماشه ګوره، دا وایه چې لور دې کوچین چېرته ده؟)

هغه وویل: (کوچین هم ستا قبیلې ته تللې، زه رښتیا وایم، ما ستا له پلار سره هېڅ دښمني نه ده کړې، هغه خو زما زوم و؛ نو ما به ورسره څه لپاره دښمني درلوده؟ اصلاً کوچین د خپل زوی د مرګ غچ اخستل غوښتل، تا د هغه زوی وژلی و، هغه د انتقام په اور کې د تورغاتایي سره دوستي وکړه او بیا یې ستا پلار په زهرینو شرابو وواژه، زما هېڅ قصور نشته، تورغاتایي د خپلو وسلوالو سرتېرو په زور زما قبیله قبضه کړې، زما لور کوچین هم د هغه سره ملګرې ده، د همدې لپاره ما د بې وسی نه ستا د پلار د مرګ ننداره ولیدله، د هغه د ژغورلو لپاره مې هېڅ ونه کړای شول).



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



د هغه لس سرتېرو تولې ښځې او ماشومان را وویستل. تموچین په کې کوچین ونه لیدله، د هغې پلار رښتیا ویل چې هغوی دلته نشته، د یسوکایي قبیلې ته تللي.

کوم پراخه او اوږده ځړ خایونه چې د یسوکایي تر ولکې لاندې وو، تورغاتایي د زیاتې مودې راهیسې د هغې د نیولو په فکر کې و، هغه د خپلې خور د ورکولو لپاره پر یسوکایي همدا شرط ایښی و چې د ځړ خای یوه ستره برخه دې ورکړل شي؛ خو یسوکایي نه وه قبوله کړې.

یسوکایي د ده خور اولون مفته وتښتوله، اوس تورغاتایي څوارلس کاله وروسته خپل غچ واخیست، د یسوکایي د بلې ښځې کوچین په ملتیا هغه د یسوکایي په وژلو بریالی شو، د دې برې تر څنګ هغه ته هاغه ځړ خای په لاس ورغلو چې ده یې کلونه وړاندې د خپلولو هیله درلوده.

د کوچین پلار وویل: (هغه ځړ خای اوس د تور غاتایي تر ولکې لاندې دی، تموچینه زویه! ته زما ژوند وبښه زه ستا د سلامتۍ لپاره تا پوهوم چې د هغې ځړ خای په لور لاړ نه شې، تور غاتایي له دې خایه زما په زرګونو سرتېري بوتلل، هغه ستا د پلار نه وروسته د دې دښتې تر ټولو څواکمن سردار شو، ته هېڅکله هم هغه سره د دغرې وهلو کم عقلي ونه کړې).

تموچین یو وار په توره وواهه: (تا زما د پلار ژوند نه و ببښلی، هغه دلته د مېلمه په توګه راغی او ته شیطان وګرځېدې، ستا لور د خپل یار تور غاتایي په ملتیا هغه ختم کړ).

په دوهم وار یې کار ورختم کړ، پاتې ښځو ته یې وویل: (د خپل سردار او د ښځې مړي یې په په ګاډي کې واچوئ او لور کوچین ته یې ورسوئ).



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



د هغه امر ومنل شو، دواړه مړي د غوایي په یوه ګاډي کې واچول شول. تموچین وویل: (کوچین ته زما دا پیغام ورسوئ چې لومړی مې د هغې زوی مړ کړ، بیا مور او بیا یې پلار ... اوس د هغې وار دی).

هغه تولو ښځو ته په کنلو سره وویل: (تاسې تولې کولای شئ چې هلته لاړې شئ، تور غاتایي ته مې هم دا پیغام ورسوئ، هغه چې زما د پلار د کوم خړ خای خوبونه لیدل، د هغې تعبیر یې رښتیا کړ؛ خو دغه سودا به ورته ډېره ګرانه تمامه شي، زه به یې په همدغه خړ خای کې تر ځټ پورې خښوم او خپل ښکاري سپي به پرې ورخوشې کوم).

پر کومه دښمنه قبیله دا د تموچین لومړی برید او لومړی بری و. دلته ورته ډېره غله، څاروي او د سورلی اسونه په لاس ورغله، د دغه توکو تر ولکې لاندې رواستلو وروسته یې تول په ګاډیو کې خای کړل او خپلو ملګرو ته یې وویل (زموږ په ګاډو کې خېمې هم شته، د خوراک څښاک سامان هم شته، موږ به له دې خایه ډېر لرې سفر کوو او په لار کې به وړې، وړې قبیلې تر خپلې ولکې لاندې راولو، له هغې وروسته به ورو، ورو خپل څواک پیاوړی کوو، د کوچین پلار دښمن و؛ خو د مرګ په وخت کې یې یوه مشوره راکړه چې... فعلاً باید د تور غاتایي له طاقت سره ډغره ونه وهم، زه به هم اوس صبر وکړم او بیا به ورسره داسې کار وکړم چې توله دنیا به یې یاد ساتي).

تورغاتایي اوس د یسوکایي د خړ خابونو مالک و او کوچین د دغه تولې سیمې ملکه ګڼل کېده، هغه د خپل زوی د غچ له اخستلو او د مېړه له وژلو وروسته واده وه، د ملکې کېدې همېشنی خوب یې هم د تورغاتایي ترڅنګ پوره شوی و.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



اوس فقط دې خبرې خوروله چې تموچین څنګه ژوندی پاتې شوی دی.
تورغاتایي ورته وویل: (کله چې د یسوکایي په څېر لوی غر مو له منځه یوړ؛ نو د دغه وړې غونډۍ لا څه حیثیت دی؟ زما اسونه به یې په کشولو. کشولو ختم کړي).

کوچین وویل: (دغه د مار بچی کمزوری مه ګڼه، دا عجیب او غریب هلک او د غېر معمولي وړتیاو درلودونکی دی، پلار یې ډېره سخته او قوي روزنه ورکړې ده، دی هم د پلار په څېر کولای شي چې د ځمکي پر سطحه سر کېږدي او معلومه کړي چې را روان کس یو سړی دی، که لښکر، انسان دی او که حیوان. د راروان کس د پښو له ترپهاري دا هم معلوموي چې دوست دی که دښمن او که دښمن وي؛ نو څه ورسره وکړي).

تورغاتایي وویل: (هو ما اورېدلي وو چې په یسوکایي کې دغه فوق العاده وړتیاوې شته).

کوچین: (اوس همدغه غېر معمولي وړتیاوې په تموچین کې شته دي، د ده نظر هم د پلار په څېر د شپې په تیاره کې تر لرې کار کوي، هغه د شپې په تیاره کې د ځناورو په څېر د پوزې کشولو په وسیله معلوموي چې څوک څومره لرې دي، څکه درته وایم چې دی باید ونیسو که نه نو تا به په ټوله صحرا کې څغلوي، په کومه چالاکی سره مو یې چې پلار مړ کړو. همداسې کومه مکاری سره یې د زوی د وژلو تدبیر پیدا کړه).

تورغاتایي د خپلو سلګونو وفادارو سرتېرو په ملتیا تېره شپه ټوله په صحرا کې اخوا دېخوا چکرې ووهلې، په یوه، یوه قبیله کې یې تموچین ولټولو، سبا ولګېده؟) کوچین ترې پوښتنه وکړه: (څه وشو؟ څه درک یې



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



هغه ورته د انکار لپاره سر وخوځاوه :(نه پوهېږم دی به څمکه نوتو او که اسمان وخوړ، له غرب څخه تر شرقه چې څومره قبیلې دي به تولو کې مې وکوت، به هیڅ کې یې د پښو خاپونه هم نشته. فکر کوم چېرته یې ځان غلی کړی دی).

کوچین دواړه لاسونه جوړه پورته کړل: (ای جاوداني اسمانه! پر موږ رحم وکړه او دغه کمبخت مړ کړې).

نورغاتايي: (د څو غرونو به سمڅو کې مې وکوت، به داسې سخته واوره کې څوک له خېمو یا سمڅو څخه پرته به بل ځه کې نه شي پاتې کېدای، هیڅ خای کې نشته؛ نو ضرور به مړ شوی وي).

کوچین ترې کلکه غاړه چاپېره کړه: (ته به دې خبرې سره غواړې زما زړه خوشاله کړې، دا واخله خوله دې خوږه کړم، زه ډېره خوږه غړېږم، زما ژبه ډېره خوږه ده، واخله دا خواږه ترې وڅکه).

هغه چې شونډې ورته به شونډو کې خښولې یو ښځه راغله او ویې ویل: ډېر بد خبر دی، ستا له خایه یوه گاډی راغلې چې ستا د مور او پلار مړي به کې پراته دي.

د دې خبرې به اورېدو سره دواړه رانغ شول او به چټکۍ‌له خېمې څخه راووتل دباندې کوچین ته د خپلې قبیلې ډېرې ښځې او ماشومان به نظر راغلل. یو نر هم به کې نه و، هغه د گاډی خواته راغلل او د مور او پلا مړي یې وکتل بیا یې پوښتنه وکړه (چا وژلي دي ؟).



Scanned with CamScanner

یوې ښځې وویل: (د یسوکایي زوی تموچین زموږ پر قبیلې حمله کړې وه، هغه زموږ د قبیلې ټول نران ووژل او دا پیغام یې راکړ چې لومړی یې ستا زوی وواژه، بیا ستا مور او پلار له دوی وروسته ستا وار دی).

بلې ښځې تورغانایي ته وویل: (هغه تا ته هم پیغام پرېښی چې تا د یسوکایي د کومو خرم خایونو خوبونه لیدل نن یې تعبیر رښتیا شوی؛ خو دغه تعبیر به درنه ډېر گران تمامیږي، هغه به دې هماغلته تر مرې پورې ژوندی ښخوي او یا به ښکاري سپي درباندې در خوشې کوي).

کوچین او تورغانایي یو بل ته په پرېشانی سره وکتل، هغوی د تموچین پر مرگ خوښې لمانځله؛ خو هغه د دوی لپاره د د مرگ د فرښتې په بڼه ژوندی و او دوی یې د دوو مړو په ډالیو گواښلې وو.

تورغانایي پوښتنه وکړه :(ایا هغه د کوم ستر پوخ سره راغلی و؟).

(نه هغه سره یواځې لس کسه وو).

کوچین په حیرانی سره پوښتنه وکړه :(فقط لس کسه! موږ خو هلته له اویاوو زیات کسان پرېښي وو، ولې هغوی یې مقابله ونه کړای شوه؟).

یوې ښځې وویل: (ای ملکې! زموږ حالت خو گورې، هغه زموږ ټول څاروي، خوراکه او اسونه له ځانه سره یوړل، زموږ ټول نران یې ووژل، فقط موږ ښځې یې ژوندۍ پرېښودو).

تورغانایي وویل: (زه هر څه وینمه او گورمه بیا مې هم یقین پرې نه راځي څنگه دا هلک د پلار نه هم ورباندې دی؟ د دیارلس کالو په عمر یې زموږه ماڼرو سر نه راوستل).

Made with Xodo PDF Reader and Editor



کوچین تورغاتایي له مټو ونیو: (څه وکړه هغه په همدې دښته کې دی او دا هم معلومه ده چې له هغه سره کوم ستر پوځ نشته).هغه نن زموږ غله او اسونه بوړل مخکې له دې چې سبا زموږ سرتېري خپل غلامان او خپل پوځ قوي کړي په یو نه یو ډول یې غم وخوره).

تورغاتایي :(زه د پرون شپې راهیسې ویښ یم، توله شپه مې له یوې قبیلې بلې ته منډې وهلې، له پرون راهیسې د اس له زینه راکوز شوی نه یم، اوس چې لږ ځان دمه کړمه بیا به یې په لټه کې ووځم).

هغه خېمې کې څملاست چې لږ خوب وکړي؛ خو د فکر پریشانی او د یو دیارلس کلن هلک له هیبته یې خوب الوتی و. د شرابو پیالې یې سر په سر واړولې، په مدهوشی کې په بستره پرېوت او د غفلت په خوب ویده شو.

تموچین د خپلو لسو سرتېرو سره یو لرې سهیلې سیمې ته سفر وکړ، هلته یې یوه وړه قبیله تر خپلې ولکې لاندې راوسته او د هغه ځای خلک یې د ځان تابع کړل، هغه خپل یو باوري کس د دغه خلکو سردار وټاکه او امر یې وکړ تر څو د چا له خولې څخه د تموچین نوم قدرې هم ونه ووځي او که هر څوک د تموچین په لټه کې راغی ورته ووایي چې نه یې کله د تموچین نوم اورېدلی او نه یې د هغه څېره لیدلې.

له دې وروسته یې پر یوې قبیلې برید راوړ، هلته یې همدغه طریقه خپله کړه، بل باوري کس یې د دغه ځای سردار کړ او تاکید یې وکړ چې که هر څوک راشي؛ نو په دغه لړ کې دې د ناپوهی اظهار وکړي په دغه ډول تقریباً شپږ میاشتې تېرې شوې.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



بل پلو کوچين او تورغاتايي پرېشان وو، چې هغه چېرې غايب شوی دی؟ په کومه قبيله کې به ولې درک نه لګېږي؟ کوچين وېل: (تورغاتايي! زه ګورم چې د دغه هلک په هکله غافل شوی يې. څنګه په دې فکر کې خو نه يې چې بېرته به راګرځي؟).

تورغاتايي: (په همدې نه پوهېږم، شپږ مياشتې تېرې شوې، که هغه په موږ پسې راتلو؛ نو راغلی به وای زموږ سره دومره سرتېري او دومره ډېرې وسلې دي چې هغه به زموږ سره د ډغرې وهلو خيال له ذهنه ويستلی وي او له دې دښتې به يې چېرې لرې اړولې وي).

(تموچين ستا خوش باوري ده، د هغه پلار د دې دښتې لېوه و او زوی يې هم د لېوه له بچي څخه کم نه دی، هغه به ضرور راځي او ضرور به پر موږ بريد کوي).

(نو بيا پرېږده چې راشي، پرېږده چې حمله وکړي ولې پرېشانه کېږې؟ موږ له هيڅ پلوه کمزوري نه يو، شامان به راوغواړم او داسې کار به ورسره وکړم چې بيا به د تللو هيڅ موقع په لاس ورنه شي).

تورغاتايي د دغه اورېده او ستر څرڅای تر ولکې لاندې راوستلو وروسته د هماغه ځای شوی و، په خپل پخواني څرڅای او استوګنځی کې يې اوس هغې څرڅای هم څوک بريد ونه کړي.

په دغه شپږ مياشتو کې د تموچين سره هم د پنځه سوه کسانو پوځ برابر شوی و چې پر مټ يې يوه ورځ په ناڅاپي ډول د تورغاتايي په قبيله بريد راوړ، ډېر سخت جنګ وشو، جګړه له سهاره تر ماښامه روانه وه؛ خو دغه دوه سوه



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



کسانو د دوی په وړاندې تاب رانه وړای شو. له نیمايي زیات مړه شول پاتې کسانو وسله وغورځوله او د دوی د وفادارۍ لپاره یې پر جاوداني اسمان قسم وکړ.

تموچین په خپل پوځ کې د سرتېرو شمېر ورځ تر ورځه زیاتوه خکه نو له برې وروسته یې تسلیم شوي کسان د وژلو پر ځای خپل سرتېري ګرځول. هغوی ته یې د خوراک لپاره غله او د اوسېدو لپاره خېمې ورکړلې، دغه جنګیالي د خېتې ډکولو په خاطر د هر سردار تابع کېدو ته چمتو ول، همدې لپاره د تموچین تابع شول.

هغه د تورغاتایي د ټولو نژدې خپلوانو مړي په ګاډیو کې واچول او هغه ښځو ته چې سرې یې وژل شوي وو امر وکړ چې په ګاډیو کې دې سورې شي او تورغاتایي ته دې ځان ورسوي، زما له لورې ورته دا ډالۍ وړاندې کړئ او ورته ووایئ چې د کوچین مرګ رانژدې دی.

تورغاتایي کوچین ته ویلي وو چې تموچین مایوسه شوی او له دښتې چېرې لرې تللی دی. کله چې د خپلوانو مړي وررورسېدل ټوله خوشالي یې په غم بدله شوه، د مړو راوړونکو ښځو ویل چې هغه له یو درونډ لښکر سره راغلی و، ټول دفاع کوونکي یې ووژل او څوک چې ژوندي پاتې شول هغوی یې وفادار شول، همدارنګه ټولې خېمې یې وسوځولې، اوس په هغه ځای کې د خېمو له ایرو پرته بل هېڅ شی نه دی پاتې.

تورغاتایي نېغ کېناست کوچین خپل سر کلک ونیو(ما نه ویل چې د لېوه بچې به ضرور بېرته راځي، دغه ښځې وایي چې هغه له یو ستر پوځ سره راغلی و، دوی رښتیا وایي هغه کولای شي هر وخت زموږ سره د جګړې ډګر ته راودانګي).



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



تورغاتايي وويل: (نه پوهېږم دا دومره موده چېرته ورک و؟ مور ولې ونه لید؟ شامان او جادوگران خو به یې نه پټوي؟)

که سړی زور ولري پردی ځمکې پرې لاندې کولای شي او که پیسې ولري پلورلی یې شي؛ خو که ناروغي یې د بلا په څېر گېر کړي؛ نو نه یې دولت لرې کولای شي او نه پیسې. د مرض علاج یا په دوا کېږي او یا هم په دعا. په دغه حالاتو تموچین د تورغاتايي او کوچین لپاره د یو بې علاجه ناروغۍ په څېر و، د دغه مرض د لرې کولو یواځیني درمل یا دعا وه او یا هم جادو.

تورغاتايي هم د قبیلې د رواج سره سم شامانان او جادوگران راوغوښتل. جادوگرانو ته یې وویل چې هسک اسمان سره دې وغږېږي او هم دې دوی د تموچین بلا څخه خلاص کړي. جادوگر ته یې حکم وکړ چې هغه دې په کوم مرض اخته کړي یا دې په کومه حادثه واړوي.

تورغاتايي د دې تر څنگ خپل پوځونه هم منظم کړل او د خپلې قبیلې دفاعي دېوالونه یې ورځ تر ورځه قوي کول. خپلو تولو سرتېرو ته یې امر کړی و چې توله شپه دې نمبر په نمبر څوکیداري کوي او که د چا سترگه هم سره ورغله نو مرگ به یې سزا وي.

تموچین په لومړیو کې پټ و، هیڅ درک یې نه لگېده؛ خو کله چې شپږ میاشتې وروسته هغه د تورغاتايي قبیله نیست او نابود کړه؛ نو هر دوه میاشتې وروسته به یې پر یوې بلې قبیلې خونړی برید وکړ. تول سړي به یې ووژل او یواځې هغه ځوانې ښځې به یې ژوندۍ پرېښودې چې د هغه د سرتېرو ضرورت به یې پوره کولای شو او د بچیو رواړلو ورتیا به یې درلودله، پاتې تول زاړه او واړه به یې په ډېره بې دردۍ سره د توري له تېغه تېرول او په



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



همدې ډول به د مړو د برخې غله او د څارویو غوښې هم د ده د کسانو په برخه رسېدې.

میاشتې او کلونه تېر شول، د تموچین وېرې د ډېرو خلکو په زړونو کې ځای نیولی و، هغه قبیلې چې پخوا د تورغاتایي تر اثر لاندې وې، خراج، غله، څاروي او خپلې ښځې به یې ده ته ډالۍ کولې اوس د تموچین تر اثر لاندې راغلې وې.

کوچین یوه ورځ خپل سردادر ته وویل: (تورغاتایي! دا زموږ په حق کې ډېر بد وشول، د ډېرو قبیلو خلک اوس له تا نه وېرېږي، پر ټولو د تموچین وېره سوره ده، ستا کوم سرتېري چې د غلو، څارویو او ښځو پسې ورشي هغوی اوس ژوندي نه راستنېږي).

تورغاتایي: (هغه وحشي نه یواځې یو داړونکی ځناور بلکې غټ چالباز هم دی، د ډېر قوي پلان له مخې زموږ څخه یوه، یوه قبیله اړوي او موږ کمزوري کوي).

کوچین: (که د هغه د مخ پر زیاتېدو طاقت مخه ونه نیول شي؛ نو موږ به ختم کړي او .. زه په دې نه پوهېږم چې هغه له موږ څخه د خپل پلار غچ ولې نه اخلي؟ دوه کاله تېر شول خو هغه موږ داسې له پامه غورځولي یو لکه هېڅ اهمیت چې ونه لرو).

تورغاتایي: (هم موږ اهمیت لرو او هم هغه را څخه غچ اخلي، اوس خو زموږ سره یو څه غله دانه شته چې گوزاره مو پرې وشي؛ خو داسې به تر کومه کېږي؟ په راتلونکې کې باید موږ د خپتو ډکولو لپاره د نورو قبیلو خواته مخ واړوو).



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



تموچین کوم اروابوه نه و؛ خو په دې پوهېده چې څنګه سړی کولای شي د مرګونو او وینو تویولو څخه پرته پر دښمن خپله وېره خوره کړي او ورځ تر ورځ بې پرېشانه، خپه او کمزوری کړي.

د پیدا کېدو سره سم خېټه له سړي څخه اب و دانه غواړي، د دې دښتي اوسېدونکي په کرکیله نه پوهېدل، د دوی نیکونو به د ونو په مېوو او د ځاروېو پر غوښو ګوزاره کوله. یو وخت هغوی د خېټې ډکولو لپاره د جنوب ختیځ لور ته سفر پیل کړی و، د هغه ځای خلک دومره متمدن وو نه یوازې دا چې له ختو او تیږو څخه یې کورونه جوړول او د فصل کرکیله یې یاده وه بلکې له ورېښمو یې ټوکر اوبدل هم زده کړي وو. د دښتې اوسېدونکي به د سلګونو میلو واټن وهلو وروسته دلته راغلل او د ټوکرو او غلو دانو له لوټولو وروسته به بېرته په خپله مخه ولاړل.

د چین شاهانو د دوی د مخنیوي لپاره د چین ستر دېوال جوړ کړی و، د دغه دیوال جوړېدو راهیسې اوس یو ویشت سوه (۲۱۰۰) کاله تېر شوي وو او د همدې دېوال په واسطه د دغو وحشیانو مخه نیول شوې وه.

خو که د چین دېوال وي یا کوم لوړ طبیعي غر د انسان مخه په هېڅ ډول نه شي نیول کېدای، انسان په یو نه یو ډول د ځان لپاره لاره پیدا کوي، وحشیانو اخر د چین د دېوال په لوري یوه لاره وموندله، دغه لاره د شمالي ځنګلو په ډېره تیټه برخه کې د واښو له مېدانو څخه اخوا وه چې لاره یې هم ډېره سخته وه.

دغه وحشیانو باید د خمکې څخه د ترلاسه شوي غلې ترلاسه کولو لپاره د منګولیا له لوړو سطحو څخه نیولې د مرکزي اسیا له سیندونو پورې وتي وای.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



کله به چې دوی د کرغیز له لوړو دښتو د اورال تر لمنو ورسېدل؛ نو له لوټ مار څخه وروسته به یې د خمکې څخه راتوکېدلې غله په نصیب شوه.

تورغاتایي کوچین ته د دغه لارې په هکله لګیا و. کله چې یخني شي؛ نو موږ باید په دغه لور لاړ شو. که څه هم هغه ډېره سخته لار ده. د خمکې څخه د راوتلې غلې د ترلاسه کولو لپاره باید تر میاشتو مزل وکړو کله چې موږ د غلو ترلاسه کولو وروسته بېرته راځو؛ نو تموچین به زموږ ټول ځړ خاېونه قبضه کړې وي.

کوچین :(هغه چې موږ پسې د غچ اخستلو لپاره نه راځي؛ نو ته پرې ولې حمله نه کوې؟ له خپل پوځي قوت سره پر یوه داسې قبیله حمله وکړه چې د تموچین تر اثر لاندې وي کله چې ته د هغه تر اثر لاندې کومه قبیله ولوټې او غلې او څاروي ترې راوړې؛ نو هغه به دې ضرور د مقابلې لپاره راځي).

هغوی په همدې سره سلا شول چې د غلو او څارویو د ترلاسه کولو لپاره به په یوه داسې قبیله حمله کوي چې د تموچین تر اثر لاندې وي، له تورغاتایي سره دولس سوه سرتېري وو، د دوی له ډلې یې زرو ته د تیارسۍ امر وکړ. سبا سهار به هغوی ټول په یوه بله قبیله باندې د حملې کولو لپاره وتل او دوه سوه کسه یې د کوچین او قبیلې د ساتنې لپاره پر خپل ځای پرېښودل.

د پلان له مخې تورغاتایي د خپلو زر سرتېرو په ملتیا روان شو. د هغه له روانېدو یو څه څنډ وروسته ناڅاپه پر کوچین باندې قیامت رانازل شو اول په یوه خېمه کې اور ولګېد. بیا بلې او ورپسې درېیمې خېمې اور واخیست. اور ویشتونکی غشي د دوی په لور راخوشي وو. ښځو او ماشومانو په چغو، چغو اخوا دېخوا منډې وهلې، که څه هم د دفاعي دېوال ساتونکو په مېړانه دفاع کوله؛ خو د تموچین د جنګي تکتیکونو په وړاندې هغوی هم وسلې



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



غورځولو ته اړ شول ځکه چې له تېلو ډکې وړې، وړې خلتې به ګاډیو ته را وغورځول شوې او ورپسې به په غشو وویشتل شوې، په دې ډول به ګاډیو اور واخیست، هر لور ته لمبې بلېدلې. په څو شېبو کې ټولې خېمې د اور په لمبو کې په ایرو بدلې شوې، ګاډي هم د سکرو ډېرې وګرځېدلې. زیاتره مقابله کوونکي ووژل شول، څوک چې بچ ول هغوی هم له تبغه تېر شول، یو، یو یې ووژل شو.

کوچین د سوځېدلو خېمو په منځ کې د سلګونو ښځو سره ولاړه وه، تموچین یې خواله پر اس سپور ورو. ورو راغی او مخې ته یې ودرېد، نورې ټولې ښځې لرې شوې، هغه په حقارت سره ور وکتل، بیا یې لاړې پرې ورتو کړې کوچین تیټ سر غلې ولاړه وه.

تموچین وویل: (زما پلار ته په خپله غېږ کې نیولې وې، تا له یې عزت درکړی و؛ خو ته جادوګره یې، زما پلار دې وخوړ).

بیا یې د کوچین پر بدن د تورې یو غلچکی ګوزار وکړ، د هغې له بدن څخه د وینو دارې پیل شوې. تموچین ورته ووېل: (دا بدن زما د پلار لپاره و؛ خو تا تورغاتایي ته حواله کړ او داسې فکر دې وکړ چې زما د پلار اروا نه وینلې. هسک اسمان پوهېږي چې د هغه اروا د هغه زوی ته داخله شوې او د هغه غچ اخلي).

د هغه دویم ګوزار دومره تېز و چې د کوچین سر پرې له تنې جلا شو او اخوا وغورځېد. له سر پرته تنې اخوا دېخوا منډې رامنډې وهلې، تموچین د تورې تېغ ور واړوه، کله به یې ته او کله سر وواهه تر څو چې توتې، توتې یې کړ.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



بيا يې خپل يو سردار ته حکم وکړ چې د قبيلې ټولې خوانې ښځې دې يو طرف ته کړي، باقي ښځې، ماشومان او بوډاګان دې ووژل شي ځکه چې هيڅ ضرورت ورته نه و..

هغه خبر شوی و چې تورغاتايي پر کومه قبيله د بريد لپاره تللی و، اوس د هغه حساب هم پاتې و، په دې درو کالو کې هغه پنځه زره کسيز غښتلی پوځ برابر کړی و، د پوځ زر سرتېرو ته يې ويل: (دا زما د پلار ځړ ځای دی، له سره يې اباد کړئ او که تورغاتايي دلته راغی؛ نو د ژوندي نيولو هڅه يې وکړئ، زه يې د سرکوبولو لپاره هلته ورځم.).

تورغاتي چې پر کومې قبيلې د بريد کولو لپاره تللی و هغه خلک د تياري مړی په خبر نه وو، بلکې ډېر سخت خلک وختل، تموچين تر خپل اثر لاندې قبيلو کې داسې حفاظتي انتظامات کړي وو چې په اسانی سره چا نه شو کولای لوټ مار ترې وکړي.

تورغاتايي د قبيلې له زړورو جنګياليو سره اوښتی و، تر ماښامه د قبيلې د فصيل (دفاعي دېوال) پر ماتولو هم نه و بريالی شوی ، چې تموچين له شا څخه سره له خپله پوځه را ورسېده، تورغاتايي چې کله د هغه د جنګ نقشه وليده؛ نو هوش يې والوت او په دې خبره ښه پوه شو چې هم به جنګ بايلي او هم به د ژوندځکه نو له جنګ څخه په تېښته شو.

تموچين ورپسې شو:(څه تېښته! منډې وهه! د جنګ ګټلو مزه په همدې کې وي چې دښمن له ماتې خوړلو وروسته منډې وهي او ته دې په تېښته، تېښته ګوزارونه پرې کوې).



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



په منډه کې بې یو تیر گوزار کړ. هغه تیر د تورغاتایي د اس په پښه کې ونښت، اس بیچاره له ډېر تکلیف څخه را وغورځېد، تورغاتایي هم پر ځمکه پرېوت؛ خو بېرته بې خان سم کړ او بیا په منډه شو. بله چاره نه وه، د تموچین لور نه ورغی او په ږېړدا، ږېړدا بې د رحم خیرات غوښتل پیل کړل: (تموچینه! ما وبښه ما مه وژنه، ما ډېر زیات دولت یو خای کې پټ کړی دی، هغه ټول به تا ته درکړم؛ خو فقط یو ځل بیا اخري وار ما ته ژوند راوبښه).

تموچین: (اوس مې دربنلی دی، ځکه خو ژوندی یې، بس منډې وهه، تا زما د پلار ځړ خای تر ولکې لاندې راوستی و، هلته چې ورسېدې د خپلو کړنو سزا به درکړل شي).

هغه تر لږې منډه ووهله خو اخر پر مخې وغورځېد، څو سرتېرې ورپسې وو، تموچین سرتېرو ته ور غږ کړ: (ویې تړئ او په په کشولو یې بوځئ).

سرتېرو د خپل بادار حکم پر ځای کړ چې ټول پر اسونو سواره ول، راکوز شول او تورغاتایي بې پر یو اس پسې له تړلو وروسته په کشولو. کشولو روان کړ. د ځو میله واټن وهلو وروسته ټول هغه ځړ ځای ته ورسېدل تر کومه ځایه چې د تور غاتایي نیمه ساه ختلې وه.

د تموچین له حکم سره سم سرتېرو بوه کنده وکېندله، تورغاتایي بې په کې ودراوه، خاورې بې ورې ور واړولې او تر غاړې پورې یې ژوندی ښخ کړ، تموچین پر اس سپور و، څلور واړو لورو ته یې اس تاو راتاو کړ او بیا یې وویل: (تا د همدغه ځړ ځای تر ولکې لاندې راوستلو په خاطر زما پلار وژلی و، که څه هم نه تر ډېرې مودې پورې پر دغه ځړ ځای پاتې نه شوې؛ خو تر څو چې دنیا اباده وي نه به دلته بغیر له سر نه اوسېږې).



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



د هغه د حکم سره سم دوه ښکاري سپي پر تورغاتایي ورخوشې شول، د هغې سترګې له ډېرې غوسې نه تکې سرې اوښتې وې، سپیو پر تورغاتایي ور خېز کړل، د هغه د مخ د شکولو او غوښې خوړلو لپاره سره په جنګ هم وو او غوښه یې هم راشکوله، ډېر زړه بوږنوونکی منظر و.

د تورغاتایي ساه ختلې وه، د مخ او غاړې پوټکی او غوښه یې د سپو خوراک شوی و، په اخر کې یې یواځې تر غاړې پورې هډوکي پاتې وو، د سپو خېټې لا ډکې نه وې او غوښتل یې په خپلو پنجو سره خاوره راوسپړي او د هغه نور بدن هم وخوري؛ خو سرتېرو کنټرول او له هغه ځایه اخوا کړل.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## نوې برياوې

تموچين په تېرو پنځو کالو کې ډېرې برياوې ترلاسه کړې وې چېرې به چې ولاړ د برې جنډه به يې هلته وښوروله. ورو، ورو غټې او وړې قبيلې د هغې تر امر لاندې راتلې بيا يې هم بشپړه دښته تر ولکې لاندې راغلې نه وه. په دښته کې څېنې داسې قبيلې هم وې چې هم يې له تموچين څخه زيات پوځي خواک درلود او هم زيات اثر رسوخ، د همدغه قبيلو له ډلې يوه هم د مکريت قبيله وه. د دغه قبيلې خلکو له تموچين څخه نفرت کاوه.

د نفرت اصلي سبب دا وه. چې د دغه قبيلې يو سردار غوښتل د تورغاتايي له خور اولون سره واده وکړي چې په دغه ترڅ کې دوی سردار د تورغاتايي کره جنج هم ور وړی و؛ خو د واده پوره کېدو څخه وړاندې يسو کايي پرې حمله وکړه. د دوی سردار يې ووژه او اولون يې خپله بوتله. د اولون کوم طلبګار سردار چې يسوکايي وژلی و، د هغه زوی اوس ځوان شوی و او د پلار غچ اخستلو ته يې وينه خوټېده.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



د تموچین په زړه او مازغو باندې بورتایي سوره وه، که څه هم د هغې څخه د جدایی کلونه یې په جنګ کې تېر کړي وو؛ خو لا یې هم له یاده وتلې نه وه، تموچین اوس ډېر شمېر نورې قبیلې لاندې کړې وې او خپله قبیله یې منظمه کړې وه څکه نو کولای یې شو د یو فاتح په څېر بورتایي خپله ناوې کړي.

هغه چې د سردار یاتش قبیلې ته ورسېد، نو سردار یاتش یې ډېر ګرم استقبال وکړ او ښه شاباشیانې یې ورکولې: (زه ویاړم چې تا نه یواځې خان د یسوګايي رښتینې خایناستی ثابت کړ، بلکې په دومره کم عمرۍ کې له هغه څخه هم څو ګامه مخکې لاړې، زه ویاړم چې ته به زما زوم وې).

کله چې هغه له بورتایي جدا کېدو؛ نو هغه ډېره کم عمره وه، اوس حتماً څوانه شوې وه، د تموچین نظرونو هغه لټوله؛ خو هېڅ په نظر نه ورتله، د قبیلې یوې ښځې ورته وویل: (ته چې څوک ګورې هغه اوس په لاس نه شي درتلای تر واده وړاندې یې په هېڅ صورت نه شي کتلای، له واده وروسته به هم څان له تا پټوي او ته به یې لټوې هر کله دې چې خپله ورکه ناوې پیدا کړه، نو بیا به وکولای شې له دې څایه یې له څان سره بوڅې).

په همدغه ماښام د تموچین او بورتایي واده تر سره شو، بورتایي په یوه خېمه کې وه او تموچین له سردار یاتش او نورو سردارنو سره په بله خېمه کې و. دغه وحشیان په لیک لوست نه پوهېدل، د واده مراسم یې هم زباني ترسره کېدل، سردار یاتش وویل:(تموچینه، زه به له تا څخه څو لوظونه اخلم، یو خو دا چې زما د تر ټولو نږدې ملګري زوی یې او بله دا چې بورتایي ستا اوله ښځه ده او اوله ښځه همېشه د ملکې درجه لري څکه نو ته به بورتایي همېشه خپله ملکه ساتې).



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



تموچین وویل: (ستا لور له وړکتوب څخه زما په زړه کې ځای نیولی دی. هغه به یواځې زما د زړه نه بلکې د ټولې قبیلې ملکه اوسي. زه به بلې ښځې نه د ملکې درجه خو پرېږده د ښځې درجه هم ورنه کړم).

خسر او نورو سردارانو په خوشالۍ سره ترې مننه وکړه. او د پسه او هوسۍ غوښې یې ورته مخ ته کېښودې. له شرابو ډک پتکي وار دمخه د هغوی په وړاندې اېښودي وو. د ډکولو لپاره یې وینځې رامخکې شوې. تموچین وویل: (زه نه غواړم له تاسو ښاغلیو سره خوراک وکړم. بورتایي اوس زما ده. زه به اوس لومړی هغه لټوم او له موندلو وروسته له هماغې سره ډوډۍ خورم).

سردار یانش وویل: (موږ به ستا مخه ونه نیسو؛ خو زموږ سره یوه پیاله څښاک خو دریاندې دی).

د تموچین زړه د بورتایي د دیدار لپاره په لړزا و. د خسر د امر پر ځای کولو لپاره یې د پیالې څخه یو غړپ وکړ او پیاله یې یو خوا ګوزاره کړه. ټولو سردارانو په کټ کټهاري وخندل. یوه وویل: (دا خو ربښتیا هم زموږ په بورتایي پسې لېونی دی. دی به یې همېشه خوشاله ساتي).

تموچین له خېمې راووت. مخکې وروسته یې شمېره خېمې وې او د هرې خېمې مخې ته دوه او درې ښځې ولاړې وې. یوې ښځې په خندا وویل: (که څېله بورتایي دې پیدا کړه بیا به ومنو چې د څپلې قبیلې لوی خان یې).

هغه پوښتنه وکړه:( خو زه به هغه څنګه وپېژنم. اوس خو به د پخوا په شان ماشومه نه وي؟)



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



يوې بلې خندنې ښځې وويل: (هو هغه اوس ستا لپاره څوانه شوې ده، پخوا پر ځمکه وه اوس په اسمان لګېږي).

بلې ښځې وويل: (د هغې لټول داسې دي لکه له اسمان څخه د ستورو راشکول).

د هغوی د خبرو په اورېدو هغه يوې خېمې ته ننوت، يوه، يوه پرده او ټول سامان يې اخوا دېخوا وغورځاوه؛ خو خپله ناوې يې پيدا نه کړه، بېرته راووت او پوښتنه يې وکړه، دلته خو نشته، کومه ښه خو يې رانه ووايئ.

يوې ښځې وويل: خپل عقل دې لږ په کار واچوه، د واده ماښام يې دی؛ نو ضرور به د ناوې په جامو کې وي، ښه سينګار شوې ده، په ليدو به دې سر درباندې وګرځي.

هغه ترور بلې خېمې ته ننوت، هلته يې هم يو، يو شی وغورځو؛ خو خپله ناوې يې پيدا نه کړه، بيا درېمې، څلورمې، پنځمې او شپږمې خېمې ته ننوت. ښځو په کټ کټ خندل او هغه لکه د لېونو په څېر خپله ناوې لټوله اخر يې ناوې په يوه خېمه کې تر سترګو شوه، د هغې پر سر باندې سور شال پروت و او مخ يې پټ کړی و، تموچين: (اخر مې ومونډلې) هغه وشرمېده او ځان يې ټول کړ، دی ور وړاندې شو او ورته يې وويل: (زما د صبر پيمانه ختمه شوې ده، تا به ما ته ډېر انتظار کړی وي، زه ناوخته سهي خو بيا هم راغلم).

له دې خبرو سره سم يې چې شال پورته کړ؛ نو د ښځو د قهقهو اوازونو ټوله فضا ونيوه، يوه زړه ښځه يې ورته د ناوې په جامه کې سينګار کړې او کېنولې وه چې تموچين يې به ليدو سخت وارخطا شو، هغه ډېر بې حوصلې و او هېڅکله يې خپله غوسه نه شوه قابو کولای، اوس يې زړه وغوښتل چې د



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



بوډۍ ستونی ډب کړي، خو له صبر او زغم بې کار واخیست، هغه په دې پوهېده چې که هر څومره لوی او قوي سردار وي، بیا به هم د خپلې ناوې د موندلو دغه رواج پر ځای کړي، د ناوې له لټولو څخه پرته خپلې قبیلې ته د هغې وړل وروستی خبره وه، دی که څه هم یو خان غوښتونکی حاکم و بیا بې هم باید دغه رواج پر ځای کړی وای.

تموچین له دې خبې څخه په غوسې ووت او په یوه او بله خېمه ورننوت، ښځې د دومره لوی سردار د حالت په لیدو غلې شوې او خندا یې له یاده ووته. هغه به د لېوني په څېر کله یوې خېمې ته ننوت او کله بلې اخر بې په یوه خېمه کې ناوې وموندله، دې ناوې هم د بوډې په څېر جامې په تن کړې وې، پر مخ یې شال غوړېدلی او څېره بې پټه وه.

تموچین بې په لیدو خواته ته ورغی او ورته یې وویل: (زه د خپلې بورتایې د لیدو لپاره بېتاب یم، که ته زما بورتایې نه وې؛ نو سر به درنه پرې کړم).

نژدې ورغی او پلو یې پورته کړ، په لیدو یې وړاندې تګ له یاده ووت، د هغه په وړاندې یوې ښکلې پېغلې خندل چې په څېره کې یې د کوچنیوالو بورتایې خلېده؛ خو اوس هغه کوچنۍ بورتایې نه وه، سم دم غوړېدلی ګل و.

تموچین ور وړاندې شو؛ ښکل یې کړه او په مینه یې ورته وویل :( اوهو زما لاسونه تښتي، ته خو له پخوا څخه هم زیاته زړه راښکونکې شوې یې).

هغې پر خوله لاس کېښود او په خندا شوه، تموچین ور وړاندې شو او هغه یې په غېږ کې کلکه ونیوه، دغه هغه حالت دی چې خلک وایې سړي ښځه په خپلو پنجو کې ایساره کړه؛ خو حقیقت د دې برعکس وي اسیروونکی په ناپوهی سره اصلاً په خپله د ښځې دام ته لوېدلی وي، د نړۍ هره ښځه سړي



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



ته دا خوش باوري ورکوي چې ګونډې دا يې اسيره ده؛ خو سړی له خانه خبر نه وي چې د جنګ په ډګر کې هم دغه ښځه يې پر ماغزو سوره اوسي. تموچين له خېمې څخه د ناوې ايستل هېر کړل، نورو ښځو د باندې ډولونه وهل سندرې يې ويلې او نڅاوې يې کولې. د دود له مخې هغه ته په کار وه چې ناوې خپلې قبيلې ته يوسي او د واده شپه ورسره هماغلته ولمانځي؛ خو هغه نه په خپله دباندې وتلو او نه يې بورتايي پرېښودله چې بهر ووځي، اخر يو ډېر ستر جنګيالی خان و او د بورتايي په شان ښکلې يې د ژوند ملګرې شوې وه، د قبيلې دود دستور يې هېر شوی او خپل قانون يې چلاوه.

تر شپږو ورځو پورې په همدې خېمې کې دننه پاتې شو، کله کله به د سردار ياتش يا د خپل لاس لاندې سردارانو ليدو لپاره راووت او هغوی ته د ښځو لارښوونو ورکولو وروسته به بېرته خېمې ته ننوت. په اوومه ورځ يې خېمه ورته د ناوې په څېر سينګار کړه، سرتېرو سينګار شوې خېمه پر هغه ګاډی بار کړه چې څلوريشت غوايانو کشوله، د تللو په وخت کې ورسره د ياتش د قبيلې يو شمېر سندر مارې او نڅاګرې هم تر يو خايه لاړې او بېرته راستنې شوې.

د سفر په وخت کې ورسره د خوراک لپاره غله او غوښه او د څښاک لپاره شراب وو. د هغه ټول وسله وال سرتېري هم ډېر خوشاله وو، د خوشالی سندرې يې ويلې او د شرابو پيالې به يې پر سر اړولې، کله به چې د شپې تياره خوره شوه؛ نو په يو خونډي ځای کې به يې وړاوله.



Scanned with CamScanner

## لومړۍ ماتې او غچ

پر ډېرو ګاډیو خېمې اېښودل شوې وې چې سرتېري هم استراحت وکړي، هغوی به د خېمو او ګاډیو په چار چاپېره ځای، ځای ډېوې لګولې. ځېنو سرتېرو به تر سهار په نوبت، نوبت څوکۍ کوله. پاتې بېچارګان چې به د تولې ورځې سفر ستړي کړي وو، د یو پیالې نیمې تر ګوټلو څښه وروسته ویده شول.

که څه هم تموچین به په پښو سترګو خوب کاوه؛ خو طبیعتاً به ویښ و. د هغه شپږم حس به ورته خبرداری ورکاوه. دغه شپه یې بورتایي پر سینې سر اېښودی و او ویده وه. له نیمې شپې وروسته هغه ناڅاپه خبز کړ او بورتایي یې اخوا کړه، هغې په حېرانتیا وویل: (څه خبره ده؟)

پرته له دې چې څه ځواب ورکړي له خېمې ووت. له ګاډی ښکته شو او پر ځمکه پرېوت. غوږ یې چې پر ځمکه کېښود؛ نو د یو نه بلکې د بې شمېره اسونو د پښو ترپهاري غږونه یې واورېدل. دغه غږونه دومره کراره، کراره وو لکه دښمن چې په ډېر احتیاط سره را روان وي.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



هغه سمدستي نیغ ودرېد او غږ یې کړ: (خبردار اوسئ کوم نامعلوم دښمن د شمال له لورې را روان دی).

د هغه سرتېري دومره منظم روزل شوي وو چې په څو شېبو کې پر وسلو سمبال شول او اسونو ته یې ځانونه ورسول ټول مشعلونه او ډیوې مړې شوې. بورتايي هم په وسله سمبال له خېمې راووته، تموچين ورېل: (ته بايد په خېمه کې و واسې، زه نه غواړم چې ستا پر بدن دې معمولي داغ قدرې هم ولګېږي).

هغه پر اس سوره شوه او ويې ويل: (زه په دې وخت کې سينګار کړې ښځه نه شم پاتې کېدای، پلار مې زه داسې روزلې يم چې کولای شم له خپل سړي سره اوږه په اوږه وجنګېږي).

اوس دوی په توره تياره کې ناست وو، ټولې ډيوې او مشعلونه يې بند کړي وو او د شمال له لورې راتلونکي بريد ته سترګو په لار وو.

د تاريخ په ټولو کتابونو کې دا خبره ثبت ده چې تموچين (چنګيز خان) د عجيب او غريب شپږم حس خاوند و، د خوب په حالت کې به هم پر خطر پوهېدو، د ورځې به يې د واورې په لړه کې د دښمن بوی پېژانده، د پښو له ترپهارې به يې معلومولې چې دښمن له کوم لورې څخه را روان دی، د داړوونکي پړانګ په څېر خليدونکې سترګې يې وې، د هغه پلار په دوکې سره په زهرو وژل شوی و؛ خو د هغه په پرتله دی داسې معلومېده چې نه يې په دوکه د وژلو امکان درلود، نه په غشي او نه په توره.

هغه په موټي کې د بندې وينو ټوټې سره زېږېدلی و، د هغه لاسونه د نورو د وينو زېښلو لپاره وو؛ خو د هغه له وينو سره لوبېدونکی هېڅ جنګيالی پيدا نه شو، ناپېژندلو حمله کوونکو ناڅاپه د اسونو رفتار تېز کړ او د سيلۍ په څېر يې خان ور ورساوه، تموچين غوښتل په تياره کې وجنګېږي؛ خو د دښمن هر



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



سرتېرې مشعل لګولي و. په رڼا کې هغوی په خپله هم ښکارېدل او مقابل لوری هم ورته ښکارېده. تموچين اټکل کړی و چې بې شمېره دښمنان را روان دي؛ خو مشخص شمېر يې ورته معلوم نه و.

کله چې سره مخامخ شول؛ نو معلومه شوه چې هغوی په زرګونو دي، په داسې حال کې چې د دوی د سرتېرو شمېر ټول ټال دوه سوه تنه وو. بورتايي تر خپلې وسې پورې هڅه کوله چې خان تموچين سره نژدې وساتي. خو د دښمن بريدونو به کله، کله له هغه بېلېدو ته اړ کړه، تموچين ورته په چګړه کې وويل :(بورتايي، حالات زموږ په حق کې نه دي، فوراً تښتنه زه درپسې يم).

بورتايي د اس لوری بدل کړ او وتښتېده، په دې وخت کې تموچين ونه کړای شو سمدلاسه ورپسې ورشي، دښمن يې د وړاندې تګ وخت ور نه کړ او تموچين ورسره په جنګ شو، د ټولو دښمنانو سرونه يې له تنو جلا کړل. بيا د بورتايي پسې روان شو، بورتايي يې پيدا نه کړه. ډېر غږونه يې ورپسې وکړل، په اس ورپسې وځغلېدو؛ خو د شپې په تروږمی کې تر لرې، لرې يې هغه ونه موندله.

د خپلې ناوې د لټون لپاره د جنګياليو منځ ته هم نشو ورننوتلای ځکه چې زيات شمېر وسله وال ورپسې وو. د ده ساتونکو د شپې په تياره کې د تعقيبوونکو سرتېرو غولول پيل کړل تر نورو وړاندې يې درې داسې هغه سرتېري ترې وويشتل چې مشعلونه يې په لاسو کې نيولي وو، د دغه کسانو له لګېدو وروسته هغوی باندې هم تياره شوه، پاتې کسانو ونه کړای شو چې په مشعلونو پسې بېرته وګرځي ځکه چې که تللای؛ نو تموچين به ډېر لرې تللی وای، همدا وه چې د هغه پسې د اسونو ځغلولو ته يې لومړيتوب ورکړ.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



دغه سرتېري له وړاندې تګ څخه وروسته پوه شول چې ډېره لويه غلطي يې کړې ده. هغه سړی چې دوی ورپسې وو اوس ترې تم و، هغوی اسونه ودرول، د ړندو په څېر يې اخوا دېخوا کتل چې په همدې وخت کې د يوه له حلق څخه د ژوند وروستۍ سلګۍ راووته او له نا معلوم لوري څخه راغلی تير يې په حلق کې ونښت، سړی د اس له ښېتې راوغورځېده. ورپسې بل تير د دويم په سينه کې ونښت يو سواره له ډاره چيغې کړې: (له مونږ څخه له ياده وتي چې هغه لېوه دی، د شپې يې هم سترګې کار کوي، تښتئ که نه بې اجله به مړه شو).

هغوی د اسونو مسير ته تغير ورکړ او په تېښته شول. تموچين هم د اس رخ بدل کړ، ورو، ورو هماغه لور ته روان شو کوم لور ته چې بورتايي ترې ورکه شوې وه، لومړی يې تعقيب کوونکي تر ښه لرې واټنه وځغلول، بيا يې ځان بېرته د تېرې خونړۍ جګړې ځای ته ورساوه، هلته اوس خاموشي خوره وه، بريد کوونکو له تللو وړاندې درې څلور مشعله په ځمکه کې ښخ کړي وو د مشعلونو په رڼا کې تموچين ته د خپلو مړو سرتېرو جسدونه ښه روښانه ښکارېدل.

هغه اخوا، دېخوا منډې رامنډې کړې او بورتايي ته يې غږونه وکړل، په جواب کې نه د هغې غږ راغی او نه يې مړی تر سترګو کېده، د دې مطلب همدا شو چې دښمن هغه له ځان سره بيولې وه، ده د جګړې په وخت کې خپل دښمن پېژندلی و چې د مکريت قبيله ده.

تموچين په لومړي وار خپلې قبيلې ته ماتې خوړلی راستون شو، په سينه کې يې د غوسې لمبې بلې وې او د ماتې له کبله سخت شرمنده و، يو خو دښمن ورڅخه له ځان څخه ګرانه بورتايي بيولې وه او بل د هغه يو، دوه نه بلکې پوره دوه سوه سرتېري وژل شوي وو. د مکريت قبيلې خلک په کومه شمالي سيمه کې اوسېدل.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



تموچين خپلې قبيلې ته له رسېدو سره سم خپلو دوه زره سرتېرو ته امر وکړ چې خانونه په وسلو سمبال کړي او اسونو ته خان ورسوي، سرتېرو ته يې وويل چې دښمنان بايد د برې جشن د لمانځلو موقع موندلو ته پرېنږدو او لکه قيامت پرې ورنازل شو.

په شمالي سيمه کې يوه بله قبيله اوسېده چې سردار يې طغرل خان د يسوکايي له نږدې ملګرو څخه و. د مکريت قبيلې پر لاره تموچين له طغرل خان سره مخ شو، تموچين څخه يې د دومره لوی پوځ په ليدو پوښتنه وکړه:(د کوم ځای اراده مو ده؟).

تموچين وويل: (د مکريت قبيلې بې غېرتو پرون شپه پر موږ حمله وکړه، زما ښځه بورتايي يې وتښتوله او دوه سوه سرتېري يې راته ووژل، زه به د دغې قبيلې يو تن هم ژوندی پرېنږدم او خپله بورتايي به ترې بېرته راولم).

طغرل خان وويل: (ښکه چې ته بايد خپل غچ واخلې او خپله ښځه دې له دښمن څخه راخلاصه کړې؛ خو وړاندې سخته واوره اوري، ځمکې واورې نيولې، که سړی په کې ورشي پښې ترې په ساعتونو، ساعتونو نه شي راويستلی، ستا اسونه او پلي سرتېري به ونه کولای شي مخکې لاړ شي زه درته دا مشوره درکوم چې اوس د تګ اراده ترک کړه).

تموچين وويل: (دا د واورې اورښت خو به خو مياشتې جاري وي، زه نه شم کولای خپله بورتايي د هغوی رحم او کرم ته پرېږدم او په خپله دله ارام واوسم).

طغرل خان: (ګوره بچيه! ستا پلار زما ډېر نږدې ملګری و او ته زما د زوی په شان يې. ستا په خبر جنګيالي بايد د حالاتو مطابق ګام پورته کړي که د جذباتو تر اغېز لاندې راغلې؛ نو ستا دوه سوه سرتېري خو لا له وړاندې مړه شوي، دا



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



دوه زره نور سرتېري به دې هم د توپاني واورې خوراک شي او ته څه فکر کوې د مکریت قبیلې خلک به په دې بد ترین موسم هلته وا اوسېدلای شي؟ فکر کوم اوس به هغوی حتماً کوم بل لور ته کډوال شوي وي، یا به د جنوب لور ته تلي او یا هم ستا له ډاره د غرب لور ته، اوس ما هم د خپلې قبیلې سره له دې خایه کډه بار کړې ده).

هغه نېغ کېناست: (اوس څه وکړم؟ اوس د لېونو په څېر د شمال د توپاني واورو په لور جگړې ته ودانګم او که د جنگي پلان له مخې له صبر څخه کار واخلم او دښمنان په جنوبي سیمو کې ولټوم).

عقل ورته همدا مشوره ورکړه چې خپل زرګونه سرتېري له خطر سره مخ نه کړي بلکې د دښمن د لټون لپاره بل لور ته ورشي. هغه همدغسې وکړل او د خپلې بورتایي په لټه کې بې کوره او بې درګاه شو، له هغه سره ګاډیاني او خېمې وې، له خپلو سرتېرو سره یې خای، خای قیام کاوه، لاره کې راتلونکو قبیلو سره به جنګېده، له هغوی سره جنګېدل څکه ضرور وو چې د بورتایي په تلاش کې اوونی او میاشتې لګېدې د خېتو ډکولو لپاره یې غلې او څارویو ته ضرورت درلود.

کومې قبیلې به چې وینه توېدل نه غوښتل فوراً به یې د هغوی په وړاندې وسلې غورځولې، خپل څاروي او د ضرورت نور څېزونه به یې دوی ته ډالی کول د همداسې یوې قبیلې یو سردار تموچین ته وویل چې د مکریت قبیلې خلک څو ورځې وړاندې په دې لاره جنوب لور ته لاړل.

همدومره معلومات کافي وو، خپلو سرتېرو سره جنوب لور ته روان شو، اوس د هغوی په لټه کې زیات ځنډونه نه وو موجود څکه دا خبره ښکاره شوه چې



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



کوچي قبايلو به هغه خايونو کې اړول چېرې به چې سیند بهېده، په همداسې کوم ساحلي ځېر خای کې هغه خپل دښمن ته خان رسولای شو.

کله چې د جنوب لور ته روان شو؛ نو ټوله ورخ به يې سفر کاوه. فقط د شپې خو ساعته به يې په ارام تېرول، د سرتېرو او اسونو د ستړيا لرې کولو لپاره ارام ضرور و. د ناوې په لټون کې يې څلور میاشتې تېرې کړې وې چې دښمن يې پیدا کړ.

له دې وروسته د مکریت پر قبیله سم دم قیامت نازل شو. د هغوی په فکر و خيال کې هم نه وو چې د انسان په بڼه دغه لېوه به د میاشتو راهیسې د مرګ د سیوري په څېر د دوی پسې وي، د شپې په تیاره کې چې برید پرې وشو؛ نو د قبیلې زرګونه سرتېري ورته ګوته په غاښ پاتې شول له ډلې څخه يې زیاتره سرتېري د وسلو له پورته کولو وروسته د مرګ مېلمانه شول. چا چې وسله پورته کړه اس ته د ختلو موقع په لاس ورنغله او پلې سیالی کې د پاتې والي له کبله ووژل شول.

تموچین له وړاندې نه خپل کسان پوه کړي وو چې خېمو ته اور بېرته نه کړي ځکه په یوه نه یوه خېمه کې به ضرور بورتایي وي او همداسې وه هم. بورتایي له یوې خېمې راووتله او په داسې حال کې چې تموچین ته يې غږونه کول په منډه، منډه دې خوا را روانه وه. تموچین اس د بورتایي پر لورې له څغلولو وروسته ورنږدې شو، بورتایي يې په یو مټ پورته کړه او ویې ویل: (زما د زړګي سره، ته مې بېرته پیدا کړې).

خپلو سرتېرو ته يې امر وکړ: (دلته درنه هېڅوک ژوندي پاتې نه شي ټوله غله او خاروي له خان سره راوړئ).



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



د هغه مقابله کوونکي ټول په غفلت کې وژل شوي وو. کومې ښځې، بوډاګان او ماشومان چې پاتې وو هغوی یې هم په ډېره بې رحمۍ ختم کړل. تموچین دومره په غوسه و چې یو نوی زېږېدلی ماشوم یې هم ژوندی پرېښبود او ټول یې په خپلې تورې او خنجر له منځه یوړل، یو خو قتل او غارت د هغه په وینه کې اغږل شوی و او بیا د مکریت قبیلې دښمنی هغه لا نور وحشي او داړونکی ګرځولی و. هغه له انساني ژوند سره لوبې پیل کړې وې او د انسان مرګ ورته داسې معلومېدو لکه د کتمل وژل.

هغه بورتايي له خان سره خپلو خېمو خابونو ته راوستله. بورتايي ژړل او ویل یې: (زه اوس ستا ور نه یم، هغه څه چې ما سره وشول له هغې وروسته د دې وړتیا نه لرم چې ستا د قبیلې ملکه دې راته وویل شي).

تموچین په ملا وډبوله داسې خبرې مه کوه، په دې کې ستا هېڅ قصور نشته، څه چې شوي له یاده یې وباسه.

بورتايي: (څنګه یې هېر کړم؟ زما په ګېډه ماشوم دی).

د تموچین مازغو سخته جټکه وخوړه، په رډو، رډو یې بورتايي ته وکتل. د هغه په فکر کې هم نه و چې هغه څوک چې ده غوښتل فقط او فقط د ده اوسي اوس د بل چا ماشوم په ګېډه ګرځوي.

هغه ودرېد، له دې اورېدلو وروسته هغه ته سخته غوسه ورغله، خپل ټول دښمنان یې له منځه وړي وو بیا هم تری یو ژوندی پاتې و، یو دښمن د بورتايي په ګېډه کې راغلی و، زړه یې غوښتل چې همدا اوس خنجر راوباسي، د هغې په ګېډه کې یې ښخ او د دښمن ټوټې اخوا وغورځوي؛ خو دغه تصور چې هسې نه په داسې کولو سره بورتايي مړه او یا زیانمنه شي بېرته خان کابو کړ.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



له هغې بې مخ واړوه او په فکر کې شو :( دا خو پردی شوې ده. بيا مې هم خپله ده، زه بې له خپل ژوند څخه نه شم ايستلی زه څه وکړم؟ زما د بورتايي خو په دې کې هيڅ قصور نشته خو خو ) بورتايي ده ته راکتل د هغې په سترګو کې زور امېدونه وو په دې له وړاندې پوهېده چې که له خان سره دروغجنه سودا راوړي، نو لوی خان به يې نه قبلوي او که يې قبوله هم کړي؛ نو د دغه ماشوم وجود به ونه زغملی شي).

بورتايي د هغه شاته ورغله او ويې ويل: څو ورځې وړاندې چې يوه شوم ماشوم مې په ګېډه دی؛ نو داسې مې وانګېرله چې ستا له ژوند څخه تل تر تله ووتلم غوښتل مې چې تا ته خپله څېره ونه ښيم، تاسره مې سترګې جنګول هم زړه نه غوښتل. فکر مې کاوه چې کاشکې ته هېڅکله رانشې او که ما په خپل حال پرېږدې؛ نو ډېره به ښه وي له خان سره مې پرېکړه کړې وه چې ستا د دښمن تر سيوري لاندې به د ذلت ژوند تېر کړم!

تموچين: ( داسې خبرې مه کوه، ما ووېل که نه چې په دې کې ستا هيڅ قصور نشته خو دا ماشوم؟)

بورتايي يوه ژوره ساه واخيستله: ( هو دا ماشوم زما د مرې هډوکی دی چې اخوا يې غورځولی هم نه شم. زما مور ولي راته وايې چې دا ماشوم که هر څنګه دی، که د هر چا دی زما په وينه روزل کيږي. اول زه يواځې يوه جلۍ ومه. بيا ښځه شوم. اوس يوه شوم چې مور څه شی دی. که زه له شرمه ستا په وړاندې خان وژنه کول هم غواړم؛ نو ويه يې نه کړای شم څکه چې که زه مړه هم شم پروا مې نشته؛ خو د دې ماشوم د وژلو حوصله لږ تر لږه زما غوندې مور نه لري).

هغې هم خبرې کولې او هم يې ژړل. تموچين هغې ته په ليدو په حېرانۍ سره فکر کاوه چې دا عجيبه شی دی؟ د ژړا په وخت کې هم راباندې خومره خوږه



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



لګيږي؟ زړه مې غواړي چې همدا اوس يې له سينې سره جوخته ونيسم خو څنګه؟ اوس چې يې لمسوم، دا ماشوم به زموږ ترمنځه خنډ کيږي.

بورتايي ورکتل او د سترګو په حالت يې پوهېده: (ګوره زه ستا له فطرت، غوسې، جوش او جنون څخه ښه خبره يم؛ خو خان وژنه نه شم کولای زه له خان سره خپل ماشوم نه شم وژلی؛ خو ته خو ما وژلی شې تا خو ډېر خلک د چنجيو په څېر وژلي دي، بس توره پورته کړه او په يو ګوزار سره زما کار خلاص کړه، ټوله کيسه به ختمه شي).

تموچين يوه کراره څپېړه کش کړه په خپلو متو کې يې ونيوه او ورته يې وويل: (ايا ستا په وژلو زه ژوندی پاتې کېدای شم؟ زه داسې احساسوم لکه زما ژوند چې تا پورې تړلی وي، ته چې ساه اخلې لکه زه چې ساه اخلم، زه درته هم وايم چې څه شوي هغه به شوي وي زه درته اجازه درکوم ته کولای شې دا ماشوم وزېږوې).

بورتايي سر پورته کړ، په بې يقينۍ سره يې ورته وکتل او پوښتنه يې وکړه (رښتيا وايې؟ دا خبره د زړه نه کوې؟)

هغه ورته د اثبات لپاره سر وخوځاوه، بورتايي نه منله: (زه باور نه شم کولای، دا ماشوم به همېشه تا خوروي).

تموچين په مخ د هغې مخ له سولولو وروسته وويل: (ومې دې خوروي، تباه مې دې کړي، پرېږده چې ومې خوروي، ګورې! زما زړه ستا په مخ چوخېږي؛ خو ته ترې خوند اخلې، لطف ترې اخلې وايه خوند درکوي او که نه؟ له ماسره دې مينه نوره هم ډېرېږي که نه؟)



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



بورتابي: (هو) هغه په ډېرو جذباتو کې راغلې وه، هېڅ باور يې نه کېده د هغه خبرو ته يې غوږ نيولی او فکر يې کاوه چې که نر هر څومره سرسخته او اغزي دار وي بيا يې هم په سينه کې د مينې ستره خزانه شته.

تموچين ورېل: (ولې له ګل سره ازغي نه وي؟ او کله چې وي؛ نو ولې سړی له ګل سره مينه نه کوي؟)

څومره چې په ګل کې ازغي زيات شي نو د ګل ښايست ورسره هماغومره زياتيږي، په غوښتنه کې يې څو چنده شدت پيدا کيږي.

له خپلې بورتابي سره يې وعده وکړه چې ماشوم به يې زړه ته نژدې ساتي او د خپل ماشوم په خبر به يې ګڼي، د خپل اولاد په مقابل کې به هېڅکله هغه په ناسکه ګڼلو سره د بورتابي زړه نه ماتوي.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## د مغلو ستره غونډه او د چنګېز لقب

د دښتي په لسګونو قبیلو د تموچین جنګي پلان، بریاوې او پرمختیاوې منلې او وېل به یې چې هغه یو نه ماتېدونکی او پولادي انسان دی. د مختلفو قبیلو امیرانو او سردارانو وینه توېول نه غوښتل، یوه ورځ د یو شمېر قبیلو مشران د قبیلو ترمنځ د جګړو د مخنیوي لپاره سره یو ځای شول او له سلامشورو وروسته دې پایلې ته ورسېدل، چې ټول باید یو مشترک سردار وټاکي او هغه سردار بواځې او بواځې تموچین کېدای شي.

د نورو قبیلو سردارانو هم ورسره ومنله. د یوې قبیلې سردار ووېل:(هغه په هر جنګ کې بری ترلاسه کوي، له دې پرته بل هېڅ داسې سردار نشته چې د ټولو قبیلو مشترک خان اعظم (لوی خان) دې اوسي).

د ټولو قبیلو مشران او سرداران د تموچین په خدمت کې حاضر شول او هغه ته یې ووېل: (دا زموږ مشترکه پرېکړه ده چې تا خپل لوی مشر وټاکو).

یو سردار ووېل: (که ته زموږ لوی خان شې؛ نو موږ به ستا هر حکم پر ځای کوو).

د یوې قبیلې د لښکر امیر ووېل: (که د جنګ په ډګر کې له دښمن سره مخامخ کېږو؛ نو موږ به ترتا نه وړاندې په اول خط کې جنګېږو، د غنیمت په مال کې به



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



چې خومره ښکلې جینکې په لاس راځي په هغوی کې به تر ټولو ښکلې جینکۍ ستاسې خدمت ته حاضروو).

بو بل سردار وویل: (که موږ ستا امر ونه منو یا بغاوت وکړو ته کولای شې له موږ څخه زموږ ښځې او اولادونه واخلې، یا مو جلا وطنه کړې او یا هم د مرګ سزا راکړې).

تموچین د قبیلو د سردارانو وړاندیز ومانه. له هغه وروسته چې لوی خان شو تر هر څه وړاندې یې یو خواکمن امنیتي خواک جوړ کړ. . په بله اصطلاح هغه د خان لپاره یوه قوي کلا جوړ کړه. دا کلا د ګاډیو، خېمو یا تېرو څخه نه بلکې له هغوی سرتېرو څخه جوړه وه چې په تېرو شپږو کلونو کې یې په ټولو جنګونو کې برخه اخیستې وه او ژوندي راوتلي وو. دا هغه سرتېري وو چې د ده لپاره هر وخت سربښندنې ته تیار وو او ده پرې هر ډول باور درلود. تموچین لومړی همدغه مورچه قوي کړه او بیا یې نورو چارو ته مخه کړه.

هغه د هیڅ یوې قبیلې هیڅ کس لټۍ او تنبلۍ ته پرېنښود. ټولو ته امر شوی و چې شپه وي که ورځ خان به په کوم کار مشغول ساتي. که هیڅ کار نه اوسي په ښکار بسې دې ووځي. که لوی ښکار ورته پیدا نشي کومه پیشو یا موږک دې ښکار کړي؛ خو چې په هر حال مصروف اوسي..

تموچین په خپل پوځ له څوارلس کلنو هلکانو نیولې تر اویا کلنو بوډاګانو په خپل پوځ کې ګمارلي وو. د دښتو دغه کوچیان اوس د مسلسل پوځي ژوند بوخت وو. هر څوک متحرک او مصروف ښکاریدل. دا ډول انقلابي بدلونونه په یوه یا دوه ورځو کې نه پیښیږي بلکې کلونه نیسي. په دې دوران کې تموچین یو ښه ازدواجي ژوند هم تېراوه.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



بورتايي لومړی يو ناجايز ماشوم وزېږاوه چې نوم يې پرې جوچي کېښود. له دې وروسته يې د تموچين بچيان وزېږول. د دوی له ډلې د اول نوم چغتايي، د دويم اوغتايي او د دريم تولويي کېښودل شو. دوی ټول هم د خپل پلار نيکونو غوندې د سختو جنګياليو او حکمرانانو په څېر تر روزنې لاندې ونيول شول.

کله به چې د ټولو قبيلو لوی، لوی سرداران پر کومې مهمې معاملې د بحث او فيصلې لپاره راغونډېدل؛ نو دغه غونډې يا جرګې ته به يې قرولتايي وايه.

په ۱۲۰٦ زېږديز کال سردارانو قرولتايي راوغوښت. ټول سرداران د اورون د سيند پر غاړه څو خايونو کې سره غونډ شوي وو، هلته يې لومړی د نخا او سندرو ښه جشن ولمانځه، وروسته ښه کباب او شراب باد شول. په دې ناسته کې ټولو سردارانو په يوه خوله تموچين ته د چنګېز خان لقب ورکړ.

د دې لقب په مانا هيڅوک نه پوهېږي. شايد مغلو لوی خان ته چنګېز خان وايه. خېر دغه لقب د تموچين نوم ورک کړ او له دې وروسته د تاريخ په پاڼو کې هغه د تل لپاره د چنګېز په نوم ثبت شو.

چنګېز خان ټولو سردارانو ته په خطاب کې دا ژمنه ورکړه: (زما جنګيالي سرتېري او سپه سالاران د ځنګل د ونو او غرونو په څېر قوي دي. زه به تاسې ته د سرو زرو مړی درکوم، د سپينو لباس به دراغوندم، په تېزو اسونو به مو ځغلومه او د پاکو سيندونو خوږې اوبه به درباندې څښمه. سپېڅلي هسک اسمان زه د ټولو قبيلو حاکم مقرر کړی يم او زه به د مشرۍ حق او مسووليتونه ضرور سرته رسومه).

هغه نه غوښتل پخوانۍ کينې او عداوتونه راوپاروي، همدا وه چې په خپلو کې جنګېدل يې سخت منع کړي وو، دا حکم يې کړی و چې هر څوک چې خان مغل ګڼي هغه به په بل مغل لاس نه اوچتوي. که څوک له چا څخه شکايت



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



ولړې او غج اخیستل وغواړي، نو له خپل سردار یا لوی خان چنګېز خان څخه دې انصاف وغواړي.

د هغو سرتېرو چې په جنګونو کې یې ښه مېړانه ښوده او د دښمن په مقابل کې یې سخته زړورتیا ښوده. د هغه به یې ډېر قدر کاوه او د پوځ د کومې دستې سردار به یې ټاکه. د غنیمت په مال کې به یې هم همدغسې سرتېرو ته زیاته برخه ورکوله.

بوخلې د یوې دښمنې قبیلې دوه کسانو خپل سردار لاس نیولی ده ته حاضر کړ، خان ترې پوښتنه وکړه، (تاسې دواړه خو د خپل سردار وفادار وئ، اوس یې څنګه په خلاف شوئ؟)

هغوی وویل: موږ غواړو ستا وفادار شو، دا ستاسې دښمن دی، موږ دی ستاسې د باور ترلاسه کولو لپاره درته راوست؟

چنګېز وویل: (دا که زما دښمن دی، ستاسو خو بادار دی، تاسې چې زما د خوښې لپاره له ده سره غداري وکړه، له ماسره به څه وفا وکړئ).

هغه امر وکړ چې دا غداران دې تر هغې وځورول شي تر څو ساه یې وخېژي او ټول لښکر ته دې دا تماشه وښودل شي چې نورو ته د عبرت درس وګرځي.

هغه لومړی دغو ته ته د مرګ سزا ورکړه، له هغې وروسته یې خپل دښمن هم د نه بابنه او له هغوی سره یو ځای یې کندې ته وغورځاوه، خپلو څو سرتېرو ته یې وویل: (تاسې زما لپاره په ورځو، ورځو جنګېږئ، زما ښې او کیڼ ته د راتلونکي هر سړي مخه نیسئ، که زما یو اس زخمي شي تاسې سمدلاسه بل راته حاضروئ، که تر اخر ټول همداسې ژمن اوسئ، زه به تاسې خپل ملګري او خایناستي ګڼم).



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



د دښتې اوسېدونکې د هغه په مزاج ډېر ښه پوهېدل. که له یو پلوه هغه د جنګ په وخت د هیڅ ډول اخلاقي بندیزونو قایل نه و، توره، دوکه، چالاکي او هر څه بې جایز ګڼل، څو، څو ځله یې دښمن ته په دروغو، چل او دوکې سره ماتې ورکړې وه او بیا یې د شکایت کولو لپاره ژوندي هم نه وو پرېښي، بل پلو د دې برعکس د خپلو سرتېرو لپاره دومره رښتیني او ژمن و چې هره وعده به یې ورسره وکړه هغه به یې ترسره کوله. هغوی یې د سر په سترګو ګرځول.

چنګېز اوس پر دېرو لرو برو قبیلو غلبې موندلو هم مطمئن نه و. اورېدلي یې وو چې د جنوبي او لویدیځو سیمو اوسېدونکي خمکې کري او د لرو پرتو هېوادونو له سوداګرو سره کاروبار لري، هغوی دومره مال او اسباب لري چې کولای شي ښه په اطمنان سره هوسا او ارام ژوند پرې تېر کړي، که چېرې دوی پرې برید ونه کړي؛ نو هغوی به په خپله د مغلو د خپلو لپاره دې دښتې ته راشي.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



# نیمګړی ارمان

تموچین په لومړي ځل ناسکه زوی جوجي له یو دروند لښکر سره جنوب لور ته ولیږه. د هغه ځای خلکو سوکاله او ارام ژوند درلود، کوم قوي لښکر یا پوځي ځواک یې نه درلود. د ځنګلي ځناورو او د وړو، وړو قبیلو د برید کوونکو څخه د ژغورنې په خاطر یې وړوکی پوځ جوړ کړی و؛ خو د جوجي د پوځ په لیدو د هغه خلکو هوش والوت. د دغه قبیلې سردار د چنګېز د وحشت او بربریت په هکله ډېر څه اورېدلي وو، دا هم ورته ویل شوي وو چې که له هغه سره جګړه ونه شي؛ نو چا ته زیان نه رسوي، د هغوی په باره کې دا هم ویل کېدل چې د ښځو سخت شوقیان دي.

دغه سردار د ښینا په نامه یوه ډېره ښکلې او نوې توکېدلې لور لرله. هغه خپلې لور سره له قبیلې څخه راووت او د جوجي په وړاندې له وسلې غورځولو وروسته یې وویل: (ستا پر پلار چنګېز خان دې سپېڅلي هسک اسمان مهربانه شي. هغه ستا پلار د ځمکې د خلیفه په توګه رالېږلی. زه د هغه خلیفه او ستا په وړاندې په ګونډو کېږم او سر ورته ټیټوم. وګوره، زما لور څومره ښکلې ده. دا قبوله کړه او موږ ټولو ته ژوند راوبښه).

دغه جنوبي سیمه نسبتاً ګرمه وه او له دې کبله چې واوره په کې نه ورېده د هغه ځای خلکو د ځناورو پوټکي نه اغوستل. جوجي په ژوند کې اول ځل یوه ښکلې جلۍ په نازک وریښمین لباس کې ولیده، هغه په وریښمین لباس کې پټې نازک بدني په دښتې کې د ښکلا هېڅ سیاله نه درلوده. په لیدو یې جوجي لېونی شو جلۍ یې له زړه قبوله کړه او د قبیلې ټولو خلکو ته یې ژوند وباښه.

د سیمې د دغه ښکلو انجونو چې لنډ لباسونه یې پر تن وو، د جوجي د لښکر نور سرداران هم لېوني کړل. . هغوی داسې انګېرله لکه دغه ټولې ښکلې چې له



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



اسمانه راښکته شوي وي، د دغه ښکلو د پوښاک، ناستې، ولاړې او خندا په ادا ګانو کې سخت زړه راښکون و. نور سرداران هم د هغوی بندیوان شول، د دغه قبیلې مشر او سردار له وسلو کارولو او وینو توبولو پرته د ښځو په وسیله دغه جنګ وګاټه.

جوجي خپلو سردارانو ته وویل: (د دستور سره سم باید ټولې ښځې او قیمتي سامان لوی خان ته وړاندې کړو. لومړی به هغه خپله برخه واخلي بیا به تاسې د خپلې خوښې شیان اخلئ . دا چې زه د لوی خان زوی یم د دې لپاره فقط یوه ښکلې خپله ښځه کوم).

جوجي د قبیلې هر لور ته سرتېري خواره کړل او د سردار لور شینا یې خپله ښځه کړه. هغه په دغه رنګینو او نازکو حالاتو کې ډېر خه ولیدل. دغه خلکو به پر کاغذونو انځورونه رسمول، له تیږو توږلو یې د انسانانو او حیواناتو مجسمې جوړولې او په لیک لوست هم پوهېدل، جوجي یو زیات شمېر انځور ګران، تیږې تراشونکي او لیکونکي خپل پلار ته ولېږل.

کله چې چنګېز خان د هغوی هنرمندي ولیده؛ نو حیران شو. په خانګړې ډول دې ته خو هک پاتې و چې یو کس به پر کاغذ باندې کرښې کش راکش کړې او نورو ویل شوې خبرې به یې په کې خوندي کړې. په دې خلکو کې تر ټولو نکړه سړی تاتونګا نومېده.

تاتونګا د چنګېز خان یو اوږد تقریر ولیکه، خو شیبې وروسته یې چې تقریر ولوست؛ نو هغه په حیرانۍ سره وویل: (دا خو تکی په تکی هماغه څه وایي چې څو شیبې مخکې ما وویل ایا دا کوم جادو دی؟).



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



تاتونګا وويل: (دا جادو نه دی، د ليک لوست علم دی، موږ د خپلو سردارانو او د هغوی د پلرونو پيښې او واقعات ليکو، په دې کار سره زموږ تاريخ د نړی تر پای پورې پاتې کيږي).

چنګيز حکم وکړ چې د هغه ټولو اولادونو، سردارانو او د قبيلو عامو خلکو ته دې دا علم وروښودل شي، د علم ښوولو لپاره تاتونګا ته اجازه ورکړل شوه چې نور پوهان هم له بهره راوغواړي.

له دې عالمانو څخه پرته د متمدنې قبيلې د خوراک ځښاک لوښي، د ملاستې عصري تختونه، رنګارنګ وريښمين لباسونه او نازک بدني ښکلې ښځې هم چنګيز ته وړاندې شوې، سردارانو ورته وويل چې له دې ښکلو څخه علاوه يوه بله داسې ښکلې او زړه وړونکې جلۍ هم شته چې جوجي په خپله خېمه کې پټه کړې ده.

چنګيز خان جوجي راوغوښت او پوښتنه يې ترې وکړه: (بچو! وايه چې ځوک دې په خېمه کې پټه کړې؟).

هغه يې په جواب کې وويل: (ما د غلا کوم مال نه دی پټ کړی، هغه زما ښځه ده څکه مې له نورو جلا ساتلې ده).

چنګيز (ما ته يې راوله).

جوجي خپله مور خبره کړه، بورتايي داسې فکر کاوه چې زوی يې د لوی خان د اجازې څخه پرته د غنيمت په مال کې خان ته جلۍ انتخاب کړې او دا د دستور خلاف خبره وه. هغې په خپله شينا له خان سره کړه، چنګيز خان ته يې ورروسته او ويې ويل: (زما له زوی څخه غلطي شوې، ويې بښه).



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



له دې خبرې سره بورتايي د شينا شال پورته کړ؛ نو چنګېز خان يې ښوانی او ښکلا ته هک پک پاتې شو. بس په هماغې کې يې سترګې ښخې وې بورتايي ته يې وویل: (بورتايي! زه ستا په سر باندې قسم يادوم چې ما په خپل ژوند کې داسې نازک بدن نه دی ليدلی. که دا مال له غنيمت سره راغلی وای؛ نو ما به تر هر څه وړاندې پر همدې ورټوپ کړی و. ستا زوی غداري کړې ده. ما ته يې زما د برخې له ښودلو پرته له ما څخه شکولې ده).

بورتايي ته يې په غوسې سره له ليدو وروسته وویل: (دی ما هېڅکله ناسکه نه دی ګڼلی. تل يې د خپلو درې واړو زامنو په قطار کې حسابوم. هر چا ته وايم چې دا زما اول او مشر زوی دی خو وګوره ...! په خپلو سترګو وګوره اوس په خپله د ناسکه په څېر کارونه کوي).

بورتايي وویل: (تا له ماسره ژمنه کړې چې ده ته به هېڅکله ناسکه نه وايې. دی نادان دی. دا يې لومړۍ جګړه وه. که څه هم يوه غلطي ترې وشوه؛ خو ستا سر يې له فخر نه اوچت کړ زما په خاطر يې وبښه).

چنګېز خان:( زه ستا لپاره څه نه کوم؟ دا به هم وکړم. هغه به وبښم. خو زما زړه د دغه ښکلې لپاره لړزېږي. هغه ته ووايه چې شينا دې زما په خېمه کې پرېږدي او خپله دې ځي).

جوجي خوړند سر غلی ولاړ و. مور يې د هغه وکالت کاوه او ويل يې: (که ده دا د غنيمت په ډول راوړې وای؛ نو ستا په خېمه کې به يې پرېښې هم وه؛ خو اوس يې په خپله ښځه کړې. دا اوس ستا انګور ده).

هغه په غوسې سره وویل: (چټيات دې بند کړه. نه جوجي زما زوی دی او نه زه دې ته انړور ويلای شم).



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



بورتایي په پرېشانۍ سره ور ولیدل، چنگیز ته یې وویل: (ته له خپلې ژبې اوړې همدا اوس دې په خپله وویل چې ته دا د خپلو سکه زامنو په حساب کې مشر زوی گڼې او له ماسره دې وعده کړې وه چې زما د زوی پرهېڅ غلطۍ به ورته سزا نه ورکوې، هېڅکله به زما زړه نه ماتوې).

هغه ورنژدې شوه، چنگېز یې د لاسه ونیو او ویې ویل: ( خپلې وعدې سره سم ومنه چې زما زوی ستا زوی او مېرمن یې ستا انگور ده، که ودې نه منله او زما له زوی څخه دې د هغه ښځه خپله کړه؛ نو داسې وگڼه چې زما زړه دې ازار کړ، که داسې وشول زه به خان ووژنم).

هغه په ماتې خوږلې انداز کېناست او ویې ویل:( ته پر ما له خپل خان څخه هم ډېره گرانه یې او زما له دې کمزورۍ څخه گټه اخلې. څه له دې خایه ووځه دا ښځه به زما په قبیله کې نه اوسي، چېرته لرې یې ولېږه که زه یې دلته گورمه هسې نه څه رانه ونه شي).

بورتایي زوی او انگور له هاغه خایه بهر کړل، زوی ته یې امر وکړ.(شینا همدا اوس د خپل پلار کره بوځه ستا پلار په دې پسې لېونی دی، زه نه غواړم د یوې ښځې په خاطر د زوی او پلار ترمنځ کینه لاپسې ډېره شي).

جوجي وویل: (هغه زه هېڅکله د زړه له کومې خپل زوی نه یم گڼلې، د شینا په لیدو یې دننه پلندر ښکاره شو).

بورتایي: (ډېرې خبرې مه کوه! ما ستا د ژوند امان غوښتې همدا اوس دې ښځه درسره واخله او څه).

هغه د مور حکم سره سم ښځې سره لاړ او بیا یې هېڅکله شینا د پلار مخې ته رانه وسته؛ خو بورتایي په اندېښنه کې شوه. هغه وخت په دغه وحشي مغلو کې



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



دا رواج و چې د پلار له مرگ څخه وروسته زوی د سکه مور څخه پرته د پلار له پاتې ښځو سره واده کولای شو او پلار د خپل کوم زوی له مرگ څخه وروسته کولای شو د هغه ښځه خپله کړي.

بورتايي پوهېده چې چنگېز خان ډېر ضدي او جنوني انسان دی، همدا اوس یې د هغه په سترگو کې د شینا لپاره جنون ولیده، د چنگېز له سترگو بارود ورېدل، د لاوا د چاودېدو وخت نه وي معلوم؛ نو په داسې حالت کې د جوجي مرگ لازمي و. بس د هغه له وژلو څخه وروسته ده کولای شو شینا خپلې خېمې ته راکش کړي، د قبیلې له رواج سره سم هسې هم پر کونډه انږور باندې لومړی حق د خسر و.

بورتايي اوس له عقل څخه کار واخیست چې شینا یې په سلگونه میله لرې ولېږله. هلته د کومې بوږنوونکې پېښې د پېښېدو چانس نه و، چنگېز خان هم په نورو چارو کې بوخت شوی و. په قبیله کې یې د تعلیم لړۍ پیل شوه؛ هغه هم د جنوب لویدیځ په لورې د تلونکو سوداگرو سره اړیکې ټینگې کړې، کله یې چې له هغوی سره راکړه ورکړه پیل کړه؛ نو پوه شو چې د ده په قبیله کې چې د سرو او سپینو زرو کومې ذخیرې دي او دوی ته هیڅ ارزښت نه لري؛ هغه په متمدنه نړۍ کې د ستر ارزښت درلودونکي دي، هلته چې څوک سره او سپین زر ولري هغه مالدار گڼل کېږي او په دې سره کولای شي هر ډول قیمتي څیزونه واخلي. د همدې په وسیله جنگیالي سرتېري هم اخستل کېدای شول.

په دې ډول بهرنۍ نړۍ سره د چنگېز خان علاقه په زیاتېدو شوه. هغه وویل: (د چین پاچا اوس د چین د دېوال په وسیله زموږ مخه نه شي نیولای، موږ باید دې نړۍ کې نورې بریاوې هم تر لاسه کړو، شمال لویدیځ چین کې د کن کورنۍ ډېره غښتلې او څواکمنه وه. هیڅ بهرني برید کوونکي پر دوی د برید کولو جرئت نه کاوه، فقط یوه کمزوري یې دا وه چې کوم قوي دېوال یې چې د وحشیانو د



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



مخنیوي لپاره جوړ کړی و هغې اوس د وحشیانو لاره نه شوه نیولای، چنګېز د کن کورنی سیمې ته د تللو لاره موندلې وه.

کن باچا پر خپل پوخ ډېر نازېده، د همدې لښکر پر زور یې ډېر خلک مات کړي وو او د چنګېز خان په هکله په دې خوش باوري اخته و چې مات به یې کړي، کله چې د وحشي لښکرو له برید څخه خبر شو؛ نو په زرګونو سرتېري یې د هغوی د مخنیوي لپاره ولېږل، هسې خو ټولې لښکرې د متمدني نړۍ وې او که غېر متمدني ټول په تورو او نېزو جنګېدل، خو د کن له پوخ سره یوه نوې وسله وه، دا وسله منجبیق نومېده چې په وسیله یې پر دښمن غټې، غټې ډبرې ویشتې، کوم سرتېری به چې پرې ولګېد اول خو به یې کار خلاص و او که نه نهې کېدل خو په کې حتمي وو.

له چنګېز خان سره څلور غښتلي ځوان زامن ناست وو. دوی هم د خپلو پلرونو په څېر په ډېره بې رحمی له انساني وینو سره لوبېدل زده کړي وو. چنګېز خپل شل زره کسیز لښکر په څلورو برخو وېشلی و او هر یو زوی یې د یوې برخې سپه سالار ټاکلی و، د کن د پاچا د سرتېرو په ګومان کې هم نه راتله چې له څلورو لورو به پرې برید وشي د دوی منجبیقونه ټپ (پڅ) شول، دومره سخت برید پرې وشو چې د بې مثاله پوځي ځواک درلودونکي پاچا د پوخ پښه پرې وښوېده.

د پاچا سرتېرو میدان پرېښود او تېښته یې غوره کړه. چنګېز خان د کن پاچا ته پیغام ولېږه چې که چېرې په لاره کې د نورو ښارونو په دروازو کې د لښکرو راویستلو حماقت وکړي؛ نو هېڅوک به ژوندی پرېنږدي هر ځوان، بوډا او ښارونو دروازې دې خلاصې وساتي، نو هر څوک چې د خپل سر سلامتي غواړي د خپلو

Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



د کومې لورې کلا دروازه به چې خلاصه نه شوه، د هغې کلا خلکو به له ماتې خوړلو وروسته د دروازو له خلاصولو پرته بله چاره نه درلوده. چنګېز خان به چې څه ویل هغه به یې کول.

هغه به دغه ښار ته له ننوتو سره سم عام وژنه پیل کړه، خپلو سرتېرو ته به یې امر وکړ چې یواځې ځوانې او ښکلې جینکۍ ونه وژني، د ښار بل هیڅ کس درنه ژوندی پاتې نه شي.

په لومړي ښار کې دومره وینې وبهېدې چې د ټول ښار ځمکې سور رنګ اخستی و، په زرګونو ښکلې جینکۍ یو میدان ته راوړل شوې، هغوی په څو کتارونو کې ودرول شوې، چنګېز د خپلو څلورو زامنو او لوی سردارانو سره د اس پر سر د دغه جینکو له مخې تېرېدو، د وړو، وړو قد درلودونکې دغه سرې او سپینې چینایي جینکۍ سمبد نانځکو په څېر ښکارېدې، د هغه څلور واړه زامن او سردارانو په زړه کې ګوډې ماتولې چې هسې هم ټولې یو شان دي که هره یوه ور ورسپېرې قبلوي به یې؛ خو د هغوی ارمان به هلته پوره کېده چې د دوی لوی خان د خپلې طبعې جینۍ خوښه او له ځان سره بوځي..

چنګېز خان د جینکو د یو کتار له مخې تېر شو. جینۍ یې خوښه نه شوه، له دوهم، دریم او څلورم له مخې هم تېر شو؛ خو پر هیڅ جلۍ یې سترګې خوږې نه شوې ټولو داسې ځوانۍ او ښکلاوې درلودې چې د سړي توجه ځان ته راجلب کړي؛ خو د لوی خان یوه هم خوښه نه شوه، د خپلې خوښې د هر شي شوکوونکی دغه مغل سخت ضدي و. د دغه ضدي وحشي په مازغو کې فقط یوه ښځه سوره وه چې ده ته په لاس نه ورتله او د خپلې بورتایي په خاطر یې صبر کاوه. هغه ډېره هڅه کوله چې انجلۍ له زړه او ذهنه وباسي؛ خو هغې د ده له دماغو د وتلو هیڅ نوم نه اخیسته او د ده نارینتوب یې وار، وار بېداروه.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



دغه لوی خان کولای شو هره ښځه د مړی په څېر حلق ته تېره کړي، په قبیله کې د هغه څو ښځې وې چې هر وخت تیارې وې د دې غېږې ته خان وغورځوي او بیا په زرګونو ښکلې چینایي جینکۍ یې مخې ته کې ولاړې وې، ده کولای شو چې هره انجلۍ یې خوښه شي له ویښتانو یې ونیسي او خپلې خېمې ته یې کش کړي.

چنګېز خان له شینا څخه د محرومېدو ناکامی خوړولو. هغه هېڅکله په کومه معامله کې ناکام شوی نه و .کله، کله به یې په غوسه کې له خان سره فکر کاوه، هغه ولې نه راتښتوم؟ او که داسې نه کوم بیا خو به زه د یورجي ګوڼ د نسل ضدي بچې نه یم.

اخر ځل یې هم نهيلی سره په کتارونو کې ولاړې چینایي جینکۍ  بیا له نظره تېرې کړې بیا یې جوجي ته وکتل او ورته یې وویل (ماپسې راځه).

هغه اس ته ښپه ورکړه او له جینکو یو څه لرې ولاړ، جوجي هم خپل اس ور ورساوه، پلار ته مخامخ ودرېد او پوښتنه یې ترې وکړه: (خان بابا! څنګه پرېشانه ښکارې؟).

هغه جوجي ته په ږدو، ږدو سترګو وکتل او ویې ویل: (نه زما په پرېشانی ښه پوهېږې).

جوجي: (پوهېږم؛ خو که لږ وضاحت راته وکړې)...

چنګېز خان دغه زرګونو انجونو ته په لیدو سره وویل: ( دا جینکۍ خو وینې یو له بل ښایسته دي له دود سره سم په دې کې ستا حق یواځې یو جلۍ ده؛ خو که زه غواړم تا ته دوه، درې یا څلور هم په غنیمت کې درکولی شم).



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



جوجي له خوشالی نه وویل: (دا انجونې ډېرې ښکلې دي، که دوه دې راکړې دا به ستا لویه مهرباني وي).

چنګېز خان :(ما درته وویل چې څلور دې هم په نصیب کېدای شي؛ خو بس چې ته شینا ازاده کړې).

جوجي: (که ما له هغې سره اخوا دېخوا اړیکه درلوده؛ نو درکړې به مې وای، خو هغه زما ښځه ده، په راتلونکي کې به زما د بچو مور وي. زه له تا څخه هر څه قربانولی شم؛ خو دوه شیان نه چې یو یې زما ژوند او بله شینا ده).

چنګېز: (همدلته د سکه او ناسکه توپیر معلومېږي، زه مې چې خپلو درې واړو زامنو ته همدا اوس ووایم؛ نو خپل سرونه به زما لپاره قربان کړي).

جوجي: (زه هم ستا لپاره ژوند قربانولی شم؛ خو زما د مرګ سره سم به ته شینا خپلې خېمې ته دننه کړې).

لوی خان په حقارت سره وویل: (ته ډېر خوش باوره یې، هغه دې په ژوند هم درڅخه خپلولی شم او که ته مې د لارې ازغی شوې، تا هم وژلی شم، هېڅوک ما ته څه نه شي ویلی ځکه چې زه د ځمکې پر سر د هسک اسمان له خوا رالېږل شوی خلیفه یم).

جوجي: (بې له شکه ته هر څه کولی شې، خو ما نه شې وژلی، ځکه چې زما مور ستا لویه کمزوري ده، زما په وژلو به هغې ته څه خواب وایې).

له دې خبرې سره سم جوجي اس ته پښنه ورکړه او لاړ. د چنګېز خان سترګې له ډېرې غوسې نه تکې سرې واوښتې، دغه ناسکه زوی د مور په لستوني د ده له غچ څخه خان ژغوره.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



هغه لرې ولاړ، خپلو زامنو او سردارانو ته یې ورغږ کړل، په دوی کې کومه ښکلې پیغله زما خېمې ته راولېږئ.

د اس مخ یې بل لور ته کړ او ښېره یې ورکړه، په دغه ورخ هم د ناسکه پلار زوی ترمنځ خبره ډېره ګډه وډه نه شوه؛ خو داسې اثار ښکارېدل چې وروسته به ضرور څه بده پېښه کېږي او په دې کې به دواړو یا یو ته سخت زیان رسېږي.

چنګېز خان په ژوند کې اول ځل له دښتې ښځه بهر د متمدنې نړۍ پر یو واکمن برید کړی و او ستر بری یې په نصیب شوی و.

اوس له هغه سره د غلو داتو ډکې ګاډیانې وې، د ځارویو بلا شی رمې به ورسره روانې وې اوس د دغه مغلو شمېر له پنځه ویشت زرو اوښتی و او له بهره چې کوم سرتېري د دوی لښکر ته ورګډ شوي وو، هغوی هم اوس خانونو ته مغل ویل.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## پر مسلمانانو برید

چنګېز خان ټول شمالي چین فتح کړ، بیا یې هم زړه مطمئن نه و، د هغه په تقدیر کې لیکلي وو چې په لویدیځو هېوادونو به هم د خپل برې جنډه رپوي. د دغه لوی خان له سوداګرۍ سره دلچسپي پیدا شوې وه، یو شمېر سوداګر هغه ته راتلل او د نورې نړۍ په هکله به یې ورته عجیبه، عجیبه خبرې کولې داسې نوې، نوي او عجیب و غریب شیان به یې ورته راوړل او پر دوی به یې پلورل چې هغه یې د بهرنۍ نړۍ لېدو ته لېوال کړی و..

هغه خپل څینې سرداران له څو سوداګرو سره نږدې لویدیځ سلطنت ته ولېږل. د هغه ځای واکمن سلطان جلال الدین خوارزم شاه و، د هغه حکومت قلمرو له سمرقند څخه نیولې تر بخاره پورې غځېدلی و، سلطان خوارزم شاه پر خپل پوخې ځواک او پراخه سلطنت ډېر نازېده هغه چې کله خبر شو د شمالي واورینو سیمو وحشي او غیر متمدن ژوند درلودونکي سوداګر له دوی سره د سوداګریزو اړیکو د فعالولو په خاطر راغلي؛ نو خپلو استازو ته یې وویل: (دغه ځنګلیانو به لا څه شی راوړی وي؟ دوی خو د



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



لوټ مار او شوکو له لارې خپلې خېټې ډکوي، کور درګاه نه لري او تل کډې په سر ګرځي. له دوی سره خپل وخت مه ضایع کوئ).

سلطان د ښار امیر ته امر وکړ چې له دغه سوداګر سره په خپل طرز وچلېږي او بېرته یې وشړي، د ښار امیر همداسې وکړل، یو مغل سردار او هغوی سره راغلي ټول سوداګر یې ووژل. له ټولو یې مال اسباب واخیستل او پاتې کسانو ته یې امر وکړ: (ځئ ورکېږئ، تاسو د دې لپاره ژوندي پرېږدو چې هغوی ته ووایئ چې موږ متمدن او برتر خلک یو، زموږ د شان او شوکت په وړاندې ستاسې حیثیت د چنجیو په څېر دی، له تاسې سره هېڅ ډول اړیکې نه شي نیول کېدای).

چنګېز خان که څه هم پر شمالي او جنوبي چین له برید څخه وروسته نور هم ډېر څه ترلاسه کړي وو؛ خو یو ستر عالم په لاس ورغلی و چې لیوچت سایې نومېده دی د ریاضي د علم پوه وه او په جنتري جوړولو کې یې نوې تجربې کړې وې، د ستورو پر چالونو په ډېر وضاحت او مهارت سره پوهېده، چنګېز خان له دې څخه اغېزمن شوی و او هغه یې تل له ځان سره ساته.

هغه سرداران چې د سلطان جلال الدین له سلطنت څخه ژوندي راستانه شوي وو، ټوله کیسه یې دوی ته وکړه، د کیسې اورېدو سره سم د چنګېز خان قهر د غضب تر حالته ورسېده، له ډېرې غوسې څخه لړزې ونیو، سرتېرو ته یې امر وکړ چې سمدستي په وسلو سنبال او ځانونه اسونو ته ورسوي چې سبا حمله کوو.

هغه په سبا روانېدل غوښتل، په دې وخت کې له غرونو څخه د واورو غونډسکي راوغورځېدې چنګېز خان له لیوچت سایي څخه پوښتنه وکړه دا



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



کار څنګه وشو؟ فوراً فال وګوره او راته ووایه چې په لومړي څل پر کوم لویدیځ هېواد د برید کولو لپاره دا موقع سمه ده که نه؟

لېوچت سايي وویل: (دا ښه موقع ده، د دې مطلب دا دی چې د یخو شمالي سیمو حاکم د ګرمو جنوبي سیمو د پاچایانو په خلاف فتوحات حاصلوي).

چنګېز خان د دغه وړاندوینې په اورېدو ډېر خوښ شو او لیو چت سايي ته یې وویل: (خو دا به ښه وي چې د غربي هېوادونو په هکله لومړی سمې معلومات ترلاسه کړو او بیا پرې برید وکړو).

هغه د چین پاچا ته د چین له دېوال څخه اخوا ماتې ورکړې وه. دا څل د مسلمانانو نوی څواک او سلطنت د غرونو له دېوالو اخوا و. چنګېز خان یو څه وخت صبر وکړ، د خپلو جاسوسانو په وسیله او له بهرنیو هېوادونو څخه د راغلو سوداګرو څخه یې د هغه ځای په هکله بشپړ معلومات ترلاسه کړل. له هغې وروسته یې په اول څل خپل ټول پوځي څواک د لویدیځ په لور روان کړ، خانونه یې د یو لوړ غره څوکې ته ورسول. لاندې د ښکلو او زړه راښکونکو جوماتونو منارونه ځای ځای ښکارېدل، د اذان د ازانګو نرۍ، نرۍ غږونه دغه څوکې ته رسېدل.

چنګېز خان له یو سوداګر څخه پوښتنه وکړه: (هلته دا څینې خلک دومره لوړې چیغې ولې وهي؟).

سوداګر وویل: (دا چیغې نه عبادت دی. دا له خالق څخه د مسلمانانو د غوښتنو طریقه ده.).



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



چنګېز خان: (که موږ هلته ورسېږو هغوی به عبادت کوي؟ د عبادت په وخت کې د هغوی سره وسلې وي؟ ایا هغوی پر اسونو باندې عبادت کوي؟).

سوداګر: (نه، هغوی د عبادت په وخت کې هېڅ ډول وسله نه ساتي).

سوداګر یو لور ته په ګوته اشاره وکړه او خبرو ته یې دوام ورکړ: (ټول مسلمانان د کعبې لور ته ودرېږي، په سر ټیټولو سره عبادت کوي او ټول یو لور ته سجده کوي).

چنګېز خان بیا پوښتنه وکړه (ایا دوی ټول خپل سلطان ته سجده کوي؟)

سوداګر (نه، ټول د یو خدای په وړاندې سر ټیټوي او هغه خدای په سترګو نه ښکاري).

په دې خبره د لوی خان سر خلاص نه شو هغه وویل: (دا لا څه خبره شوه، د دوی په وړاندې هېڅوک نه وي او دوی خامخا سجدې کوي؟).

بیا یې خپلو زامنو او سردارانو ته وویل: (ورځئ، موږ به یې سرونه ورڅخه پرې کړو او پوښتنه به ترې وکړو چې د کوم خدای په وړاندې سجدې کوئ؟ او اوس به په پرې شوو سرونو څنګه سجده کوئ؟)

ټولو سرتېرو ته اسونه خوشي کړل د خوارزم سلطان او د هغه پوځ توقع درلوده چې د هغوی د سیالی لپاره داسې وحشیان راروان دي چې نه متمدن دي او نه په جنګ پوهېږي.

د خورازم پاچا فکر کاوه چې دغه وحشیان به یواځې برید وکړي او له لوټمار څخه وروسته به وتښتي؛ خو کله چې منظم برید پرې وشو ورته معلومه شوه



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



چې دغه وحشیان کلونه کلونه جنګېدلي وو. هغوی دومره کلک وو چې له خوراک پرته هم څو ورځې جنګېدلای شول؛ خو د جنګ ډګر به یې نه پرېښود او څو کسه به یې ضرور وژل.

د خورازم شاه د سرتېرو شمېر له مغلو څخه ډېر زیات وو؛ خو مغل د ډېر منظم پلان لاندې جنګېدل کله، کله به داسې په شاه شول لکه له ماتې وروسته چې په تېښته شي، د زرګونو په شمېر مسلمانان سرتېري به ورپسې لاړل؛ خو کله به چې د بېرته راستنېدو په وخت کې مغلو پرې له هر اړخه برید وکړ، ایله به یې سر خلاص شو چې څه ډول د دښمن دام ته غورځېدلي، مسلمانان له دې وړاندې هېڅکله داسې جنګ سره نه وو مخ شوي، په څو اوونیو کې د هغوی پښې وښوېدې سلطان جلال الدین وتښتېد، مغلو ورپسې تر ډېره ورغلل ؛ خو هغه په لاس ورنغی.

له سلطان سره یو شمېر سرتېري هم تښتېدلي وو، کومو سرتېرو چې له ماتې خوړلو وروسته وسلې وغورځولې هغوی ونه ښښل شول، د چنګېز خان دا اصل و چې مقابله کوونکي یې نه ښښل، د هغه بې رحمه سرتېرو پر یو، یو کس باندې د مرګ کرښې کاږلې. د زرګونو سرتېرو له وژلو وروسته چې د ښاریانو وار شو؛ نو هلته سم دم قیامت نازل شو.

چنګېزیانو ښاریان د ښار له دېوالو څخه وویشتل هغه ټول کاریګران چې یې د دوی په کار راتلای شول ترې بېل کړل له دې وروسته ټول لښکر د تورو، نېزو او تېرونو سره د انسانانو هجوم ته ورننوتل. بیا یې د هغوی داسې وژل پیل کړل لکه سرې چې پوخ فصل ربیي.

د ښځو د چغو اوازونو ټوله فضا کې ازانګې وهلې هغوی به الله الله ویل او وحشي قاتلانو به یې په خواب کې الله الله ویلو سره پر دوی ریشخند واهه،



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



ډېر کم وحشیان داسې وو چې د تورې پر نوک به یې خلک وژل. که نه یې زیاترو په ډېر خوند سره وژنې کولې، هغوی به چې کومه ښځه یا سړی ونیو؛ نو له وینتو به یې کش کړ بیا به یې پر تبر داسې کلک وواهه چې د ملا هډوکی به یې په ډېرې اسانۍ سره مات شو، که کوم سړي به څه لږ ډېر مزاحمت وکړ؛ نو پر سر به یې د تبر گوزار ورکړ او کوپړۍ به یې ورته ټوټې، ټوټې کړه، د وژلو په وخت کې به دغه وحشیانو له خوښۍ نه چیغې او توپونه وهل، له دې یې داسې خوند اخیست چې گوندې هغوی کوم قتل نه کوي بلکې کوم خوندور خواړه خوري او د ترخو شرابو په څکلو سره مستېږي، په همدغه مستیو کې هغوی د انسانانو د مړو انبارونه جوړ کړل.

دغه وحشیان پر وینو سرو نېزو، تورو او تبرونو سره مخ پر وړاندې لاړل او نېشاپور ته ورسېدل. کله چې پاچا تښتېدلی وي؛ نو پوځ به څنگه ټینگ پاتې شي؟ هلته هم د سرتېرو پښې وښوېدې، لغړو تورو، نېزو او تبرونو په دې ښار کې هم د قتل او لوټمار بازار گرم وساته. مورخین لیکي چې دغه ښاورو انسانان خو څه کوې سپي او پیشوگانې هم ژوندي نه پرېښودل.

تر لږې پرتو سیمو د دوی د ظلم، وحشت او بربریت کیسې رسېدلې وې، دغه وحشي مغل به چې هر لور ته روان شول د هغه ځای خلکو به خپلې مېنې خالي کړې او ځانونه به یې ځنگلونو ته رسول، پر دغه خلکو د مغلو یواځې خان به یې یو، یو کس وواژه؛ خو هېچا کې داسې جرائت نه و چې د خیرات په غوښتلو، غوښتلو د مرگ انجام ته ورسېدل.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



د هغوی د وېرې کچه له دې کیسې څخه په ښه ډول څرګندېدای شي، چې وایي یو ځل یو مغل سرتېري یو کور ته د کور د غړو د وژلو په خاطر ورننوت، دغه سرتېری سخت وږی و تر هر څه وړاندې یې د کور استوګنو ته وویل: (لومړی راته ډوډی راکړئ بیا به مو ووژنم).

هغوی ټول له وېرې لړزېدل، که څه هم په کور کې دوه درې زلمیان هم وو، له هغوی سره وسلې نه وې. د ځوانانو څخه یو پر هغه مغل حمله وکړه؛ خو د مغل د توري له یو ګوزار سره پر ځمکې وغورځېد. لنډه دا چې دغه مغل سرتېري په ارام سره ډوډی وخوړه، اوبه یې وڅښلې او بیا یې د کور ټول اوسېدونکي ووژل.

چنګېز خان خپلو سرتېرو ته امر وکړ چې په خپل طرز کې لږه تبدیلي وکړئ. اوس چې کوم خلک مقابله ونه کړي هغه بندیان کړئ په راتلونکي کې مو په کارېدای شي.

کله چې مغلو بخارا محاصره کړه؛ نو چنګېز حکم وکړ اوس دغه اسیران خپل سپر وګرځوئ، چې مخکې لاړل له کلا څخه به غشي راورېدل او همدغه بندیان به پرې لګېدل، یانې کلا بنده مسلمانانو هم پر خپلو مسلمانانو تیرونه اورول او مغل برید کوونکي د هغوی شاته خوندي وو، هغوی څو ورځې سخته محاصره وساتله، د کلا دننه خوړو او غلې کمې شو، د خوراک څښاک د موادو قحطي شوه؛ نو د کلا خلکو د سر د امان غوښتلو په خاطر وسله وغورځوله او د کلا دروازه یې خلاصه کړه؛ خو افسوس چې بیا هم ټول ووژل شول.

دغه وحشیانو د سرتېرو له وژلو وروسته بې ګناه ښځې، سړي او ماشومان هم په ډېره بې رحمۍ ختم کړل. هغوی بواخې په همدې خبره پوهېدل چې



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



کولای شي په وژنو او لوټمار د لویدیځو هیوادونو پر حکمرانانو او عام ولس خپله ویره خوره وساتي.

چنګیز خان د خپل محافظ کنډک سره د اسونو پر سر یو جومات ته ورننه شو؛ دا وخت مسلمانانو د مازیګر لمونځ کاوه، وحشیان د (هو، ها هو ها) په اوزاونو اوچتولو جومات ته ننوتل او پر لمونځ کوونکو یې ورمنډه کړه؛ یو لمونځ کوونکي هم له خپل ځایه ونه خوځېده، هغوی ټول ګونډې وهلې ناست وو او التحیات یې وایه.

چنګیز خان په حیرانۍ له خپل یو سردار څخه پوښتنه وکړه: (ایا لمونځ کوونکي ژوندي دي؟ یا یې ځانونه مرګ ته چمتو کړي، که ژوندي وي د سر ساتلو لپاره ولې نه تښتي؟)

د دې سوال ځواب له هیچا سره نه و، ټولو د (هوها، هوها) غږونه کول او اسونه یې ځغلول، را ځغلول په تورو او نېزو یې ګوزارونه کول. چنګیز خان خپل اس ودراوه هغه تر اوسه فقط جنګیالي، مغلوبېدونکي او د رحم خیرات غوښتونکي کسان لیدلي وو. په دغه ورځ یې په لومړي ځل د داسې عبادت کوونکو منظر لیده چې په ډېره بې رحمۍ وژل کېدل؛ خو له خپل ځای څخه هم نه خوځېدل، هغوی خپل ځانونه په دې یقین سره د الله تعالی رضا ته پرېښي وو چې د عین عبادت په وخت کې به ورته د شهادت درجه ور نصیب کېږي).

چنګیز خان لاس پورته کړ او په چیغو یې وویل: (بس ودرېږئ او له دې ځایه ووځئ).



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



هغوی ټول له جومات څخه راووتل. لوی خان چې شانه وکتل په مخکې صفونو کې ولاړ کسان لا هم ژوندي او تر اوسه په خپل عبادت بوخت وو، هغه له خپلو سرتېرو څخه پوښتنه وکړه (په ژوند کې تر ټولو اطمنان بښونکی کار کوم دی؟).

یو سردار له سوچ څخه وروسته ځواب ورکړ: (په چټک اس باندې ښکار کول چې ټول چمن شین وي او پر لاس دې باز ناست وي).

چنګېز خان د نه په اشاره سر وخوځاوه: (نه، د انسان د خوښۍ تر ټولو ښه موقع هاغه ده چې دښمن دې مات کړی وي او دښمن د خپل ژوند د ژغورلو لپاره په تېښته وي).

د هغه سرتېرو وویل: (بې شکه کله چې زموږ دښمن له ماتې وروسته زموږ څخه د رحم خیرات غواړي؛ نو سخت خوند راکوي).

چنګېز وویل: (خو نن مو دا خوښي په نصیب نه شوه، ما په خپل ژوند کې په لومړی ځل داسې منظر ولید چې ما پر دښمن باندې اسونه وځغلول؛ خو هغه مې تباه او برباد نه کړ. د دوی په زړونو نه زموږ وېرې او نه د مرګ ډار تاثیر وکړ، ایا عبادت همداسې شی دی چې د دوی له زړونو څخه ډار وباسي؟)

د هغه سوال ځواب له هېچا سره نه و، هغوی نه مذهب پېژانده او نه یې مانه. په چین کې یې پر بت پرستو حملې کړې وې، په بېلابېلو سیمو کې یې عیسویان هم د توري له تېغه تېر کړي؛ خو داسې منظر یې په هېڅ ځای کې نه و لیدلی. له هغه ځایه چې راستون شو، کله کله به یې له ځان سره فکر کاوه چې دا عبادت څه شی دی او خدای څه شی دی؟ د سره لیدل کېږي نه خو د هغه په وړاندې سجده کوونکي له مرګه بې نیازه کېږي.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



د جومات پېښې هغه سخت متاثره کړی و، د مسلمانانو او د هغوی د دین په هکله یې تلوسه پیدا شوې وه، په بخارا کې یې د قران کریم له قاریانو څخه بېلابېلې پوښتنې وکړې. د اسلام تعلیمات یې خوښ شول؛ خو د حج په مسئله یې سر خلاص نه شو، چې دا مسلمانان د عبادت کولو لپاره د بیت الله طواف ولې کوي؟ او یو لور ته لمونځ ولې کوي؟)

په دغه معاملو د نه پوهېدو سره سره بیا هم د موذن اذان او په قرات سره د قران کریم تلاوت په هغه ډېر خوږ لگېدل. د څه نه پوهېدو با وجود هم هغه د دغه سپېڅلو ایاتونو او اوازونو تر تاثیر لاندې راته، په دغه مقدسو اوازونو کې یې د معجزې په څېر قوت محسوساوه چې د ده له پوهې او ادارک څخه اوچته خبره وه اما دومره ضرور پوه شوی و چې په دغه سپېڅلو اوازونو کې داسې طاقت شته چې د انسانانو زړونه تسخیروي.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## د بوډاتوب نښې

کله چې د بوډاتوب له کبله د هغه بدن په کمزورېدو شو؛ نو فکرمن شو او شامانان او جادوګران یې راوغوښتل: (لاړ شئ او له هسک اسمان سره وغږیږئ، زما د کمزورۍ د خطر مخه ونیسئ او بېرته مې د پخوا په شان غښتلي کړئ). په دې لړ کې یې مسلمان علماء هم راوغوښتل او ورته یې وویل ستاسو په عبادت کې ډېر پوخوالی دی، تاسې له مرګ څخه وېرېږئ خپل خدای ته ووایئ چې ما ته دې مرګ رانه کړي او زما د ورځ تر ورځ مخ پر زیاتېدونکې کمزورۍ مخنیوی دې وکړي).

علماؤ ورته وویل: (د دې دنیا هر یو شی فاني دی، تر تا وړاندې هم ډېر مېړني او سرزوري خلک پیدا شوي او فنا شوي دي، د عمر په وروستۍ برخه کې کمزوري لازمي خبره ده. سړی ځوانی کې ډېر غښتلې وي بیا ورو، ورو کمزوری کېږي، د کمزورۍ تر ټولو وروستۍ مرحله او اخري ټکی مرګ دی).

له دې وروسته یې له یو چینایي پوه چانګ چو څخه پوښتنه وکړه ته راته داسې نسخه ویلای شې چې زما عمر پرې ډېر شي؟).

چانګ چو وویل: ( د ژوند د ساتلو طریقې شته؛ خو د تل لپاره د ژوندي پاتې کېدو هېڅ دوا نشته).

چنګېز پوښتنه وکړه: (ایا د کمزورۍ لرې کولو او توانایي حاصلولو کومه دوا شته؟)



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



چانګ چو: (د توانائي حاصلولو طريقې هم شته، که ډېرې ورځې ژوند غواړې؛ نو يواځې خمله، دا همېشه په ياد ساته چې د بسترې ملګرې ښځه تر سهاره له سړي څخه يو څه توان وړي او سړی پرې پوه هم نه وي).

لوی خان دا ومنله چې کله بوډاتوب او کمزوري پر سړي غالبه شي؛ نو د غښتلتيا پر لورې تولې دروازې بندې شي، هسې هغه دومره کمزوری هم نه و چې د نورو خلکو په څېر د کټ او بسترې شوی وي، تر اوسه يې اس څغلولی شو، که څه هم تر ډېره وخته د جنګ په ډګر نه شو ټينګېدی؛ خو په يو ځای کې يې خپلو خامنو او سردارانو ته لارښوونې کولای شوې.

بورتايي ورته يوه ورځ په ډېرې مينې وويل: (تموچينه! په ژوند هېڅ باور نشته، زه غواړم چې زموږ له مرګ څخه وړاندې دې زما له زوی سره انصاف وشي).

هغه وويل: ( نه مې مخکې له هغه سره بې انصافي کړې ده او نه به يې په راتلونکې کې کوم، هسې دا به ښه وي چې زه په ژوند خپل ټول زامن د بېلو، بېلو سيمو حکمرانان وټاکم، زه په دې لړ کې غواړم له جوجي سره يواځې په يواځې وغږېږم).

بورتايي له خېمې د باندې ووتله او جوجي يې خېمې ته ولېږه، هغه ورته لاس پر سينه مخامخ ودرېده، لوی خان وويل: (ستا مور غواړي چې زه له تاسره انصاف وکړم، د کومې سيمې حکمران دې وټاکم، سر له نن نه ته د شمال لويدځو سيمو مالک يې، ته کولای شې له خپلو سرتېرو سره هلته واړوې).

جوجي په سر ټيټولو سره وويل: (ته پر ما مهربانه يې، زه درڅخه منه کوم).



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



چنګېز: (زه مې درې واړه زامن هم د مختلفو سیمو مالکان او حکمرانان ټاکم؛ خو له ما څخه وروسته به یواځې یو لوی خان وي، نور درې واړه به د هغه د احکاماتو پابند اوسي).

جوجي: (ستاسې چې هر یو خوښ وي کولای شئ چې د دې منصب لپاره يې نامزد کړئ؟).

چنګېز :(زه غواړم دا اعزاز او منصب تا ته درکړم، بس زما یوه خبره ومنه).

جوجي سر پورته کړ او ويې ويل: ( زه دې ته حیران یم، چې ته څومره ضدي انسان يې؟ تر اوسه پورې زما په ښځې پسې يې. له هغه وخت راهیسې دولس کاله تېر شوي دي، په تا کې څه دم پاتې دی؟ دومره توان نه لرې چې له سهاره تر ماښامه د اس پر زین کېنې).

چنګېز: (بیا هم کېناستی شم، تر لرې، لرې اس له څغلولو بېرته راوستی شم، دولس کاله تېر شول، پرېږده چې نور هم تېر شي. سړی تر هغې هېڅکله نه زړېږي چې ارادې يې قوي او حوصلې يې ځواني وي، زما پر حوصله او ارمان خان پوه کړه، زه فقط هغه یو ځل لمس کول غواړم، هغه د یو هډوکي په څېر زما په ستوني کې بنده ده، تر څو چې دا هډوکی زما له مرۍ څخه ونه وځي تر هغې به د لوی خان ساه ونه خېژي).

هغه هېڅ ځواب ورنه کړ، په شاه او بېرته روان شو، لوی خان وویل: (چېرته ځې؟ ځواب راکه، تا له هغې سره ډېر زیات وخت تېر کړ، اوس يې زما لپاره ازاده کړه).

جوجي پرته له کوم ځواب ورکولو په غوسه بهر ووت او بیا هېڅکله راستون نه شو، د خپلو پوځي ملګرو سره جنوب لویدیځو سیمو ته لاړ. د چنګېز



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



نیمګړی ارمان هماغسې پاتې شو، په زړښت کې هغه یو څه کمزوری شوی و، د پخوا په څېر زغم یې نه درلود، له غوسې څخه یې چغې کړې: (ژوندی به راڅخه پاتې نه شي، دا زما د دښمن اولاد دی، دی تر اوسه ما سره دښمني کوي، زه به یې ژوندی پرېنږدم).

بورتایي دنه راغله، هغه یې پوه کړ او دومره شراب یې ورکړل، چې له مدهوشی څخه د غفلت پر خوب ویده شو.

څه موده وروسته چنګیز خان د ټولو مغلو قرولتایي (جرګه، پرلت) راوغوښت. د هغه هرې خبرې د حکم درجه درلوده ټول مغل سرداران حاضر شول، درې واړه زامن یې هم راغلل؛ خو جوجي نه و، هغه یو استازی راولېږلو چې دوی ته ووایي ناروغ دی.

تر اوسه هېچا د لوی خان له حکم څخه سرغړوای نه و کړی. هغه قاصد چې د جوجي د ناروغی خبر یې راوړی و، له لوی خان څخه سترګې چپولې چنګیز پرې شکي شو، قاصد ته یې وویل: (که غواړې ژوندی و اوسې رښتیا ووایه، که د جوجي څخه درته خطر وي نو موږ به پناه درکړو ووایه چې هغه رښتیا ناروغ دی؟).

قاصد وویل: (تا ما ته د سر امان راکړ زه به اوس له دې ځایه نه خم څکه چې رښتیا وایم، کله چې زه دلته راتلم زموږ سردار جوجي ښکار ته روان و).

دا د حکم ښکاره سرغړاوی و، هغه دروغ ویلي وو چې ناروغ دی، لوی خان ته یې دوکه ورکړې وه، لوی خان نورو زامنو ته وویل: (فوراً روانېږئ، جوجي چې هر چېرته وي ویې نیسئ، که ژوندی په لاس درنغي؛ نو ویې وژنئ او کونده یې ترې دلته راولئ).



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## د بورتايي مړینه او د ارمان پوره کېدل

بورتايي له خپل مشر زوی سره بې کچې مینه درلوده، همدې بچي په اول خل مور کړې وه، د ده لپاره جذبې یې د نورو څخه بېخي جلا وې.

بورتايي تل له خان سره دا اندېښنه ګرځوله چې لوی خان ضدي او سرزوری دی، هغه د یوې ښځې ترلاسه کولو لپاره د دې زوی وژلی شي. هغې د کلونو راهیسې خپل زوی د خان له قهر او سختو ګامونو څخه ژغوره؛ خو د خپل زوی جوجي سرغړاوي او بغاوت ورته یقین ورکړ چې لوی خان به د هغه جرم هېڅکله ونه بښې او کله یې چې دا خبر واورېد چې د زوی د نیولو او وژلو حکم یې صادر شوی؛ نو دغه خبر مور بلې دنیا ته ولېږله.

د بورتايي مرګ چنګیز خان ته سخته صدمه ورسوله. د هغې د ښخولو او وروستیو مراسمو په وخت کې هغه په زړه، زړه کې وویل: (اه بورتايي! ما ستا په خاطر تر اوسه نا لمس کړې ښځه لمس نه کړای شوه، که ته دولس کاله مخکې مړه شوې وای؛ نو په زړه کې به مې دغه ارمان پاتې نه و. په لومړي خل مې چې هغه لیدلې او خوښه شوې وه، د جوجي په وژلو مې خپلولای شوه اه بورتايي، تا د خپل زوی د سلامتی په خاطر زما د ځوانی او طاقت بهترین کلونه له خان سره یوړل).

د هغه درې واړه زامنو جوجي ناسکه ګاڼه او له هغه څخه یې کرکه کوله. فقط د خپلې مور په خاطر یې هغه خپل مشر ورور باله، کله یې چې پلار ورته د هغه د سر کوبولو امر وکړ؛ نو درې واړه یې د محاسبې لپاره روان شول.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



هغوی به د خپل پوخ سره د ورځې مزل او د شپې لخوا ارام کاوه، په دې ډول اوه ورځې وروسته هغه سیمې ته ورسېدل چېرې چې که جوجي په لاس ورغلی وای خدای خبر څه به یې ورسره کړي وو؟ خو قدرت ته دا منظوره نه وه، د دوی له رسېدو مخکې هغه هلته په طبیعي مرګ مړ شوی و.

هلته په رسېدو سره د درې واړه ورونو سرونه ټیټ شول. شینا د جوجي پر مرګ ماتم کاوه.

تورو سردارانو وویل: (لوی خان ته دې د زوی د مرګ اطلاع ورکړل شي).

د لوی خان زوی چغتایي وویل: ( د اطلاح ورکولو هېڅ ضرورت نشته، هغه دې بنځ کړل شي. موږ به یې کونډه له خان سره یوسو).

ټولو سردارانو وویل: ( دا د رواج خلاف خبره ده، کونډه به دلته لس ورځې ماتم کوي، بیا به ځي).

هلته لوی خان په ډېرې تلوسې سره انتظار کاوه چې د جوجي د وژلو خبر ورشي او شینا ورته راورسېږي؛ خو د توقع خلاف دا خبر راورسېد چې جوجي په طبعي مرګ مړ شوی دی او د هغه ځای ټولو سردارانو پرېکړه کړې ده چې له دود سره سم به تر لس ورځې ماتم کولو وروسته هغوی وکولای شي شینا له خان سره هلته بوځي.

چنګېز له ډېرې غوسې نه غابونه سره وچیچل او له خان سره یې وویل: (ای پر کتیه! که مخکې مړ شوی وای څه پروا یې کوله؟ مور دې او تا لکه چې له وړاندې دا پرېکړه کړې وه چې کله بوداتوب او کمزوري پر ما غالبه شي بیا به له دې دنیا رخصتېږې).



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



خپلو زامنو ته یې پیغام ولیږه: (د سردارانو خبره ومنئ شینا لس ورځې ماتم کولو ته پریږدئ. له هغې وروسته یې فوراً د مکریت قبیلې لور ته راولئ ځکه چې د هغې قبیلې سردارانو بیا بغاوت کړی دی، زه یې د ټکولو لپاره ورځم).

هغه له خپل پوځ سره د باغیانو په خپلو پسې روان شو. اوس یې په دې خبرې تر بوه حده سر خلاص شوی و چې د زړښت له پیل سره سم د انسان زوال شروع کیږي او انسان پاتې ژوند د تقدیر پر رحم او کرم تېروي.

له هغه سره همدغه معامله وه، هغه وغوښتل چې شینا ترلاسه کړي؛ خو د هغه نه شوه. هغه که څه هم خپلې بورتایي ته مرګ خو نه غوښت اما زړه یې دا ضرور غوښتل چې د ناسکه پلار زوی ترمنځ را ونه لوېږي، یا یې لږ تر لږه دا غوښتل چې یو نه یو ډول جوجي مړ یا ووژل شي؛ خو تقدیر د دې اجازه هم ورنه کړه هغه ته داسې ښکارېده لکه اسمان چې ترې خپه شوی وي او که پرې مهربان شوی هم وي؛ نو ډېر وروسته هغه نالیدلې څواک د بورتایي او جوجي په ورکولو کې ډېر ناوخته کړی و.

چنګېز خان مکریت قبیلې ته له رسېدو وروسته له هغوی سره په جګړه کې بوخت شو، هغه ښه پوهېده چې د پخوا په څېر په خپله تووله ورځ نه شي جنګېدی، خپله به شاته شو او نور سرداران به مخکې له باغیانو سره جنګېدل.

د هغه سرتېرو ورته زاری او منتونه کول چې دی باید په خېمه کې استراحت وکړي، هغه تر ځلورو ورځو پورې د هغوی خبره ونه منله ترڅو چې ناروغی خپله پر بستر وغورځاوه، له دې وروسته له خپل ځایه د پورته کېدو توان په کې پیدا نه شو، سرتېرو به یې کېناوه، خوراک څښاک به یې ورکاوه او ورته



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



ويل به يې چې د باغيانو زور مات شوی او ډېر زر به وسله وغورځوي، بېچاره به شپه او ورځ په پټو سترګو په بستره پروت و.

خو ورځې وروسته دا زېرې هم راغی چې باغيان خپل انجام ته ورسېدل او دوی ته برې ور په نصيب شو؛ خو له دې خخه هم لوی زېری دا و چې د هغه درې واړه زامن سره د شينا راغلل.

چنګيز چې سترګې خلاصې کړې او شينا ته يې وکتل؛ نو نظر يې تت او سمه ورته نه ښکارېده، چې په سپين لباس کې د خېمې په دروازه کې ولاړه وه. آه څه بد نصيبي وه چې سمه ورته نه ښکارېده .هغه څوک چې ده يې کلونه، کلونه د لمسولو ارمان درلود، ورو، ورو د ده خواته راروانه او اوس هغه د ده په لاس کې وه.

چنګيز تقريباً ټوله دنيا فتح کړې وه، خپل هر ارمان يې پوره کړې و. فقط همدا يو ارمان يې پاتې و.

قسمت کې خوبي ديکهی توټي کها کمند

دو چار هات جب کې لب بام ره ګيا

د شينا د لمسولو لپاره يې لړزنده لاس پورته کړ، اوس د هغې د لمسولو پر وړاندې کوم خنډ هم پاتې نه و؛ خو په همدې وخت کې لوی خان يې دمه شو، پر بستره پرېوت او ارمانجنه مړی يې يو لور ته خوړند پاتې شوه.

...



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor

## د شالید سرچینې

- چنګیز خان، مایکل هونګ
- شیطاني شهسوار، جمیز چیمبرز
- د حتیغ توپان، رابرټ مارشل
- د تاتاریانو یلغار، هېرلډ لیم

Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor

NASRAT
LIBRARY
نصرت کتابتون

